


# تفسیر سورۃ فاتحہ و اُصول تفسیر

(پشتو)




من افادات

ابومعاویہ مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

ضبط و تحریر

مولانا عبدالباری صاحب



العلم پبلیکیشنز

عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر

091-2580325 - 2590315

# فهرست مضامین


- مقدمه، مختصر اصول تفسير 1
- دتفسيرضروری اصطلاحات 1
  - دعوی یاموضوع 1
  - تنوير 1
  - دليل 1
  - تخويف (ترهيب) 1
  - بشارت دنيوی 2
  - بشارت اُخروی 2
  - تسلی 2
  - ترغيب 2
  - تشجيع 2
  - تزهيدمن الدنيا 2
  - زجر 2
  - تنبيه 2
  - اُمورانتظاميه 3
  - اُمورمصلحه 3
  - ادخال الهی 4
  - براعة الاستهلال 4
  - ادّماج ( اِدْماج،اندماج) 4
  - اعادۂ برائے بعدعهد 5
  - د ګمراهئ درجات 5
  - ربط القلب او دهغے درجات 6

- اصول تفسیر 8
- **د تعارفِ قران متعلق پنځه خبرے** 8
  - (۱)اسمآء القرآن 8
  - (۲)تعریف القرآن 9
  - ( ۳) حکمتِ نزول قران 12
  - (٤)موضوعِ یادعویٰ دقرآن 14
  - (٥) تقسیم قرآن 16
- تعارفِ سُورِ قران 18
  - (1)خلاصۂ سورقرآن 18
    - (۱)دسورت مصحفی اونزولی ترتیب 18
    - ( ۲ ) دسورت ربط 19
    - ( ۳ ) دسورت امتیازات 19
    - ( ٤ ) دسورت دعوی 19
    - ( ٥ ) دسورت تقسیم یاحاصل دسورت 19
    - (۷ ) دقرآن مضامین 19
- دعوی 20
- دلائل 20
  - ( ۱ ) دلیل عقلی 20
  - (۲ ) دلیل نقلی 21
  - ( ۳ )دلیل وحی 21
  - ( ٤ ) دلیل حلف 21
- دقرآن مخاطبین اوطرزخطاب 22
- **دمشرکینواقسام** 23

- توحیداودهغے اقسام 24
- دتوحیدعنوانات 25
- دتوحیدقسمونه 25
- شرك 28
- تعریف د شرك 29
- دشرك قسمونه 29
- دقرآن باقی مضامین 35
  - صدق الرسول 35
  - صدق القرآن 35
  - الایمان بالاخرة 36
  - الجهادفی سبیل الله 36
  - الانفاق فی سبیل الله 36
  - التنظیم 36
  - الاداب 36
- سورة الفاتحه 38
- اهمیت اوفضلیت دقرآن 38
- اداب دقرآن 40
- اهمیت اوفضیلت د سورة فاتحه 46
- د تعوّذ تحقیق 50
- د شیطان نه پناه غوښتل ولے؟ 51
- د تعوذ حکمت 54
- تعوّ ذ (پناه غوښتل ) څه ته وائی ؟ 55
- د تعوّذ فضائل 56

- د تعوّذ موا قع 56
- مقصداوحکمت دبسم اللّٰه 60
- د بسم اللّٰه فائده 62
- دَ بسم اللّٰه د باء معنی 62
- احکام دبسم اللّٰه 63
- د بسم اللّٰه فضیلت 63
- په بسم اللّٰه کښې یو نکته 64
- د حرف باء تحقیق 66
- دتسمیې متعلق دیوغلط رسم اصلاح 67
- لفظ د سورة تحقیق 69
- دسورتونو تعداد 69
- د سورتونو اقسام 69
- مکی او مدنی سورتونو کښې فرق 70
- دمکی او مدنی سورتونو پیژندګلو 70
- سورة فاتحه کښې څومره اٰیتونه دی؟ 71
- دسورة فاتحې نومونه 72
- تمام قرآن فاتحه کښې 72
- دهرسورت متعلق څواهمې خبرې 76
- خلاصه د سورة فاتحې 78
- ترتیب 78
- ربط 78
- وجهٔ تقدیم 78
- امتیازات 79

- دعوی د سورت 79
- مقصد او حاصل دَ دے سورت د حدیث نه 79
- پنځمه خبره حاصل اوخلاصه د دے سورت 80
- د سورت فاتحے حکمتونه او لطائف 81
- لس مخمسات 81
- **ترجمه د سورت فاتحے** 83
- د الحمد لله دکلمے فضائل 84
- **د حمد لغوی معنی** 85
- دحمداستعمال په قرآن کښې 85
- حمد،شکر او مدح کښې فرق 85
- د الف لام بحث او د حمد اصطلاحی معنی 86
- د حمد مواضع 89
- دنیاوی نعمتونو باندے حمد 89
- اخروی نعمتونو باندے حمد 90
- حمد بعد نجاة المؤمن وهلاك الظالم 90
- حمد بعد بیان الدلائل 91
- د احادیثو نه د حمد بیان 91
- د الله تعالی حمدونه او صفتونه بے شمیره دی 92
- د لفظ الله تحقیق 94
- معنی د لفظ د اله او د الله 98
- دقرآن نه داله معنی 100
- دَ اله معنی دَ ابن عباس رضی الله عنه نه 102
- دالحمد لله معنی 104

- په حمد کښے اختصاص 106
- ربّ العالمین 106
- د رب تفسیر د قران نه 107
- د تربیت نظام 107
- دا تربیت د الله خاصه ده 108
- العالمین 111
- اقسام د مخلوق 112
- وجود د الله تعالی : 112
- عالم څه ته وائی ؟ او څومره دی؟ 114
- الرحمن الرحیم 116
- په رحمان او رحیم کښې فرق 116
- دنیاکښې دالله رحمانیت 121
- د رحمن اطلاق په غیر 126
- د الله د رحمت او د برکت حصول 126
- مالك یوم الدین 130
- یوم الدین 138
- وجه تسمیه 139
- ضرورت واهمیت دیوم جزاء 139
- معنی دعبادت 143
- دعبادت اقسام 145
- **وایاك نستعین** 154
- داستعانت معنی ده مددغوښتل 156
- اهدنا الصراط المستقیم : 168

- د هدایت د لفظ تحقیق: 169
- الصراط 173
- د صراط مستقیم مصداقات 173
- داعی د صراط مستقیم؟ 175
- مانعین د صراط مستقیم ؟ 176
- دا صراط مستقیم په څه حاصلیږی ؟ 178
- صراط الذین انعمت علیهم.......... الخ 178
- د انعمت علیهم تعبیرونه : 181
- د قرآن کریم نه د منعم علیهم مصداقات 181
- کتاب الله او رجال الله 183
- غیر المغضوب علیهم الخ 184
- غضب څه ته وائی؟ 185
- اسباب د غضب 185
- ولا الضالین 188
- اسباب د ضلالت 188
- د مغضوب علیهم او ضالین مصداقات 191
- غرائب سورة الفاتحه 194
- آمین 194
- د امین بالجهر او بالسر په اولویت کښې اختلاف 195
- د اولویت وجوهات 196
- خلاصه دمضامینو د سورة فاتحه 199

# تفسیر سورۃ فاتحہ

# اصول تفسیر

## (پشتو)

من افادات

ابو معاویہ مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

ضبط و تحریر

مولانا عبد الباری صاحب

العلم پبلشنگ سروسز

محلہ جنگی قصہ خوانی بازار پشاور

091-2580325

# پیش لفظ

دا کتاب ''تفسیرسورة الفاتحه واصول تفسیر'' عزیزم حضرت مولانا عبد الباری راشد صاحب ځما د تفصیلی درس قران [چه په ریکارډنګ باندے موجود دے] نه ضبط او تحریر کړے دے او په دے کار ئے ډیر محنت کړے دے. الله تعالی دِی دوي ته دَ دے ډیر اجرونه او بدلے ورکړی، او د دوي په صلاحیتونو کښ دي الله رب العزت نور هم اضافه اوکړی. امید لرو چه قارئین کرام به له دے نه په خپلو درسونو کښ استفاده اوکړی، چونکه دا کتاب مستقل تصنیف نه دے صرف تقریر ضبط کړے شوے، او دَ یو درسي نوټس په شکل کښ دے بیا هم حتی الامکان د تصحیح او حسن ترتیب خیال ساتلے شوے دے خو چونکه تقریری انداز دے دَ دے وجے په اکثرو مواضعو کښ د ضبط په وجه د تکرار او د نورو تقصیراتو امکان به په کښے وی. لهذا قارئین حضرات دي د دغے تقصیراتو بخښنه کوی او که چرته څه قابل اصلاح غلطی په نظر راشي نو مونږ دے پرے خبر کړی چه ائنده کښے دَ اصلاح کوشش اوکړے شی.اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنَّا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ

**ابومعاویه محمد ایاز درانی**

جامعه تبلیغ القران یوسف اباد پشاور

# مقدمه، مختصر اصول تفسیر

## (دتفسیریوڅوضروری اصطلاحات)

**دعوی یاموضوع:** دیوسورت هغه مرکزی بنیادی اواهمه مسئله اواهم مضمون چه هغه دټول سورت دپاره په منزله دمحور وی اودسورت باقی ټول مضامین دهغه بنیادی اومرکزی مضمون نه چاپیره ګردش کوی یعنی دهغې د اثبات دپاره ممد اومعاون وی۔

**تنویر:** کله کله سورت کښې دبیان شوې دعوې یامسئلې دیو اړخ دډیروضاحت دپاره اوپه هغې باندې نوره رڼړا اچولودپاره یاد یوې دعوې اومسئلې متعلق دیوې شبهې دزائله کولودپاره چه کوم کلام ذکرکولے شی هغې کلام ته تنویروائی۔

**دلیل:** دثبوت په طورهغه بیان چه هغې سره دعویٰ ثابتولے شی.

**دلیل عقلی:** هغه دلیل چه دهغې تعلق دعقل سره وی یعنی دعقل مطابق وی معمولی غوروفکرسره ئے عقل تسلیموی اومنی ئے۔

**دلیل نقلی:** هغه دلیل چه دتیرې شوې زمانې دیو نبی ،ولی یایو الٰهی کتاب نه ددعوې یامسئلې دثبوت دپاره نقل شی۔

**دلیل وحی:** هغه دلیل او خبره د الله، چه دهغې نسبت الله تعالی ته شوې وی مثلاً چه دامسئله او خبره الله وحی کړې ده اودا دالله حکم دې پیغمبرلره ددې دپریښودلواختیارنشته۔

**تخویف (ترهیب):** ویرول یعنی دالله داحکاماتو په ځائې کولو او پوره کولوپه سلسله کښې دالله نه د ویرې بیان یعنی چه دالله نه اُویریږئ اودالله تعالی احکا مات پوره کړئ بیا داتخویف په دوه قسمه دې:

**(۱) تخویف دنیوی:** زیربحث دعوٰی اومسئله نه منونکو ته ددنیادعذاب ویره ورکول اوبیانول .

**(۲) تخویف اخروی:** زیربحث دعوٰی اومسئله نه منونکو ته داخرت دعذاب نه ویره ورکول اوبیانول.

**بشارت دنیوی:** منونکوته ددنیادخوشحالئ اوکامیابئ او د نعمتونو زیرے اوخوشخبری ورکول اوبیانول ۔

**بشارت اُخروی :** منونکوته داخرت دخوشحالئ اونعمتونو زیرے اوخوشخبری ورکول اوبیانول ۔

**تسلی :** حق پرستو ته دمخالفینو دطرف نه میلاو شوی تکلیف اوتکذیب باندے دصبرکولو تلقین کول ددے دپاره چه دهغوی دزړه نه غم لرے شی یاکم شی اوچه دهغوی حوصله افزائی اوشی ۔

**ترغیب:** دیوښه کارکولوته دخلقوشوق راپورته کول ۔ او دهغے کار فائدے او ثوابونه ذکر کول.

**تشجیع :** په یوښه اونیك کارباندے راتیزول او دهغے دپاره دبهادرئ اوحوصله مندئ پیداکولوبیان کول ۔

**تزهیدمن الدنیا:** ددنیانه دبے رغبتئ بیان اوددنیاپه مینه کښے دورننوتلو نه دبچ کیدلو ترغیب ورکول ۔

**زجر:** دمنکرینوپه ناروا عمل اوخبرے اوبےځایه اونامعقوله مطالباتو باندے دعذاب خبردارے اورټنه ورکول اوهغوی په یو نامناسبه خبره باندے رټل ۔

**تنبیه :** دانبیاء کراموعلیهم السلام اوموٴمنانونه دخلاف اولٰی کاریه صادریدلو باندے هغوی ته تنبیه ورکول چه داکارتاسو لره نه وو کول پکار۔

**اُمورانتظامیه:** (انتظامی امور) هغه احکامات اوقوانین (اصول)چه په هغے باندے عمل کولو سره د مسلمانانو په خپل مینځ کښے اتفاق اواتحادراځی اودهغوی معاشره پرے درستیږی اوجماعت ئے پرے منظم کیږی. لکه دقصاص قانون، حدود، دنکاح، طلاق، رضاعت، وصیت، وراثت وغیره احکامات شو۔

**اُمورمصلحه :** هغه څیزونه چه دهغے سره حالات سم شی هغے ته امورمصلحه وائی داپه درے قسمه دی:

**(۱) امورمصلحه دپاره دمنکرینو:** اکثر مالداره خلق دمال دولت په نشه کښے دتوحید یادبلے عقیدے اودحق نه انکارکوی نودداسے خلقو داصلاح دپاره قرآن مجیدفرمائی چه:

- ددنیاپه محبت کښے غلو کول ددنیوی عذاب پیش خیمه ده۔
- ددنیامال اودولت سپك (حقیر ) ناپائیدار اوفانی دے۔
- ددنیاسره داسے محبت د اخروی عذاب پیش خیمه ده۔

لکه سورة الکهف ۳۲نه ترد ٤۹ پورے،[ایت ۳۳، ٤٤ کښے اول مضمون اوایت ٤٥ کښے دویم مضمون اوپه ایت ٤۷نه تر ٤۹ پورے دریم مضمون ذکر دے]

**(۲) امورمصلحه دپاره دمومنانو:** دحق منونکودپاره دا ضروری ده چه په حق باندے کلك پاتے شی اود امورانتظامیه باره کښے بیان شوی احکاماتو مطابق عمل اوکړی چه دحق پرستو جماعت منظم اومتحدشی خوددے احکاماتو پابندی کول ګران کاردےددے وجه نه داحکاماتو سره څه امور ذکر کیږی چه هغه داستقامت او عمل صالح دپاره ممد اومعاون شی اوچه هغے سره دباطن اصلاح اوشی اودحق پرستو جماعت دګران نه ګران حکم باندے عمل کولوته تیارشی لکه

صوم اوصلوٰة ،حج اوزکوٰة امورمصلحه للمؤمنين دی مثال لكه سورة البقرة ۲۳۸ ـ [حٰفِظُوْا عَلَی الصَّلَوَاتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ]

**(۳) امورمصلحه مدافعهٔ عذاب (دعذاب نه بچ كونكی امور):** ددنيوی اواخروی عذاب نه بچ كيدو اودنجات دپاره الله تعالی د دريوخبرو حكم كوی

- دشرك نه ځان بچ اوساتئ ـ
- دالله په بندګانوظلم اوزياتئ مه كوئ ـ
- دالله بندګانوسره ښه سلوك اوكړئ ـ

لكه سورة بنی اسرائيل ۲۳، ۳۱،[ايت ۲۳ كښې اوله اودريمه اوايت ۳۱ كښې دويمه خبره ذكرده]

**ادخال الهی:** ديوواقعے يامضمون دبيان په مينځ مينځ كښے دالله خپل ارشادذكر كول چه اګرچه هغه دهغے واقعے اومضمون حصه خونه وی ليكن دهغے سره متعلق ضرور وی لكه چه عام كتابونو كښے ورته جمله معترضه وائی.

**براعة الاستهلال:** په تمهيدكښے داسے عبارت او الفاظ ذكر كول چه د راتلونكی مقصدسره مناسب وی اودهغے په ضروری اموروباندے رنړا واچوی ـ

**ادّماج ( اذْماج ،اندماج ):** ديومثال ياديوے واقعے مقصودی حصه صراحةً ذكَركول اوغيرمقصودی حصه حذف كول ځكه چه هغه په معمولی غور او فكر سره معلوميږی ،لكه سورة البقرة ايت ۱۷، كښے استوقدنارا نه پس هنا رجال قاعدون محذوف دے ځكه چه بنورهم كښے دجمع ضمير پرے دلالت كوی ـ

**اعادهٔ برائے بعدعهد:** يومضمون شروع وی خو دهغے نتيجه اوحکم ذکر شوے نه وی بلکه دحکم اونتيجے نه مخکښ دهغه مضمون څه نورمتعلقات ذکرشي ، بیاد نتيجے اودحکم ذکرکولو دپاره هم هغه مضمون بیاپه دويم ځل ذکرشي چه دهغه اول مضمون سره مربوط شي ديته اعاده برائے بعدعهد وائی۰ لکه سورة البقره ۳٦ کښے دهبوط حکم شوے دے اوايت ۳۸ کښے بیاداحکم ذکردے۰ داځکه چه په مينځ کښے د آدم اوحوا عليهما السلام دمعافئ اعلان ذکرشو نودهبوط حکم کښے لږ تاخير راغے نوځکه ئے دوباره ذکر کړو.

**د گمراهئ درجات:** دگمراهئ څلور درجے دی:

**(۱) ريب اوشك:** دا دگمراهئ دپاره بنياد اوپيش خيمه وی ديوکس په زړه کښے او ل دتوحيد اودحق دين په باره کښے شکوك اوشبهات پيداشي چه هغه ئے دصراط مستقيم نه اړوی ـ

**(۲ ) ضلالت ( گمراهی ):** چه ددغه شکوك اوشبهاتو ازاله اونشي اوداپه زړه کښے پاتے شي نوانسان گمراه کيږی اودحق لار پريږدی اودباطل لاراختيارکړی ـ

**( ۳ ) جدال:** دضلالت نه پس دجدال درجه ده دگمراهئ نه پس گمراه انسان خپلوباطلونظريواوغلطو عقيدو لره حق اوصحيح ثابتولودپاره داهل حق سره جگړه، مجادله اومنازعه شروع کړی اوضداو دعناددوجے نه دحق هرخبره ردکوی ـ

**(٤ ) ختم القلب :** دگمراهئ نه پس چه کله دحق په مقابله کښے جنگ جگړه شروع کړی اونقلی اوعقلی دليلونو سره دحق واضح اوثابت کيدوباوجود هم حق نه منی اوپه ضداوعنادټينگ شي نودده په زړه باندے مهرلگی يعنی اوس چه دده په زړه کښےکوم کفر اونفاق

اوشرك دے هغه ئے د زړه نه اووځی اوکوم څیز چه ددۀ د زړه نه بهر دے (ایمان اویقین توحیداواخلاص) هغه ئے زړه ته نه ورننوځی. چه کله یوکس دے درجے ته ورسی نوبیادهغه په سمه لارراتلل ممکن نه وی، دهدایت توفیق ترینه سلب شی. ددے درجے نه شیخ المشائخ حضرت صاحب په مهرجباریت سره تعبیر کوی ـ قرآن دا درجے کله ځانله ځانله ذکرکوی اوکله یوځائے لکه سورة مومن ٣٤، ٣٥ ـ

**وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ يُوسُفُ مِن قَبۡلُ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلۡتُمۡ فِي شَكّٖ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلۡتُمۡ لَن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِهِۦ رَسُولٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ مُّرۡتَابٌ ٣٤ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡۖ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلۡبِ مُتَكَبِّرٖ جَبَّارٖ ٣٥**

**ربط القلب او د هغے درجات:** ربط القلب دختم القلب ضددے. کله چه یو انسان دهدایت لاره اختیارکړی اودالله اود رسول اطاعت کښے هغه راسخ اوکلك شی نوالله تعالی دده زړه ته محکم یقین او په ایمان داستقامت دولت ورنصیب کړی . چه دهغے په نتیجه کښے داکس دګمراهئ نه محفوظ پاتے شی ـ د زړه دغه کیفیت ته ربط القلب وائی. دا ربط القلب دلاندینی دریو درجاتو نه پس حاصلیږی ـ

**(١) انابت:** دالله تعالی اودهغه کتاب اودهغه رسو ل طرف ته رجوع کول ، ددوی سره محبت لرل اوضدوعناد پریخودل اودهدایت دلارے تلاش کول لکه سورة المؤمن:١٣، الشوریٰ :١٣، ق:٣٧ ـ

**(٢) هدایت:** (نیغه لارموندل ) دادانابت اوالله ته درجوع نه پس حاصلیږی ـ

**(۳) اسقامت:** (په هدایت باندے پوخوالے اوثابت قدمی) دهدایت نه پس داستقامت درجه ده چه کله یوانسان دالله تعالی دهدایت مطابق په نیغه لار روان شی نوالله ورته استقامت ورکوی لکه حم السجده:۳۰ ـ

**(٤) ربط القلب:** دهدایت په لار داستقامت نه پس د ربط القلب درجه حاصلیږی دا درجه دایمان او یقین په ټولو کښے اوچته درجه ده ، چاته چه دادرجه حاصله شی نوددنیاهیڅ یوطاقت هغه لره دایمان اواسلام نه اړولے نه شی ۰ البته دا درجه دالله تعالی دهدایت اود رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دکامل اتباع نه بغیر هیڅ کله هم نه شی حاصلیدے ـ

دا درجه اصحاب کهف اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته حاصله وه لکه سورة کهف: ۱۳، ۱٤ سورة الحجرات ایت: ۷، ۸ ـ

**نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ۝١٣ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَٰهًا ۖ لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ۝١٤** [کهف ۱۳، ۱٤]

**وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ**[الحجرات : ۷، ۸]

دارنګ حدیث، ﴿**اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ**﴾ کښے هم دے درجے ته اشاره ده یعنی اوس تاسو دګناهونوطرف ته نشی تللے ۰

**ربط** : دیوسورت یادیوایت دمضمون دمخکښ سورت یاایت سره جوړخ، تړون اومناسبت بیانول ـ

# مختصر اصول تفسیرالقرآن

**اصول تفسیر:** دقرآن داصول تفسیر نه مراد هغه اصول اوقوانین اواصطلاحات دی چه دهغے په رنړااومددسره دقرآن پاك وضاحت اوتشریح باندے په آسانتیاسره پوهه حاصله کړے شی ۔

## د تعارفِ قران متعلق پنځه خبرے

### (1) اسمآءِ القرآن:

دیوکتاب تعارف اوپیژندګلودهغے دنوم نه کیږی ځکه چه دکتاب نوم دهغے دموضوع عکاسی کوی څنګه چه هرمصنف دخپل تصنیف دپاره نوم تجویزکوی دغه شان الله رب العزت هم دخپل کتاب مختلف نومونه ایخودلی دی چه هغے سره د قرآن پاك دمرکزی موضوع وضاحت کیږی ،بعضے علماؤ اسمآء القرآن ډیرزیات ذکر کړی دی لیکن حقیقت کښے اسمآء القرآن یعنی اسمآء علَم پنځه دی اوباقی نوراسمآء صفتی دی اوهغه پنځه دادی، القرآن ،الفرقان ،الذکر ،الکتاب ،التنزیل، اوبیاپه دیکښے قرآن اوکتاب ډیرمشهوردی . [ماخوذ ازعلوم القرآن ]

بیااسمآء صفتی دقرآن هم ډیرزیات دی اودیوځیززیات نومونه اوصفتونه دهغے په عظمت اوشرافت دلالت کوی ۔

الاتقان فی علوم القرآن کښے حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله ۵۵ ،[پنځه پنځوس] اوشیخ القرآن مولانامحمدطاهر رحمه الله په العرفان في اصول القرآن کښے تقریبًا٦٢ [دوشپیتۀ] اوعلامه محمدحسین شاه نیلوی رحمه الله په مقدمۀ تسهیل کښے اوشیخ عبدالسلام رستمی رحمه الله په تنشیط الاذهان کښے ۷۵ [پنځه اویا] نومونه ذکرکړی دی. دارنګ نورو علماؤ هم مختلف تعدادذکرکړے دے چه په حذف د تکرار

راجمع کړے شی نوتقریبًا ۱۲۰[یوسل او شل] نومونه جوړیږی چه څئے دهغے نه دادی:

(۱)القرآن [البقرة:۱۸۵]

(۲)الفرقان[البقرة:۱۸۵] **شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِىٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ**

(۳)البیان[العمران: ۱۳۸]**هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ**

(٤)التبیان[النحل:۸۹]**وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ(۸۹)**

(٥)الموعظة (٦) الشفاء (۷) الهدیٰ (۸) الرحمة [یونس: ٥۷]

**يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ(٥۷)**

(۹)الروح[الشوریٰ:٥۲] **وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا**

(۱۰)الذکر[الحجر:۹]**اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ**

(۱۱)کلام الله[التوبة: ٦] **وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ**

(۱۲)حبل الله[ال عمران: ۱۰۳] **وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا**

(۱۳)سبیل الله (۱٤) الصراط السمتقیم [انعام:۱٥۳] **وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ**

## (2 )تعریف القرآن:

دیوکتاب دفهم دپاره دهغے دتعریف ضرورت وی، ددے دپاره چه دهغه کتاب حیثیت،موضوع اوغرض اوغایت معلوم شی۔ دغه شان دقرآن پاك هم تعریف شته چه هغےسره ددے عظیم الشان کتاب منفرداوامتیازی شان معلومیږی ۔

## لغوی تحقیق:

○ په لغت کښے دلفظ دقران څه معنیٰ ده اودڅه نه ماخوذ دے نوپه دے کښے ګڼړ اقوال دی. دیکښے اختلاف دے چه دا لفظ مهموز دے اوکه غیرمهموز، چه غیرمهموزشی۔

(۱) نوبعضے علماء فرمائی چه دااسم علم دکتاب الله دے،غیرمشق دے، خاص دے کلام الهی پورے په شان دتورات او د انجیل ،داقول دامام شافعی دے۔

(۲) بعضے علماء فرمائی چه دامشق دے د "**قِرَاءَتُ الشَّی بِالشَّیْءِ**" نه (په معنیٰ دیوځائے کول یوڅیزدبل سره، متصل کول) قرآن ته هم قرآن ځکه وائی چه ددے سورتونه او ایتونه هم دیوبل سره متصل اومربوط دی نوقرآن بمعنیٰ مقرون شو۔

(۳) امام فراء فرمائی چه دا ماخوذ دے دقرائن نه (جمع قرینه) ځکه چه دقرآن ایتونه دیوبل تصدیق کوی دیوبل سره مشابه اودیوبل دپاره قرائن دی۔

اوبعضے علماء فرمائی چه لفظ دقران مهموز دی۔

(۱) خوبیابعضے فرمائی چه دامصدردقراءت دے (لکه غفران ) په معنیٰ د مَقْروءٌ (لوستلے شوے)۔

(۲) او بعضے فرمائی چه وصف دے په وزن دفُعلان مشتق دے قَرءٌ په معنیٰ دجمع. دقرآن ایتونه اوسورتونه هم دیوبل سره جمع اوضم دی۔

(۳) امام قطرب فرمائی چه قرآن ته قرآن ځکه وائی چه قاری دا دخپلے خُلے نه ظاهر وی، اوبیانوی لکه عرب وائی: "**مَا قَرَأَتِ النَّاقَةُ سَلاً قَطُّ**" یعنی اوښے هډو بچے زیګولے نه دے یعنی ظاهرکړے نه دے.

امام راغب فرمائی چه د وحی هرجمع ته هم قرآن نه وائی اونه دهر کلام جمع ته قرآن وائی بلکه قرآن ته قرآن ځکه وائی چه قرآن دکتب سابقو مُنزلو ثمرات راجمع کړی دی۔

**قول فیصل** : امام سیوطی رحمه الله فرمائی چه ځماپه نزدمختارقول دامام شافعی قول دے (اتقان ) اوعندالمجمهور قرآن مصدرد قَرَاءَ يقْرَءُ دے په معنٰی دجمع اولوستلو لکه غفران

[انظر علوم القرآن للشیخ تقی عثمانی وللشیخ گوهررحمان]

په دے معنٰی دقران وجه تسمیه داده چه قرآن ته قرآن ځکه وائی چه (۱)دا دایتونو اوسورتونومجموعه ده (۲) دانبیاء سابقینو د کتابونو او صحائفو دتعلیماتو عطر اوخلاصه ده (۳) قصص، واقعات، حالات او حوادث، اوامر او نواهی پکښے په مناسب اندازسره جمع شوی دی (٤)دعلومو اومعارفو بهترینه مجموعه ده

**فائدهٔ مفیده :** دقرآن دانوم (قرآن) دکفاروتردیدکښے ایخودلے شوے دے، هغوی به وئیل چه ﴿لَاتَسۡمَعُوۡالِهٰذَا الۡقُرۡاٰنِ وَالۡغَوۡافِيۡهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُوۡنَ﴾ یعنی چه قرآن ته غوږمه ایږدئ اوشورجوړکړئ چه دقرآن اثر ختم شی ۰نوالله رب العزت خپل کتاب لره نوم قرآن کیخودلو اشاره وه چه داکتاب دختمیدو نه دے بلکه داخو دلوستلو کتاب دے ترقیامته پورے به لوستلے کیږی [علوم القرآن للشیخ تقی عثمانی] داخولغوی تحقیق وو۰)

## اصطلاحی تعریف:

اصطلاحی اوفنی تعریف علماء داسے کوی:

﴿ اَلۡقُرۡاٰنُ كَلَامُ اللّٰهِ الۡعَرَبِيُّ اَلۡمُنَزَّلُ عَلٰى مُحَمَّدٍ ﷺ بِوَاسِطَةِ جِبۡرَئِيۡلِ اَلۡمُتَعَبَّدُ بِتَلَاوَتِهٖ اَلۡمَكۡتُوۡبُ فِى الۡمَصَاحِفِ اَلۡمَنۡقُوۡلُ اِلَيۡنَا نَقۡلًا مُتَوَاتِرًا بِلَاشُبۡهَةٍ﴾

## دقرآن تعریف دقرآن نه:

دقرآن تعریف دقرآن په ژبه:

﴿وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ○ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ ○ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ○ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ○﴾ [سورة الشعراء ايت ۱۹۲تا۱۹۵]

دغه شان سورة البقره:۲ ،سورة الزخرف:۳، سورةمؤمن:۲ ، سورة السجده :۲ ،سورة الكهف: ۱،سورة محمد: ۲،سورة النحل:۱۰۲ددغے ایتونونه دقرآن تعریف په عربئ ژبه کښے داسے جوړیږی:

﴿اَلْقُرْاٰنُ هُوَ الْكِتَابُ الْمُعْجِزُ الْمُنَزَّلُ عَلٰى قَلْبِ مُحَمَّدٍ بِوَاسِطَةِ جِبْرَئِيلَ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ﴾

## (3) حکمت نزول قران:

(یعنی دقرانَ دنزول غرض څه دے اوفوائد مُرَتَّبَه دنزولِ قرآن څه دی ؟ چونکه غرض هغه فائدے ته وائی چه دهغے رجع متکلم ته کیږی اوالله تعالی خوداستفادے نه پاك ذا ت دے ۰اوغاية، انتهاء ته وائی اودالله دافعالو اوحکمتونوانتهاء نشته نواګرچه عام کتابونو کښے دکتاب غرض او غایت ذکرکیږی،خودالله د کتاب باره کښے ادب دادے چه دغرض په ځائے حکمتِ نزول اووئیلے شی ۰ الله رب العزت حکیم ذات دے اوقرآن دالله کتاب دے قرآن ته هم حکیم وائی یعنی دحکمتونه ډك کتاب دے اوددے په نزول کښے ګنړحکمتونه دی۔

الله تعالی داحکمتونه پخپله په قرآن کښے په مختلف اندازونوسره ذکرکړی دی، کله په لام سره، کله د مفعول له په صورت اوکله په صورت دحال سره دهغے حکمتونونه څه حکمتونه دادی:

**(١ ) للهداية خصوصاًوعموماً:** قرآن د عام او خاص هدايت دپاره نازل شوے دے [سورة البقرة:٢، ١٨٥] **شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ** .

**( ٢ ) للشفاء والرحمة والموعظة:** دشفاء (علاج )، رحمت اوموعظه (وعظ) دپاره [يونس:٥٧] **يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ**ۙ

**( ٣ ) للتدبروالتذكر:** دتدبراو تذكر(غوروفكر پكښے كول او پند او نصيحت ترے اغستل ) دپاره [سوره ص ايت:٢٩] **كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ**

**( ٤ ) للتبليغ :** دتبليغ دپاره نازل شوے دے [سورة ابراهيم:٥٢] **هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ** .

**( ٥ ) للتحكيم :** دفيصلے كولودپاره[سورۀ نساء: ١٠٥] **اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ**ؕ

**(٦ ) لأخراج الناس من الظلمٰت الى النور:** خلق دكفراوشرك اودمعصيت دتيارونه دتوحيداوسنت اودنيكئ رنړاته راويستلو دپاره نازل شوے دے [سورة ابراهيم:١] **الٓرٰ**ࣞ **كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ**ۙ

**( ٧ ) لليقين بالاخرة :** اخرت باندے د يقين جوړلو دپاره [سورة رعد:٣] **يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ**۝

**( ٨ ) للتثبت** : په دين او ايمان باندى داستقامت دپاره [سورة النحل: ١٠٢] **قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ**

## (4) موضوع يادعوى دقرآن:

(موضوع ته ترجمة الباب ياترجمة القرآ ن يا مقصد هم وئيلے شى):

قرآن كښے اګرچه ډيرزيات مضامين ،مسائل اواحكام ذكردى خوټولوكښے اهم اوبنيادى مسئله اومضمون چه دهغے دپاره قرآن نازل شوے دے نو په دے كښے د علماؤمختلف اقوال دى. بعضے علماء وائى چه د قران موضوع انسان دے او امام انقلاب مولانا عبيد الله سندهى رحمه الله فرمائى چه د قران موضوع او دعوى جهاد او انقلاب دے خو رئيس المفسرين حضرت مولانا حسين على الوانى رحمه الله فرمائى چه د قران دعوى او مقصد توحيد دے ځكه چه قرآن دټولو علومو اومعارفو اوموضوعاتو منبع اوسرچمشه ده نوهغه توحيددے اوباقى ټول مضامين اومسائل دتوحيدتوابع اوممدات دى اودشجرِ توحيد شاخونه دى۰

شيخ الاسلام ابن قيم فرمائى :

﴿بَلْ نَقُوْلُ قَوْلًا كُلِيًا اِنَّ كُلَّ اٰيَةٍ فِى الْقُرْآنِ فَهِىَ مُتَضَمِّنَةٌ لِّلتَّوْحِيدِشَاهِدَةٌ بِهِ دَاعِيَةٌ اِلَيْهِ فَأَنَّ الْقُرْآنَ اِمَّا خَبَرٌ عَنِ اللّٰهِ وَأَسْمَاءِهِ وَصِفَاتِهِ وَاَفْعَالِهِ فَهُوَ التَّوْحِيْدُ الْعِلْمِىْ اَلْخَبَرِىْ وَاِمَّا دَعْوَةٌ اِلَى عِبَادَتِهِ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ وَخَلْعِ كُلِّ مَايُعْبَدُ مِنْ دُوْنِهِ فَهُوَالتَّوْحِيدُ الْأَرَادِىْ اَلطَّلَبِىْ وَاِمَّا اَمْرٌ وَنَهِىٌ وَاِلْزَامٌ بِطَاعَتِهِ فِى نَهِيِهِ وَاَمْرِهِ فَهِىَ حُقُوْقُ التَّوْحِيدِ وَمُكَمِّلَاتُهُ وَاِمَّا خَبَرٌ عَنْ كَرَامَةِ اللّٰهِ لِاَهْلِ تَوْحِيدِهِ وَطَاعَتِهِ وَمَافَعَلَ بِهِمْ فِىْ الدُّنْيَاوَمَايُكْرِمُهُمْ بِهِ فِى الْاٰخِرَةِ فَهُوَ جَزَاءُ تَوْحِيدِهِ وَاِمَّاخَبَرٌعَنْ اَهْلِ الشِّرْكِ وَمَا فَعَلَ بِهِمْ فِى الدُّنْيَامِنَ النَّكَالِ وَمَايَحِلُّ بِهِمْ فِى الْعُقْبٰى مِنَ الْعَذَابِ فَهُوَ خَبَرٌعَنْ مَّنْ خَرَجَ عَنْ حُكْمِ التَّوْحِيدِ- فَالْقُرْآنُ كُلُّهُ فِى التَّوْحِيدِوَحُقُوْقِهِوَجَزَاءِهِوَفِى شَانِ الشِّرْكِ وَاَهْلِهِوَجَزَآءِهِمْ﴾

[مدارج السالكين فى منازل اياك نعبدواياك نستعين]

ترجمه : بلکه مونږیوکلی (جامع) خبره کوو چه دقرآن هر آیت توحیدلره متضمن دے، په دے ګواه دے ،ددے طرف ته دعوت ورکونکے دے .(ددے تفصیل کولوسره فرمائی) بس قرآن یاخوخبرورکوی دالله تعالی نه اودهغه داسماؤ ، صفاتو اودافعالونه نو داتوحید علمی خبری دے . اویاقرآن دنورو معبودانونه سیوا دالله وحده لاشریك له دعبادت دعوت ورکوی نوداتوحیدارادی طلبی دے .

اویاقرآن دامراونهی بیان کوی اوامراونهی کښے د الله تعالی اطاعت لره لازموی ،نودادتوحید حقوق اومکملات دتوحیددی اویاخبرورکوی داهل توحیداوطاعت ، د دنیاوی اکرام او اعزاز او د اخروی اعزاز د الله دطرف نه نو داجزاء دتوحیدده ،اویاخبردے داهل شرك او په هغوی چه کوم عذاب راغے په دنیاکښے ، او هغوی ته به چه آخرت کښے کوم عذاب ورکولے شی دهغے خبر دے ،نودا اطلاع ده دهغه خلقو چه دتوحیدنه وتلی دی .

بس ټول قرآن دتوحید اودحقوقو دتوحیداودبدلے داهل توحید اودشرك اوداهل شرك دمذمت اوسزا په باره کښے دے

○ دارنګه ملاعلی قاری حنفی رحمه الله فرمائی:

﴿فَالْقُرْآنُ كُلُّهُ فِي التَّوْحِيدِ وَحُقُوْقُ أَهْلِهِ وَثَنَاءِهِمْ وَفِي شَانِ ذَمِّ الشِّرْكِ وَعُقُوْقِ أَهْلِهِ وَجَزَاءِهِمْ﴾ [شرح فقه اکبر: ۱۰]

ترجمه: بس ټول قرآن دتوحید اوداهل توحیددحقوقواوثناء اومذمت دشرك او داهل شرك دنافرمانئ اوسزابیان کوی .

○ اومرقات شرح دمشکوٰة کښے لیکی :

﴿اِنَّ الْقُرْآنَ مَا اُنْزِلَ اِلَّا لِتَقْرِيْرِ التَّوْحِيْدِ(۱۶۸/۲)﴾

"بے شك قرآن خودتوحيدداثبات او دبيان دپاره نازل شوے دے"

غرض داچه توحیددقرآن اصل مقصد،دعویٰ بلکه ټول قرآن توحید توحیددے چونکه دعویٰ وائی هم دیته چه هغه دټول قرآن په هرهرآیت کښے خوره شوے وی لکه دیو اونے تخم، جرړے او ویخ چه دهغے اثر په ټوله اونه یعنی ښاخونو ،پاڼړو اومیوؤ کښے وی چونکه ددے ټولوددے جرړے او ویخ سره بنیادی تعلق وی دغه رنګه توحیدهم دے

**دعوی دقرآن نه** : (اوهمداخبره چه د قرآن دعویٰ توحیددے پخپله قرآن هم بیان کړی ده )

علامه زرکشی په البرهان کښے دحافظ ابوطاهر سلفی قول نقل کړے دے چه بغدادکښے چادابومکرم نحوی نه تپوس اوکړو. ﴿كُلُّ كِتَابٍ لَهٗ تَرْجَمَةٌ فَمَا تَرْجَمَةُ كِتَابِ اللّٰهِ﴾ (چه دهر کتاب څه نه څه ترجمه (دعویٰ) وی نودالله تعالی دکتاب څه ترجمه (دعویٰ) ده )

﴿فقال : هٰذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْا اَنَّمَاهُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ..........الخ [ابراهیم: ۵۲]

نو هغه جواب ورکړو چه دقرآن دعویٰ سورة ابراهیم ایت ۵۲، هٰذابلاغ للناس---الخ یعنی توحیددے ۰

الغرض توحیددقرآن موضوع ده او دا خبره په نورو سورتونو کښے هم ذکرده لکه:سورة انعام ایت ۱۰۶،انبیاء ۱۰۸،هودایت ۲،۱ ، هودایت ۱۴

## (5) تقسیم قرآن:

حضرت مولاناحسین علی الوانی رحمه الله فرمائی چه قرآن دغټو غټو مضمونونو اوعنواناتوپه اعتبار څلورحصے دے. داخبره امام رازی په تفسیرکبیرکښے او امام زرکشی په البرهان فی علوم القرآن کښے هم

ذکر کړے ده او د قران دا هره حصه په لفظ الحمدلله سره مُصَدَّر (شروع) ده۰

**(۱) اوله حصه:** دسورة الفاتحة نه تردسورة المائده پورې داحصه په شپږو سورتونومشتمله ده. اوپه دیکښے په اعتبار د اغلب اواکثر دخالقیت مضمون بیان دے یعنی چه صرف الله تعالی دتمام کائناتوخالق دے.

**( ۲ ) دویمه حصه:** دسورة انعام نه تردسورة بنی اسرائیل پورے داحصه په دولسو سورتونومشتمله ده اوپه دے حصه کښے په اعتبارد ا غلب او اکثر دربوبیت بیان دے یعنی چه دتمام مخلوقاتواو کائناتو پالونکے صرف الله تعالی دے -

**( ۳ ) دریمه حصه :** دسورة الکهف نه تردسورة الاحزاب پورے، داحصه په شپاړس سورتونومشتمله ده په دیکښے په اعتبار د اغلب او اکثرمضمون دبرکاتو او انعاماتو بیان دے یعنی چه هرڅه کښے برکت اچونکے اوبرکت ورکونکے ذات صرف الله تعالی دے ۰

**( ٤ ) څلورمه حصه :** دسورة سباء نه تردسورة الناس پورے، داحصه په یونوی (۹۱) سورتونومشتمله ده اوپه دے حصه کښے په اعتبار د اغلب او اکثر دمالکیت اوقیامت بیان دے یعنی اختیاراوتصرف صرف دالله دے، دارنګ نفی دشفاعت قهریه اودقیامت د احوالو او اهوالو بیان دے پکښے ۰

**فائده:** اخری حصه چونکه په دوه اهمومضمونونومشتمله ده (مالکیت اوقیامت ) نوځکه په هغے کښے الحمدلله دوه ځل ذکر ده ۰(د سباء او د فاطرپه ابتداء کښے)

دقرآن دے تقسیم لره زمونږ شیخ علامه نیلوی صاحب رحمه الله منظوم هم بیان کړی دی۰

اے برادر یاد رکھ۔۔۔"تورات"،کے کل حصہ جات
پانچ ہیں خلق وخروج ،گنتی ،استثناء،قضات
اورقرآن مبین کے کل حصص بھی کرلویاد
چارہیں خلق وربوبیت ،تبارک اورمعاد
فاتحہ تا مائدہ تخلیق کا ہوگا بیان
پھرربوبیت ہے اس کےبعد تااسراءبیان
کہف سے احزاب تک ھوگا، تبارک کا بیان
پھرسباتاآخرقرآن "قیامت" کا بیان

**تعارف سُور قران:** (دا په پنځۀ خبرو مشتمل دے.)

(1)**خلَاصۀ سورقرآن:** دتفسیرپه دوران کښے په یو سورت باندے په آسانۍ سره د پوهے حاصلولو دپاره دسورت دشروع کولونه مخکښ دمتعلقه سورت تعارف او خلاصه پیژندل ضروری دی۰ دهر سورت خلاصه تقریبًاپه پنځو (۵)امورو (خبرو) مشتمل وی

(۱)**دسورت مصحفی اونزولی ترتیب:** دمصحفی ترتیب نه مراد دَ سورتونوهغه ترتیب دے چه کوم مونږسره موجوده دقرآن په سورتونوکښے په مصحفی شکل کښے دے لکه اول سورة الفاتحة بیاسورة البقره بیاسورة العمران --الخ۰

اودنزولی ترتیب نه مراد دَ سورتونوهغه ترتیب دے چه وحی ئے په تقریبًادرویشت (۲۳) کلونوکښے وخت په وخت دحالاتو واقعاتو او د

حادثاتو په مناسبت نازل شوی وه لکه اول سورة العلق بياسورة القلم بياسورة المزمل بياسورةالمدثربياسورة ا لفاتحه .....الخ.

**( ۲ ) دسورت ربط :** دربط نه مراد دسورتونو په مينځ کښې ديوبل سره تعلق اومناسبت دے، چه زير بحث (شروع ) سورت دمخکښې سورت سره څه تعلق اومناسبت لرى ؟ مثلاً دسورة البقرة دمخکښې سورت يعنى سورة الفاتحه سره څه تعلق اومناسبت دے. ياسورة البقره دسورة الفاتحه نه پس دکوم مناسبت اوتعلق دوجے ذکر شوے دے (ايخودلى شوے دے )

**( ۳ ) دسورت امتيازات** : د امتيازاتو نه مراد هغه خصوصيات دى چه دهغے دوجے يوسورت دبل سورت نه ممتازشى ياهغه خبرے چه زيربحث سورت کښے وى اوبل کښے نه وى .

**( ٤ ) دسورت دعوى :** ددعوىٰ نه مراد ديو سورت هغه مرکزى محور،عنوان، موضوع اوهغه مقصودى مسئله وى چه دهغے د اثبات دپاره متعلقه سورت نازل شوے وى اوباقى ټول سورت دهغه محورنه چاپيره ګردش کوى .

**( ۵ ) دسورت تقسيم ياحاصل دسورت :** دسورت دتقسيم اوحاصل نه مراد دادے چه دا زيربحث سورت دمضمونونو په اعتبارپه څومره حصو (بابونو) باندے مشتمل دے .يعنى په لنډه طريقه ديوسورت مختصره نقشه اوخاکه پيش کولوته حاصل اوتقسيم دسورت وائى يعنى داسورت په کوم مضمونونومشتمل دے،حاصل دسورت ته محتويات السورة ،فزلکة السورة ،مااشتمل عليه السورة هم وائى .

**(۷ ) دقرآن مضامين:** قرآن اګر چه په ډيرو مسائلواو مضمونونو مشتمل دے خودغټوغټو مضمونونو اومسائلو په اعتبار

زمونږ د مشائخو په نزد د قرآن اتۀ غټ اواهم مضمونونه دی چه هغے ته اصول مهمه هم وائی:

(۱) اثبات التوحید ( ۲ ) اثبات الرسالة ( ۳ ) صدق الکتاب ( ٤ ) اثبات القیامة (٥ ) الجهاد فی سبیل اللّٰه (٦)الانفاق فی سبیل اللّٰه (۷) التنظیم والمنظمة ( ۸ ) الاداب، په دے کښے ورومبنی څلوروته مقاصد مهمه یاسوابق وائی ( مقاصداربعه ) او وروستنی څلوروته ممدات یالواحق وائی۔

**دعوی:** مخکښ ذکرشوی دی چه دعویٰ هغه مرکزی مسئلے اوموضوع ته وائی چه ټول سورت دهغے نه بحث کوی، دقرآن ددغه اتۀ مضمونونو نه کله یومضمون اوکله دوه یاګنړ مضمونونه په یوځائے دیوسورت دعویٰ جوړه کړے شی لکه دسورت فاتحے دعویٰ توحیددے اودسورة البقره دعویٰ څلورمضامین دی: [توحید،رسالت ،جهاد،انفاق]

**دلائل:** ددلائلونه مراد داسے ثبوتونه دی چه هغه قرآن، د مرکزی مضمون (موضوع) دثابتولو دپاره ذکرکوی. قرآن پاك عام طورڅلورقسمه دلائل ذکرکوی:

( ۱ ) **دلیل عقلی:** هغه دلیل چه عقل ئے منی اوتسلیموی ئے بیادلائل عقلیه په درے قسمه دی:

(الف ) **دلیل عقلی محض** (ساده دلیلِ عقلی ) لکه سورة النحل ایت نمبر۳ البقره ایت نمبر۲۲،۲۱

﴿يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾

**(ب) دليل عقلی اعترافی:** هغه عقلي دليل چه خصم (مقابل) هم دهغے اعتراف کوی لکه ،سورت المؤمنون ٨٤، ٨٥ — **قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَاۤ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ۝ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ۝**

سورة العنكبوت:٦١ لقمٰن ٢٥،زخرف ٩،

**(ج) دليل عقلى الزامى مسكت للخصم:** هغه دليل عقلي چه دخصم (مقابل ) مخكښ بيان شي نوهغه لاجواب اوچپ شي لكه سورة الانعام ايت نمبر٤٠، **قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝** الانعام ٤٧، ٦٣، ٦٤ ·

**(٢ ) دليل نقلى:** هغه دليل چه دتيرشوو انبياء كرامو ، آسمانی،کتابونو،نيکانوخلقو اوپيريانو نه نقل وی لکه سورۀ الانبياء:٢٥، ٩٢، سورة بنی اسرائيل :٢ ، **وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا۝**

سبا:٤٠، ٤١ الكهف:١٤، مؤمن :٢٨، احقاف: ٢٩، جن :١- ٣ الصافات ١٦٥- ١٦٦ وغيره

**( ٣ )دليل وحی :** پورا قرآن مجيدالله كلام او وحی ده خوكله كله ديودعوىٰ سره رسول الله عليه السلام ته حكم كيږی چه صفااعلان اوكړئ چه داځه څه وائم نو دا دځان نه نه وايم بلكه ماته دالله دطرف نه دوحی په ذريعه حكم شوے دے لكه سورة المؤمن:٦٦،يونس :١٥،النحل :٢٢، ٥١ بنی اسرائيل :٢٢ ، ٢٣· **قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗۤ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ سَبِيْلًا۝ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا۝** [بني اسرائيل]

**( ٤ ) دليل حلف:** ديومسئلے دثابتولو دپاره قرآن مجيدكله كله حلف (قسم ) ددليل او دشاهد(ګواه ) په طورپيش كوی ·

لكه ،والعصر ،والطور،والقلم وغيره·

کله کله ددے څلورقسمه دلائلو نه علاوه دمسئلے دوضاحت دپاره قصص یعنی د انبیاء کرامو او د حق پرستو واقعات بیانیږی، لکه سورة الاعراف هود،شعراء وغیره اوکله کله دوضاحت دپاره امثال پیش کولې شی لکه سورة الحج ۷۳، العنکبوت ٤١، وغیره

## دقرآن مخاطبین اوطرزخطاب:

قرآن مجید دَ دوه قسمه خلقو سره خطاب کوی:

( ۱ ) منقادین [گردن نهاد] یعنی منونکی

( ۲ ) غیرمنقا دین یعنی نه منونکی .

دمسئلے دبیان او د ثبوت نه پس الله تعالی منقادینوته بشارت (زیرے ) ورکوی دابشارت کله دنیوی وی لکه سورة الانفال ۱۰، ۱۱ اوکله اخروی وی لکه سورة البقره ۲۵،

کله کله تسلی ورکوی لکه سورة الانعام: ۱٤۷،الفاطر۲۵،

کله کله تشجیع (بهادری ) ورکوی د انبیاء کراموعلیهم السلام اودحق پرستو واقعاتو بیانولو سره چه هغوی دحق په لارکښے دتکلیفونونه نه وو ویریدلی نو ته هم مه ویریږه لکه سورة هود ٥٤، الانبیاء ۷۰ ،

کله کله ترغیب ورکوی لکه سورة النساء:۱۰ التوبة:۲۰،مومن :٦۰ .

کله کله د ربط القلب (استقامت ) بیان وی لکه سورة الکهف ایت نمبر ١٤

(۲ ) غیرمنقادینو یعنی نه منونکوته کله الله رب العزت زجر(رټنه، زورنه) ورکوی لکه سورة التوبة ۳۸،یونس ۱۸،اوکله ورته تخویف (ویرول) بیانیږی بیاتخویف په دوه قسمه دے تخویف دنیوی اوتخویف اخروی. تخویف دنیوی ، لکه سورة البقرۂ ٦۱،الاعراف۱٥۲، تخویف اخروی لکه سورة البقرۂ ایت نمبر ۲٤،اوکله دغیرمنقادینو دختم القلب یعنی زړه باندے دمهرلګیدو بیان وی لکه سورة البقره ۷،

## بیاغیرمنقادین پنځه قسمه دی:

**(۱) یهود** : دسیدناموسیٰ علیه السلام اودتورات منونکی اوعزیرعلیه السلام لره حاجت روا اودالله نائب ګنړونکی او د قران او د نبی اخر الزمان صلی الله علیه وسلم سخت دشمنان ۰

**(۲) نصاریٰ** (عیسائیان) دسیدناعیسیٰ علیه السلام پیروکاراو دانجیل منونکی، عیسیٰ علیه السلام لره حاجت روا اودالله نائب ګنړونکی او د قران او د آخری نبی صلی الله وسلم نه منکر ۰

**(۳) منافقین:** په ژبه دایمان اوددین دعوٰی کونکی او د زړه نه نه منونکی ۰

**(٤) مشرکین:** دالله تعالی سره دالله په ذات اوصفاتو او په اسمآؤ اوافعالوکښے دالله مخلوق شریك اوحصه دارګنړونکی ۰

**(۵) مجوس:** دَ الله سره اُور شریکونکی او د اُور عبادت کونکی. دَ خیر خالق یزدان (الله) او د شر خالق اهرمن (شیطان) ګنړونکی

په دے ټولو باطلو فرقو باندے په قران کښے رد کوی لکه سورة الحج ۱۷، **اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـِٔيْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ﴿۱۷﴾**

**دمشرکینواقسام** : بیامشرکین په څلورقسمه دی:

**(۱) مشرکین بالعبادالصالحین:** چه دالله تعالی نیکان بندګان (انبیاء او اولیاء )دالله سره شریك ګنړی لکه سورة الاعراف ۱۹٤،نوح ۲۳، **اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ﴿۱۹٤﴾** [اعراف]

**( ۲ ) مشرکین بالجن :** چه جنات اوپیریان دالله سره شریك ګنړی لکه سورة الانعام ۱۰۰، ۱۲۸ **وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ﴿۱۰۰﴾** [انعام]

**( ۳ ) مشرکین بالملائکة:** چه فرشتی دالله سره حصه داری اوشریك ګنړی لکه سورة سبا۴۰،النجم ۲۶ **وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ﴿۴۰﴾**[سبا]

**(٤ ) مشرکین بالکواکب:** چه نمر،سپوږمۍ اوستوری دالله سره شریك ګنړی لکه سورة النمل ٢٤،حم السجدة ٣٧، **وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ﴿۴۳﴾**

## توحیداودهغې اقسام

**توحید:-** الله تعالی په خپل ذات صفاتواو افعالو کښې واحد اویکتا منل اوهیڅ څوك ورسره حصه داراوشریك نه ګرځول دے ته توحیدوائی

○ ﴿قَالَ اِبْنُ حَجَرٍ اَلتَّوْحِيدُ مَصْدَرُ وَحَّدَ يُوَحِّدُ وَمَعْنٰى وَحَّدْتُّ اللّٰهَ اِيْ اِعْتَقَدْتُّهٗ مُنْفَرِداً بِذَاتِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَلَا نَظِيرَ لَهٗ وَلَا شَبِيهٗ﴾ [فتح الباری کتاب التوحید] یعنی توحیدد وحدیوحدمصدردے اود وحدّتُ الله معنٰی داده چه زۀ دالله تعالی په ذات اوصفاتو کښې دیووالی اویکتا کیدو عقیده لرم اوداچه دالله څوك نظیرشبیه اومثل نشته

○ ﴿وفی شرح المقاصد[۲۷/۳] اِعْتِقَادُ عَدَمِ الشَّرِيكِ فِي الْاُلُوْهِيَةِ وَخَوَاصِّهَا﴾ یعنی دتوحیدنه مراد داعقیده ساتل دی چه دالله تعالی سره په الوهیت (خدائی) اودهغې په خواصوکښې هیڅ څوك شریك نشته ـ

## دتوحيدعنوانات:

مسئله دتوحيدچونکه ټولو مسائلو کښې اهمه مسئله ده ددې وجےنه الله تعالى قرآن مجيدکښې په ډيرو عنواناتو اوپه قسماقسم اندازونو سره ذکر کړے اوبيان کړے ده ، دے دپاره چه ښه واضحه شی اودخلقو ذهن ته ښۀ پريوځی لکه توحيد ـ

کله په عنوان د ا لٰه، سره ذکر کوی لکه سورة البقره: ١٦٣ـ **وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴿١٦٣﴾**

کله په عنوان دعبادت ، سره ذکرکوی لکه سورة البقره:٢١ ـ **يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٢١﴾**

کله په عنوان دتسبيح، سره ذکرکوی لکه سورة حديد:١ ـ **سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١﴾**

کله په عنوان دتحميد،سر ه لکه سورة الفاتحه:١ انعام :١ ـ **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١﴾**

کله په عنوان دبرکت، سره ذکرکوی لکه سورة الملك:١الفرقان:١ ـ **تَبٰرَكَ الَّذِىْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ﴿١﴾**

کله په عنوان ددعاء، سره لکه سورة الاعراف: ٥٥ ـ **اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۗ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٥٥﴾**

کله په عنوان دملك سره لکه سورة ال عمران: ١٨٩ ـ **وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٨٩﴾**

## دتوحيدقسمونه:

**( ١ ) توحيدفی الذت:** يعنی الله تعالى واجب الوجودمنل او دا منل چه الله تعالى په خپل وجودکښے چاته محتاج نه دے (دالله وجودتسليمول اودزړه نه دامنل چه دالله سره په ذات کښے څوك شريك

نشته) دارنګ الله تعالى واجب الوجودمنلوسره سره قدیم، ازلي اوابدی منل اودعدم او فناء نه پاك منل- دتوحیدفی الذات په مقابل کښې شرك فی الذات دے لکه [سورة النحل: ۵۱ ،المائده:۷۳] **وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ؕ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ۝** [النحل]

**(۲) توحیدفی الربوبیۃ:** یعنی داعقیده ساتل چه دټول کائناتو اوموجوداتو خالق صرف یوذات دے چه هغه داټول پیداکړی دی اوهغه الله رب العزت دے هم دغه الله دټولو څیزونومالك مدبراوتصرف کونکے، دټول عالم تدبیراوانتظام چلوونکے اودټول عالم پالونکے دے اوهم دغه الله ددے پاللو دپاره باران ورکوی بوټی میوے اوفصلونه راټوکوی، دارنګ خوراك پوشاك اواوبه وغیره پیداکوی، دیته توحید فی التصرف والتدبیرهم وائی ددے مقابل کښې شرك فی الربوبیة یاشرك فی التصرف والتدبیردے۔ **يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ۝ۙ** [البقره]

دتوحیدددے قسم نه صرف دهریه (کمیونسټ) منکردی مشرکین هم دربوبیت دالله قائل دی او اعتراف ئے کوی. لهذا د توحید صرف دایوقسم منونکے کامل موحدنشی کیدے تر څو پورے چه دتوحید نور اقسام اونه منی، البته توحیدفی الربوبیة دتوحیددنوروقسمونودپاره دبنیاد اواساس حیثیت لری اوددےپه بیان سره دالله تعالی عظمت اولوئی زړه کښې پیداکیږی۔

**( ۳ ) توحیدفی الالوهیۃ:** دتوحیدداقسم په لااله الاالله کښې موجوددے. دیته توحیدفی المعبودیة هم وائی ۔ مطلب دا چه دعبادت اودبندګئ دټولو قسمونومستحق صرف اوصرف الله منل اودالله

تعالی نه علاوه بل هیڅ څوك دعبادت دهیڅ یوقسم او جزء لائق اومستحق نه ګنړل ـ **اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ**﴿۴﴾

دتوحیدددے قسم لاندے توحیدفی الدعاء والنداء ، توحیدفی العبادت ، مالی وجانی عبادت ، نذرونیاز اومنخته دحاجاتو مشکلاتو پوره کول ، رکوع سجده ،قیام کول اونورټول خدائی تعظیمونه داخل اوشامل دی ـ

**(٤)توحیدفی الاسماء والصفات:** په قرآن مجید او صحیح احادیثو کښے چه کوم نومونه اوصفتونه دالله تعالی دپاره بیان اوثابت دی په هغه ټولوباندے عقیده ساتل اوهغه دبل چادپاره نه منل ،اودکومو نومونواوصفتونو نفی چه قرآن اوحدیث کښے دالله تعالی نه شوے ده هغه دالله تعالی نه نفی کول (یعنی هغه لره ئے نه ثابتول ) دالله تعالی اکثر چه ډیرزیات صفات اونومونه دی خودهغے نچوړ اوخلاصه دوه صفتونوکښے راجمع ده یوصفت دعلم اودویم صفت دتصرف (قدرت کارسازی)

دالله تعالی چه څومره نورصفتونه دی لکه استواء علی العرش ، یدٌ ، وجه اوعین وغیره په دے ټولوداعقیده ساتل چه داصفتونه الله تعالی لره دهغه دشان مناسب ثابت اولائق دی،ددے صفتونو نه نه خو انکارکول اونه پکښے باطل تاویل اوتحریف کول، اونه دمخلوق سره دهغے تشبیه اوتمثیل جائزدے د امام ما لك او دارنګه ام سلمه رضی الله عنهانه نقل دی چه:

﴿اَلۡاِسۡتِوَاءُ مَعۡلُوۡمٌ وَالۡكَيۡفُ مَجۡهُوۡلٌ وَالۡاِيۡمَانُ بِهٖ وَاجِبٌ وَالسُّؤَالُ عَنۡهُ بِدۡعَةٌ﴾

**(۵)توحیدفی الحاکمیة** : دیته توحیدفی الاطاعة ، توحیدفی التحلیل والتحریم، توحیدفی الحکم والقانون اوتوحیدفی الشرع والتشریع هم وائی۔

یعنی داعقیده ساتل چه دشرع اوقانون جوړونکے ذات صرف الله دے او دا صرف دالله حق دے یعنی چه الله کوم څیزونه حلال کړی دی هغه حلال ګنړل اوچه الله کوم څیزونه حرام کړی دی هغه حرام ګنړل (یعنی دالله حلال حلال ګنړل اودالله حرام حرام ګنړل)۔

دارنګ دانسانانواوپیریانو د روزمره ژونددتیرولو دپاره اودملك اودقوم دپاره قانون اوآئین جوړولو حق اواختیارصرف الله لره ثابت ګنړل اودالله نه علاوه بل چالره داحق قطعاثابت اوحاصل نه دے نوکه څوك دالله حراموته حلال وائی یادالله حلالوته حرام وائی یادالله تعالی درسول په مقابله کښے اودشرعی دلیل په مقابله کښے په تحلیل اوتحریم کښے دبل چاطاعت کوی اویادالله تعالی اودرسول الله دحکم اوقانون په مقابله کښے دیوصاحبِ اقتداربادشاه حکم اوقانون منی اودشرعی قانون اوحکم نه انکارکوی نوداټول شرك اوکفردے . اِنِ الْحُکْمُ اِلَّا لِلّٰهِ [یوسف]

**شرک :**

دتوحیددنورډیروضاحت اوپوهے دپاره دشرك تعریف اوقسمونه پیژندل ضروری دی ځکه چه ﴿ **تُعرَفُ الاَشیاءُ بِاَضْدَادِهَا، وَبِضِدِّهِ تَتَبَینُ الاَشیاءُ** ﴾ [څیزونه په خپل ضدسره ښه پیژندلے کیږی] لاندے دشرك تعریف اوقسمونه ذکرکیږی.

**تعریف د شرک:** دالله تعالى سره دهغه په ذات صفاتو،اسماؤ او افعالو کښې څه قسم مخلوق [نبي ،ولي ، پير ، فقير، بزرګ،حجر،شجر، قبراوبت وغيره] حصه داراوشريك ګڼړل ـ

○ امام شاولي الله دهلوی رحمه الله ليکي:

﴿وَالشِّرْكُ اَنْ يُّثْبِتَ لِغَيْرِاللهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شَيْءٌ مِنَ الصِّفَاتِ الْمُخْتَصَّةِ بِهٖ﴾ [الفوزالکبير:۲۰]

"شرك ديته وائی چه دالله تعالى دخاصو صفتونونه يوصفت دغيرالله دپاره ثابت کړے شی (او وګڼړلے شی)

○ علامه شامی ليکی : ﴿وَالْمُشْرِكُ مَنْ عَبَدَمَعَ اللهِ غَيْرَهٗ﴾

[شامی:۳/۳۹۶]

مشرك هغه دے چه دالله تعالى سره سره دنورو عبادت هم کوی ـ

الغرض بس په لنډو الفاظو کښې شرك دوه خبری دی يو د الله صفات بل چا لره ورکول او بل د الله عبادت او بندګی بل چا لره کول ـ

**دشرک قسمونه:** دشرك غټ دوه قسمونه دی ،

( ۱ ) شرك اعتقادی يعنی دعقيدے شرك ( ۲ ) شرك فعلی يعنی په عمل اوعادت کښې شرك

**شرک اعتقادی:** شرك اعتقادی په څلورمه قسمه دے ـ

(۱) شرك فی العلم ( ۲ ) شرك فی التصرف ( ۳ ) شرك فی الدعاء (٤)شرك فی العبادة

**( ۱ ) شرک فی العلم:** دالله تعالى په شان په مخلوق کښې څوك (نبی ،ولی پير،فقير ژوندے يامړ) عالم الغيب (مافوق الاسباب يعنی بغيرداسبابوپه پټو څيزونوپوهه لرونکے ) منل اوګڼړل لکه سورة النحل:٦٥،الاعراف ١٨٨،الانعام ٥٩ ۰ **قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ**

اللّٰهُ ؕ وَلَوۡ كُنۡتُ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ لَاسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ الۡخَيۡرِ ۖۚ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوۡٓءُ ۚ اِنۡ اَنَا اِلَّا نَذِيۡرٌ وَّبَشِيۡرٌ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۸۸﴾ [الانعام]

○ علامه شامی رحمه الله فرمائی: ﴿اِنَّ دَعْوٰی عِلْمِ الْغَیبِ مُعَارِضَۃٌ لِنَصِّ الْقُرْآنِ فَیَکْفُرُ بِہا﴾ [ردالمحتار: ۳/۳۹۷] یعنی دعلم غیب دعویٰ کول (په خپله یادبل چا په باره کښے) دقرآن خلاف ده لهذا کفردے

○ ملاعلی قاری رحمه الله لیکی: ﴿اَلْکُفْرُ عَلٰی اِعْتِقَادِ اَنَّہٗ عَلَیْہِ السَّلَامُ عَالِمُ الْغَیْبِ﴾ [مرقات: ۳/۱۰۰]

داعقیده ساتل چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم عالم الغیب دے کفردے.

**(۲) شرک فی التصرف:** دالله تعالی په شان دالله مخلوق بغیر داسبابو(مافوق الاسباب) اختیارمند واکدار، حاجت روا، مشکل کشا اولاداوبرکات ورکونکی ګنړل .سورة الانعام: ۱۷،سورة الرعد: ۱٦،الفرقان: ۳ وَاِنۡ يَّمۡسَسۡكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ؕ وَاِنۡ يَّمۡسَسۡكَ بِخَيۡرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۷﴾ [الانعام]

○ قال ابن کثیر رحمه الله: ﴿مَنْ زَعَمَ اَنَّ اللہَ تَعَالٰی جَعَلَ لِلْعِبَادِ مِنَ الْاَمْرِ شَیْئًا فَقَدْ کَفَرَ﴾ [ابن کثیر: ۴/۲۳۱]

یعنی دچا چه داخیال اوعقیده وی چه الله تعالی خپلو بندګانوته (دمخلوق او کائناتو) اختیارورکړے دے نوپه دے عقیدے سره کافرشو.

○ قال الشامی رحمه الله: ﴿مِنْہَا اَنَّہٗ ظَنَّ اَنَّ الْمَیِّتَ یَتَصَرَّفُ فِی الْاُمُوْرِ دُوْنَ اللہِ وَاِعْتِقَادُہٗ ذٰلِکَ کُفْرٌ﴾ [ردالمحتار: ۲/۱۲۸] یعنی دچاچه داعقیده وی چه دالله تعالی نه علاوه مړی دکائناتو په امورو کښے تصرف کوی نوداعقیده ساتل کفردے.

**(۳) شرک فی الدعاء والاستعانة:** دالله تعالی نه سیوا په مخلوق (نبی ،ولی ،پیرفقیرژوندے یامړے) کښے څوك حاجت روا، واكدار اوعالم الغیب ګڼړل اوپه دغه عقیده هغه ته رامددشه وئیل اوغائبانه آواز ورته کول اومددترینه غوښتل.لکه سورة مومن ایت:٦٠،سورة الرعد:١٤،سورة الفاطر:١٤،الاحقاف:٥، الانعام: ٧١ **قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِى الْاَرْضِ حَيْرَانَ لَهٗٓ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴿۷۱﴾**

○ علامه محمدطاهر الفتنی رحمه الله فرمائی: ﴿**وَمِنْهُمْ مَنْ قَصَدَ بِزِيَارَةِ قُبُوْرِ الْاَنْبِيَآءِ وَالصُّلَحَآءِ اَنْ يُصَلِّيَ عِنْدَ قُبُوْرِهِمْ وَيَدْعُوَ عِنْدَهَا وَيَسْأَلَهُمُ الْحَوَائِجَ وَهٰذَا لَا يَجُوْزُ عِنْدَ اَحَدٍ مِنْ عُلَمَاءِ الْمُسْلِمِيْنَ فَاِنَّ الْعِبَادَةَ وَطَلَبَ الْحَوَائِجِ وَالْاِسْتِعَانَةَ حَقُّ اللّٰهِ وَحْدَهٗ**﴾ [مجمع البحار:٢/٤٣]

یعنی بعضے خلق د انبیاء کرامو او د بزرګانو د قبرونو (مزارونو)زیارت ته په دے نیت اوارده ځی چه هلته دهغوی دقبرونوپه خواکښے مونځ اوکړی اودهغوی نه خپل حاجات اوغواړی ،حالانکه دادمسلمانانودیوعالم په نزدهم جائزنه ده ځکه چه عبادت اوحاجتونه اومددغوښتل صرف دالله رب العزت حق دے.

○ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی :﴿**مَنْ ظَنَّ اَنَّ الدُّعَاءَ عِنْدَ الْقُبُوْرِ اَفْضَلُ من فی الْمَسَاجِدِ فَقَدْ كَفَرَ فَقَدِ اتَّفَقَ اَئِمَّةُ الْمُسْلِمِيْنَ عَلٰى اَنَّ اِتِّخَاذَ الْقُبُوْرِ لِلدُّعَاءِ عِنْدَهَا اَوِ الصَّلٰوةِ لَيْسَتْ مِنْ دِيْنِ الْاِسْلَامِ ،وَقَدْ تَوَاتَرَتِ السُّنَنُ فِى النَّهْىِ عَنْ اِتِّخَاذِهَا لِذٰلِكَ**﴾ [مختصر فتاوی المصريه :٧٥]

ترجمه: دچاچه داخیال وی چه دعاګانے دجوماتونو په ځائے دقبرونو(مزارونو) په خواکښے غوره اوافضل دی نویقیناً دے سړی کفراوکړو ځکه چه دمسلمانانوامامان په دے متفق دی چه مزارونه

ددعاګانو او مونځونو دپاره مقررول په دین اسلام کښے نشته. او په احادیثوکښے قبرونه مزارونه د دعاګانو او د مونځونو د پاره دمقررولونه منع راغلے ده.

**( ٤ ) شرک فی العبادة** : دالله تعالی عبادت رکوع ،سجده طواف وغیره په مخلوق (نبی ولی پیرے ،پیر، فقیر، ژوندے یامړے بت قبر،حجریاشجر)کښے دچادپاره کول.لکه سورة النساء: ٣٦، الرعد:٣٦، الانعام: ٥٦، النحل: ٧٣ **قُلْ اِنِّیْ نُهِیْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِیْنَ﴿۵۶﴾** [الانعام]

**شرک فعلی**: دشرك فعلی څلورقسمونه دی:

(١) تحریمات غیرالله (٢)نذرغیرالله(٣) شرك فی البرکات ( ٤ ) شرك فی الحکم والقانون.

**(١)تحریمات غیرالله** :- تحریمات غیرالله دیته وائی چه یوخیزحلال وی الله ترینه منع نه وی کړے اونه ئے حرام کړے وی اویوکس ئے دغلطے عقیدے(لکه دغیر الله نه دویرے یا د غیرالله د قربت حاصلولوپه عقیدے) په وجے، دخپل طرف نه یادبل چاپه ویناحرام اوګنړی لکه داوئیل اوداعقیده ساتل چه فلانکے خیز(خوراك جامه وغیره ) په مونږ باندے ساپ (راس) نه راځی که مونږ ئے استعمال کړو نواولاد، مال ، دولت به موتباه شی داعقیده ساتل شرك دے ،لکه سورة المائده:٨٧، ٨٨ ،البقره: ١٧٣،الانعام : ١٣٨

**وَقَالُوْا هٰذِهٖۤ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖۗ لَّا یَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا یَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَیْهَا افْتِرَآءً عَلَیْهِ ؕ سَیَجْزِیْهِمْ بِمَا كَانُوْا یَفْتَرُوْنَ﴿۱۳۸﴾**[الانعام]

**تحریمات الله**: دتحریمات غیرالله په مقابله کښے تحریمات الله دی یعنی دالله حرام کړے شوے خیزونه حرام ګنړل اوحلال ئے نه ګنړل نوداتوحیددے لکه سورة المائده: ٢، ٩٥، ٩٦ .

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ اٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۪ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲﴾ [المائده]

**(۲) نذرغیرالله:** دالله تعالی نه سیوادیومخلوق (نبی ولی ،بزرګ پیرفقیرمړے یاژوندے )په نوم (په دے عقیدے چه هغه دنفع اونقصان ذمه واردے اوهغه ته دقربت حاصلولو دپاره) نذر و نیاز منخته کول اوشکرانه ورکول ۰ نوداشرك اوحرام دی لکه سورة البقره :۱۷۳،المائده: ۳،الانعام :۱۳۶

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ [الانعام]

- شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : ﴿اَمَّا النَّذْرُ لِلْمَوْتٰى مِنَ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمَشَائِخِ وَغَيْرِهِمْ اَوْ لِقُبُوْرِهِمْ اَوْ لِلْمُقِيْمِيْنَ عِنْدَ قُبُوْرِهِمْ فَهُوَ نَذْرُ شِرْكٍ وَمَعْصِيَةٍ لِلّٰهِ تَعَالٰى سَوَاءٌ كَانَ النَّذْرُ نَفَقَةً اَوْ ذَهَبًا اَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ وَهُوَ شَبِيْهٌ لِمَنْ يَنْذُرُ لِكَنَائِسِ الرُّهْبَانِ وَبُيُوْتِ الْاَصْنَامِ﴾

[مجموعه رسائل شرح دعاء ذوی النون :۸۶]

- علامه شامی رحمه الله لیکی:﴿اِعْلَمْ اَنَّ النَّذْرَ الَّذِيْ يَقَعُ لِلْاَمْوَاتِ مِنَ الْعَوَامِ وَمَا يُؤْخَذُ مِنَ الزَّيْتِ وَالشَّمْعِ وَنَحْوِهِمَا يُنْقَلُ اِلٰى ضَرَائِحِ الْاَوْلِيَاءِ الْكِرَامِ تَقَرُّبًا اِلَيْهِمْ فَهُوَ بِالْاِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ وَقَدِ ابْتُلِيَ النَّاسُ بِذٰلِكَ وَلَاسِيَمَا فِيْ هٰذِهِ الْاَعْصَارِ﴾[درالمختار قبل الاعتکاف]

پوهه شه چه هغه نذراوهغه تیل شمعے اوداسے نورخیزونه چه عوام ئےداولیاکرامو قبرونو(مزارونو) ته دتقرب په نیت پیش کوی نوداپه

اجماع سره باطل اوحرام دی اوخلق په دے کښے ډیرمبتلادی ،خاصکر ددے زمانے خلق.

**نذرالله:** نذردغیرالله په مقابله کښے نذرالله دے یعنی دالله تعالی په نوم نذرونیازاومنخته منل اوکول ، چه که ځمادافلانکی کار اوشو نوفلانے نیك کاربه کوم یاصدقه، خیرات به کوم وغیره نوداجائزبلکه توحیددے لکه سورۃ البقره :۲۷۰،ال عمران: ۳۵، مریم:۲۶،الحج : ۲۹_ **اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّیْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِیْ بَطْنِیْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ**﴿۳۵﴾[العمران]

**( ۳ ) شرک فی البرکات:** دالله تعالی نه سیوا یومخلوق (نبی ،ولی ،پیرفقیرژوندے یامړے) په مال ،اولاد عمر، کاروبار، کور وغیره کښے برکت اچوونکے ګڼړل لکه سورۃ الفرقان ایت ۱، ۱۰، ۶۱ _ سورۃ الملك ۱. **تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ ۫ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرُ**﴿۱﴾

○ **قَالَ الْعَلَّامَۃُ الْاٰلُوْسِی نَاقِلًا عَنِ الْاِمَامِ الرَّازِی : ﴿اِنَّ الْبَرَكَۃَ لَہٗ تَفْسِیرَانِ اَحَدُھُمَا الْبَقَاءُ وَالثُّبَاتُ وَالثَّانِیْ كَثْرَۃُ الْاٰثَارِ الْفَاضِلَۃِ فَاِنْ حَمَلْتَہٗ عَلَی الْاَوَّلِ فَالثَّابِتُ الدَّائِمُ ھُوَاللّٰہُ تَعَالٰی وَاِنْ حَمَلْتَہٗ عَلَی الثَّانِیْ فَكُلُّ الْخَیْرَاتِ وَالْكَمَالَاتِ مِنَ اللّٰہِ تَعَالٰی فَھٰذَا الثَّنَاءُ لَایَلِیْقُ اِلَّا بِحَضْرَتِہٖ جَلَّ وَعَلَا﴾** [روح المعانی :ص:۱۳۹ج:۸تفسیرالکبیرص:۱۱۸ج۱۴]

**( ٤ ) شرک فی الحکم والقانون:** دالله تعالی اودرسول الله یعنی دشریعت دقانون اوفیصلے په مقابله کښے دبل چاپه قانون فیصلے کول اوپه هغے دزړه نه راضی کیدل .لکه سورۃ المائده ٤٤، ٤٥، ٤٧، ٤٩- **اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِیْهَا هُدًی وَّنُوْرٌ ۚ یَحْكُمُ بِهَا النَّبِیُّوْنَ الَّذِیْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِیْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِیُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَیْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا ؕ وَمَنْ لَّمْ یَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ**﴿۴۴﴾[المائده]

○ موضح القرآن کښے شاه عبدالقادردهلوی دسورت انعام ایت: ۱۲۲ لاندے لیکی:

"یعنی شرک فقط یہی نہیں کہ کسی کوسوائے خدا کے پوجے بلکہ یہ شرک کے حکم میں ہے کہ اور کا مطیع ہووے"

## دقرآن (د غټو اهمو مضامینو دتوحیداوشرک دوضاحت نه پس) باقی مضامین

**(۱) صدق الرسول:** دنبی کریم صلی الله علیه وسلم رشتینوالے په قرآن مجیدکښے الله تعالی ښۀ په پوره تفصیل او وضاحت سره بیان کړے دے ددے دپاره چه د رسالت دمنکرینو څه عذراوبهانه پاتے نه شی .لکه سورة البقرة: ۱۱۹،النساء: ۱۳، ٦٥ ، ۱۱۵، ۱٦۳ یوسف: ۱۰۲، الاعراف: ۱۵۸ ، ال عمران: ۳۲، ٤۳، ۸۱، الاحزاب: ۳٦ ، الرعد:٤۳، **اِنَّآ اَرۡسَلۡنٰكَ بِالۡحَقِّ بَشِیۡرًا وَّنَذِیۡرًا ۙ وَّلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ اَصۡحٰبِ الۡجَحِیۡمِ﴿۱۱۹﴾**[البقره]

ددے ایتونو نه علاوه دپیغمبرد رشتینوالی بیان د پاره مستقل سورتونه هم نازل شوے دی لکه سورة والضحیٰ سورة الانشراح وغیره

**(۲) صدق القرآن:** الله تعالی دقرآن مجید رشتینوالی او حقانیت په قرآن کښے په مختلفو طریقو سره واضح کړے دے دټولو نه وړومبنۍ وحی (سورة العلق ) کښے الله تعالی دقرآن دلوستلو حکم کړے دےاوسورة القدرکښے ئے دقرآن عظمت بیان کړے دے اوسورة المزمل کښےئے ترغیب الی القرآن اوسورة المدثرکښے ئے ترغیب الی تبلیغ القرآن ذکر کړ ے دے. دارنګ دقرآن رشتینوالے په مختلفو ایاتونوکښے ذکر دے لکه سورة النساء: ۱۱۳، النحل: ٦٤، الاسراء: ۱۰۵، الفاطر: ۳۱،

یونس: ۳۷، الاعراف: ۳ ، ۱۵۷، الزمر:۵۵، وغیرہ . **وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا﴿۱۱۳﴾**

[النساء]

**(۳) الایمان بالاخرة:** دارنګ داخرت داثبات بیان قرآن په ګنړو سورتونو کښے ذکر کوی لکه سورة الاسراء: ۱۰، الرعد:۲، الجاثية: ۲٦، الحج: ۷، حم السجدة: ۷ ، سباء: ۸ الانعام: ۹۲

**وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا﴿۱۰﴾** [بني اسرائيل]

**(٤ )الجهادفی سبیل اللّٰه :** جهادچونکه ددغه اولنی څلو رو اصولو داشاعت اوخورولو ذریعه ده ددے وجے نه الله تعالی په قرآن مجیدکښے دجهادحکم ،دجهادقسمونه ،اوچه دچاسره به جهادکیږی هغه تفصیلاً ذکرکړی دی لکه سورة البقره: ۲٤٤، التوبة: ۷۳، ۱۲۳، الانفال: ۷۳ ، الصف: ۱۰، وغیره ـ

**وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴿۲۴۴﴾**[البقره]

**(۵ )الانفاق فی سبیل اللّٰه:** دجهاد حکم اودالله تعالی ددین دعوت اوخدمت دمال لګولو نه بغیر په پوره طریقے سره سرته نه رسی ددے وجے نه قرآن مجیدپه انفاق هم ډیر زور ورکوی لکه سورة البقره: ۳ ، ۱۹۵، ۲٦۲، ۲٦۵، ال عمران: ۱۳٤، التوبة: ۳٤، ۹۹، ۱۲۱ ۰ **اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ﴿۳﴾**[البقره]

**(٦ ) التنظیم:** ددے اصل یومقصددادے چه مسلمانان په خپلوکښے منظم اومتفق شی، ځکه چه اسلام اجتماعیت خوښونکے دین دے. دویم مقصد دادے چه ددے اصل تعلق دجهاد ، دعوت ددین ،اواقامت ددین سره دے او داټول کارونه (جهاد،دعوت اواقامت ) دجماعت اونظم نه بغیر ممکن نه دی، ددے وجے نه قرآن مجیدپه خپل

مینځ کښې منظم اوسیدو، دامیرد اطاعت اودشورئ داصولو وغیره بیان کوی .

دتاسیس الجماعة دپاره پنځه قاعدے په سورة ال عمران کښے ۱۰۲ تا ۱۱۸، د امیر اوماموراحکام سورة النساء کښے اودشورئ قاعدے او اداب په سورة المجادلة کښے او دامیر شرطونه اوصفتونه په سورةالبقرة ۲٤٦،ال عمران ۱۵۹، ۱٦۱، ۱٦٤،کښے اودجماعت دارکانودرے قسمونه په سورة المزمل کښے ذکر دی.

**(۷) الاداب :** په دنیاکښے دژونددتیرولو اودهرقسم کا ردکولو شریعت څه اداب مقررکړی دی، قرآن مجیددهغےبیان هم کړے دے لکه ددعوت اداب شو په سورة المؤمنون ۹٦ ، الشعراء ۲۱۳ کښے، په کورکښے دژونددتیرولو اداب په سورة النور۵۸، ۵۹ ، ٦۰ کښے، دارنګ دجماعت دحفاظت اداب او دارکانوپه خپل مینځ کښے دتعلقاتو اداب په سورة الحجرات وغیره کښے ذکر دی.وبالله التوفيق.

# سورة الفاتحه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَكَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ الْاَتْقِیَاءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ط

## د سورت فاتحے دتفسیر نه مخکښے یو څو بنیادی او ضروری خبرے۔

**اهمیت اوفضلیت دقرآن** : قرآن اودقرآن علم بهتراواشرف علم دے ،او ولے به نه وی چه قرآن دشرافت کتاب دے ﴿قال اللّٰہ تعالی : صٓ وَالْقُرْآنِ ذِی الذِّكْرِ﴾ [سورة ص]

چه قرآن دَ شرافت کتاب دے نوعلم ئے هم اشرف علم دے.

اونبی صلی الله علیه وسلم هم فرمائیلی دی چه:

﴿اَشْرَافُ اُمَّتِیْ حَمَلَةُ الْقُرْآنِ﴾

شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه قرآن دټولو علوموماخذ دے ټول علوم په دے کښے موجوددی.

شیخ نیلوی رحمه الله به فرمائیل:

*میں نے علوم جمع کیے ہیں یہ میری استقراء ہیں جو ظنی ہیں اور بھی شاید ہو لیکن پھر بھی وَفَوْقَ كُلِّ ذِیْ عِلْمٍ عَلِیْمٌ، پس صحیح علم، علم قرآن ہے اگر دنیاوی علوم کسی نے کی ہو اور دوسرا کوئی قسم کھا کر کہے یہ عالم نہیں، جاہل ہے تو وہ حانث نہیں ہوگا.*

قال تعالی : ﴿ھُوَ خَیْرٌ مِّمَّا یَجْمَعُوْنَ﴾ [یونس: ۵۸]

دابن عمر رضؓ روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیل:

﴿اَلْعِلْمُ ثَلَاثَةٌ فَمَا وَرَاءَ ذٰلِكَ فَھُوَ فَضْلٌ ،اٰیَةٌ مُحْكَمَةٌ اَوْسُنَّةٌ قَائِمَةٌ اَوْفَرِیْضَةٌ عَادِلَةٌ﴾ [ابن ماجه: ٦]

دقرآن حق دادے چه د قران زده کړه اوشی اودا ځکه چه په عبادتونو کښے اهم عبادت دقران زده کړه ده.

قران پاك کښے الله تعالی په (سورت فرقان ۵۲) کښے فرمائی: ﴿وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا﴾

(يعنی ددے خلقو سره ددے قران په ذريعه جهاد اوکړه ځکه چه دا لوئ جهاد دے .)

اوپه يو حديث کښے راځی .نبی کريم صلّی الله عليه وسلم فرمائی: ﴿أَشْرَافُ أُمَّتِي حَمَلَةُ الْقُرَانِ وَأَصْحَابُ اللَّيلِ﴾

(يعنی ځماپه امت کښے اشراف ترين خلق هغه څوك دی؟ چه قران ئے راغستلے وی اود زده کړه ئے کوی.

او دويم قسم خلق هغه څوك دی چه دشپے الله تعالٰی ته ولاړ وی.

چونکه داکار ډير عظيم دے نو ددے خيال به هم ډيرزيات ساتلے کيږی بلکه دقران سره چه دچاواسطه راشی نو هغه ټول به قابل احترام وی.هغه که د قران کسوره ده او که رحيل دے.که دقران طالب دے او که استاددے.او که دقران د ښودلو ځائے دے، داټول څيزونه به محترم وی.

علامه سخاوی المقاصدالحسنة [ص٦، ٧]کښے دسيدنا علی رضی الله عنه قول ذکر کړے دے.چه

﴿كُلُّ اٰيَةٍ مِّنْ كِتَابِ اللّٰهِ خَيرٌ مِّنَ الدُّنْيا وَمَا فِيهَا وَكُلُّ اٰيَةٍ مِّنْ كِتَابِ اللّٰهِ خَيرٌ مِّنْ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهِ﴾

يعنی دقران کريم هر يو اٰيت ددنيا وما فيها نه او دمحمد صلّی الله عليه وسلم او دهغه د اٰ ل نه بهتر دے.

ددنیا وما فیها نه ځنګه بهتردے ؟ دا خبره خو واضحه ده . خو دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ځنګه بهتر دے ؟
نو ددے جواب دادے چه دقران کریم د خورولو(دعوت او تبلیغ) او په هغے باندے عمل کولواونافذکولو دپاره نبی کریم صلی الله علیه وسلم ډیر تکالیف برداشت کړی دی ، د اُحد په میدان کښے ئے غاښونه مبارک شهیدان شوی دی او د طائف په موقع ئے پښړے مبارکے د وینو نه ډکے شوے دی.

هم دارنګ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم آ ل هم ددے قران کریم دپاره ډیر تکالیف برداشت کړی دی چه دچانه پټ نه دی.نو ګویا که قران الله تعالی ته دومره ګران او محبوب دے چه خپل محبوب پیغمبر او د هغه اهل ئے ترے قربان کړو.

**اداب دقرآن:** هرکله چه قران کریم یو اهم کتاب دے او په دے باندے ډیرے قربانئ ورکړے شوے دی. ددے وجے نه دقران کریم دآ دابو خیال ساتل ډیر ضروری دی.ځکه چه څوك دقران کریم د آدابو خیال نه ساتی نو الله تعالی هغه ته دقران علم نه ورنصیب کوی.
یحیٰی بن معاذ فرمائی : ﴿ **اِذَا تَرَكَ الْعَارِفُ اَدَبَهٗ مَعَ مَعْرُوْفِهٖ فَقَدْ هَلَكَ مَعَ الْهَالِكِيْنَ** ﴾
کله چه یوعارف دخپل معروف ادب پریږدی نویقینًا دے هلاك شو.
ابوعلی فرمائی :﴿ **تَرْكُ الْاَدَبِ يُوْجِبُ الطَّرْدَ فَمَنْ اَسَآءَ الْاَدَبَ عَلَى الْبِسَاطِ رُدَّ اِلَى الْبَابِ وَمَنْ اَسَآءَ الْاَدَبَ عَلَى الْبَابِ رُدَّ اِلٰى سِيَاسَةِ الدَّوَّابِ** ﴾
د ادب پریخودل شړل اورټل لازموی نوڅوك چه په فرش (درسګاه) ادب پریږدی نو دروازے ته دشړلو لائق دے اوڅوك چه په دروازه ادب پریږدی یعنی بی ادبی اوکړی نوهغه دخاروو غوجل ته دشړلو لائق دی .

ابن مبارك فرمائی : ﴿نَحْنُ اِلٰی قَلِیلٍ مِّنَ الْاَدَبِ اَحْوَجُ مِنَّا اِلَی کَثِیرٍ مِّنَ الْعِلْمِ﴾ (مونږ دډیر علم په مقابله کښے لږ ادب ته ډیر محتاج یو )
سهل فرمائی: ﴿مَنْ قَهَرَ نَفْسَهٗ بِالْاَدَبِ فَهُوَ یَعْبُدُ اللّٰهَ بِالْاِخْلَاصِ﴾
(چاچه خپل نفس په ادب مجبوره کړو نوهغه به د الله عبادت په اخلاص سره کوی)
ذوالنون فرمائی :﴿ اِذَا خَرَجَ الْمُرِیْدُ عَنْ اِسْتِعْمَالِ الْاَدَبِ فَاِنَّهٗ یَرْجِعُ مِنْ حَیْثُ جَاءَ﴾
کله چه مریددادب استعمالولو نه اووتلو (یعنی ادب ئے پریخودلو ) نودے به هغه مرتبے ته واپس کیږی دکومے نه چه راغلے وو.
مولانا روم صاحب مثنوی کښے فرمائی چه

از خدا خواہم توفیق ادب — بے ادب محروم گشت از فضل رب
بے ادب تنہا نہ خود را داشت بد — بلکہ آتش در ہمہ آفاق زد

یعنی د الله تعالی نه د ادب کولو توفیق غواړم ځکه چه بے ادبه د الله تعالی دمهربانو نه محرومه وی.اوبےادبه صرف ځان نه خرابوی بلکه په نورو اطرافوکښے هم اورلګوی)
**اول ادب:** یوادب دادے چه قرآن ته به په توجه سره کینے.ځکه چه په غافل زړه زده کړه نه کیږی.
یو حدیث کښے راځی چه دقران کریم خبر ګیری اخلئ ځکه چه دا د اوښ دخپے د رسئ نه د وتلو نه زیات زر د انسان د زړه نه وتونکے دے.
اوقران کریم کښے هم الله تعالی په سوره ق ۳۷ کښے فرمائی چه:
﴿اِنَّ فِی ذٰلِكَ لَذِکْرٰی لِمَنْ کَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَی السَّمْعَ وَهُوَ شَهِیْدٌ﴾

يعنى داقرٰان كريم هغه چالره فائده وركوى چه څوك ورته په توجه سره حاضر دماغه ناست وى.

**دويم ادب:** ددے سره سره به په قران كريم باندے دعمل نيت هم وى او دا نيت به وى چه په قران كښے كوم څيز نه زه منع كړے شوم نو دهغے نه به منع كيږم او دكوم كار كولو چه راته حكم اوشى،هغه به كووم.

كه چرے دا شرطونه پكښے وو نو هغه كسانوته به قران زده كول اٰسان وى څكه خو الله تعالى فرمائى.

﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ﴾ [سورة القمر]

يعنى قرٰان كريم مونږ اٰسان كړے دے.نو اٰيا څوك پنداو نصيحت قبلولو والا شته دے.

**دريم ادب: التفكر والتدبر فيه:** يعنى قرآن كښے غوروفكر كول اوځان ترينه نه غافل كول-

﴿وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا﴾

[الفرقان ٧٣]

**څلورم ادب: عدم مس القرآن بغير طهارة:** يعنى قرآن بے اودسه نه راغستل بلكه دپاكئ او د اودس اهتمام كول لكه:﴿ لا يَمَسُّهُ إِلا الْمُطَهَّرُونَ﴾ [الواقعة ٧٩]

**پنځم ادب: اَلْاِجْتِنَابُ مِنَ التَّكَبُّرِ وَلَوَاحِقِهِ اللَّتِيْ هِيَ الْمَوَانِعُ عَنْ فَهْمِ الْقُرْآنِ:**

لكه سورة الاعراف ١٤٦ :

﴿سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلا ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ﴾

زر ده چه څه به د خپل ایتونو نه هغه څوك واړوم چه په زمکه کښ نا مناسبه لوئ کوی که چرے دوی هره یوه معجزه اوګوری نو دوی ایمان نه راوړی که چرے دوی نیغه لار اووینی نو هغه لار باندے نه ځی او که چرے دوی د ګمراهئ لار او وینی نو په هغے باندے روان شی دا له دے وجے نه چه دوی ځمونږ ایتونه دروغژن ګڼړی او دوی ځمونږ د ایتونو نه غافله ؤو.

یعنی دفهم قرآن دموانعو نه ځان ساتل لکه تکبروغیره شو- ﴿قَالَ الزَّرْكَشِي وَاعْلَمْ اَنَّهُ لَا يَحْصُلُ لِلنَّاظِرِ فَهْمُ مَعَانِي الْوَحْيِ حَقِيقَةً وَلَا يَظْهَرُ لَهُ اَسْرَارُ الْعِلْمِ مِنْ غَيْبِ الْمَعْرِفَةِ وَفِي قَلْبِهِ بِدْعَةٌ اَوْاِصْرَارٌ عَلَى ذَنْبٍ اَوْهَوٰى اَوْحُبُّ الدُّنْيَا اَوْيَكُوْنُ غَيرَ مُتَحَقِّقِ الْاِيمَانِ اَوْضَعِيفَ التَّحْقِيقِ اَوْ يَكُوْنُ مُعْتَمِداً عَلَى قَوْلِ مُفَسِّرٍ لَيسَ عِنْدَهُ عِلْمٌ اِلَّابِالظَّاهِرِ مِنَ الْمَعَانِي اَوْيَكُوْنُ رَاجِعًااِلَى مَعْقُوْلِهِ﴾ [البرهان]

مطلب داچه نورموانع دفهم قرآن دادی:

(۱) بدعت ته میلان اوتعلق (۲) په ګناه همیشوالے کول (۳)دخواهش اتباع کول (٤) ددنیا سره مینه کول (٥)کلك ایمان والا نه کیدل (٦)کمزوری تحقیق والا کیدل (۷) دداسے مفسر په قول اعتمادکول چه هغه سره صرف سرسری علم وی (۸)په خپل عقل اورائے باندے اعتمادکول.

قال ذوالنون: ﴿اَبَى اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اِلَّا اَنْ يَحْرُمَ قُلُوْبُ الْبَطَّالِينَ مَكْنُوْنَ حِكْمَةِ الْقُرْآنِ﴾

یعنی الله تعالی د قران کریم د حکمتونو نه د باطل پرستو زړونه محروم ساتلی دی.

**قال سفیان ثوری:**

**﴿لَا تَجْتَمِعُ فَهْمُ الْقُرَآنِ وَالْاِشْتِغَالِ بِالْحُطَامِ فِی قَلْبِ مُؤْمِنٍ اَبَداً﴾**

د مومن بنده په زړه کښې د قران پوهه (فهم) او د دنیا محبت دواړه نه جمع کیږی.

**قال الحسن البصری: ﴿عِلْمُ الْقُرَآنِ ذَكَرٌ لَا يَعْلَمُهُ اِلَّا ذُكُوْرٌ مِّنَ الرِّجَالِ﴾**

[بره۱ان]

د قران کریم علم نارینه دے او په دے باندے نه پوهیږی مګر کامل سړی په نارینؤ کښې.

**شپږم ادب:** بل ادب دقران کریم دادے چه که چالره لیکل ورځی نو هغوی دے داستاذنه لیکل کوی .

نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه یو صحابی تپوس اوکړو چه ځما نه احادیث هیریږی نو ځه څه اوکړم؟

نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل! چه دخپل ښئ لاس نه کا ر واخله .یعنی د لیکلو نه کار واخله.

هم دارنګ په یو موقع باندے نبی کریم صلی الله علیه وسلم صحابو ته اوفرمایيل چه: **﴿اُكْتُبُوْا لِاَبِیْ شَاه﴾** یعنی دابو شاه دپاره لیکل اوکړئ.

او علماء کرام فرمائی: **﴿اَلْعِلْمُ صَيْدٌ وَالْكِتَابَةُ قَيْدٌ﴾** یعنی علم ښکار دے او لیکل ئے محفوظ کول دی.

ددے نه معلومه شوه چه لیکل ډیر اهم څیز دے . لهٰذا د قرآ ن تفسیراونکات دتفسیر هم لیکل پکاردی.

**اووم ادب:** هم دارنګ ددے علم دپاره محنت او دَ دے د لارے تکالیف به هم برداشت کوے.

دامام بخاری رحمة الله علیه په باره کښے راځی چه کله به علم له تلو نو دکور نه به ئے تیارے روټئ واغستلے او بیا به ئے په اوبو کښے لوندولے او خوړے به ئے .

یوبل محدث ابن ابی حاتم رحمة الله علیه فرمائی .چه مونږ هم ځان سره سړے روټئ راوړے وے .او چه کله به د سبق نه فارغ شو نو هغه به مو په اوبو کښے لوندے کړے او اوبه مو خوړلے.

هم دا محدث فرمائی چه یوه ورځ کبان خرڅیدل نو مونږ هم واغستل لیکن بیا د پخولو وخت نه وو نو کچه مو اوخوړل.

هم دا رنګ یومحدث فرمائی چه مونږ دمصر په صحراء کښے روان وو چه یو ملګرے رانه د تندے دوجے نه په زمکه پریوتلو.مونږ چونکه څه نه شو کولے .ددے وجے نه مونږ هغه په ځایے پریښودلواو روان شو ترینه. مونږ هم جل وهلی ووخو یو قافلے واله راله اوبه راکړے،نو مونږ هم اوڅکلے او هغه ملګری له مو هم یوړلے.

خلاصه داچه په دومره تکالیفو سره پخوانو علماؤ علمونه حاصل کړی وو ځکه خو دهغوی په علم کښے برکت وو.

## اداب متعلقه بنفس القرآن الکریم:

(۱) دقرآن نه تکیه نه جوړول ( ۲) په ښی لاس راغستل (۳)دقرآن طرف ته خپے نه غزول ( ٤) بے دعذرنه قرآن ته نه شاکول ( ٥) قرآن دپاسه خپے نه اړول ( ٦ ) قرآن دلرے نه یوبل ته نه ویشتل ( ۷ ) دقرآن دپاسه بل څه شئ نه کیخودل .

## اهمیت اوفضیلت د سورة فاتحه:

سورت فاتحے ته دقرآن په نورو سورتونو ډیرزیات فضیلت اواهمیت حاصل دے۰

(۱) اول داچه دقرآن ابتداء ددے سورت نه شوے ده ،مونځ ددے سورت نه شروع کیږی اودنزول په اعتبارهم سورت فاتحه هغه اول سورت دے چه ټول مکمل په یوځل نازل شوے دے،اګرچه ددے نه په نزول کښے مخکښ څلورنور سورتونه شته لکه سورة علق، قلم، مزمل اومدثر۰ خوهغه پوره پوره نه وو نازل شوی بلکه یوڅواولنی ایاتونه ئے نازل شوی وو لیکن فاتحه هغه اول سورت دے چه پورا نازلیدونکو سورتونوکښے اول پوره نازل شوے دے،هم دغه وجه وه غالبًااوهمدا مطلب دی د بعضوصحابو او مفسرینو ددی قول چه ﴿اِنَّ الْفَاتِحَةَ اَوَّلُ مَانَزَلَ﴾ فاتحه اول نازل شوی سورت دے یعنی په دے اعتبارچه ددے نه مخکښ پوره سورت نازل شوے نه دے بلکه دے ړومبے پوره نازل شده سورت دے۰

بله دا چه سورت فاتحه اجمال او خلاصه ده او باقی قرآن تفصیل دے .

هم دا رنګ سورت فاتحه متن دے او باقی سورتونه ئے تشریح ده.

(۲) دویم دفضیلت وجه داده چه د دے په باره کښے ډیرروایات نقل دی۰

○ دصحیح بخاری یوروایت کښے راځی، ابو سعیدبن المعلّٰی ته نبی کریم علیه السلام اوفرمائیل:

﴿لَاُعَلِّمَنَّكَ سُورَةً هِیَ اَعْظَمُ سُورَةٍ فِی الْقُرَآنِ قَالَ اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ هِیَ السَّبعُ الْمَثَانِیْ وَالْقُرَآنُ الْعَظِیْمُ﴾

ترجمه: زۀ تاته یوسورت ښائم چه هغه اعظم سورت دے په قرآن کښے اوبیائی الحمدشریف ولوستلو او وے فرمائیل چه داسبع مثانی اوقرآن عظیم دے.

○ بیهقی شعب الایمان کښے اومظهری هم دا روایت نقل کړے دے چه﴿اَلْفَاتِحَةُ دَوَاءٌ لِكُلِّ دَاءٍ﴾ فاتحه د هرے بیمارئ علاج دے اوپه یو حدیث کښے دے سورت ته دسورت شفاء نوم هم ورکړے شوے دے (قرطبی)

○ هم دا رنګ دبخاری یو روایت کښے دی چه ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی چه هغه اودهغه ملګری په سفرکښے وو یو مقام کښے مونږ له یو قوم ځائے رانه کړو.خو دشپے وخت کښے دهغے قوم څه خلق راغلل چه زمونږ سردار مار چیچلے دے،تاسو کښے څوك دم اچولو واله شته؟

نو ابوسعید رضی الله عنه ورغے او دم ئے پرے واچولو اوهغه ښه شو نو هغوی ورلره دیرش ګډے ورکړے. خو صحابو مینځ کښے پرے اختلاف پیدا شو نو خبره نبی کریم صلی الله علیه وسلم له راغله نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه تا پرے څه وئیلی وو؟

نو دے صحابی اوفرمائیل چه ما پرے سوره فاتحه وئیلے وه.نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه او دا سورت دم والا سورت دے. او مالره هم پکښے حصه راکړئ.

## اهمه تنبیه:

بعضے خلق دا حدیث د دم په اجرت کښے بار بار ذکر کوی او خپل کاروبار پرے حلالوی. نو دا خبره اول یا د ساتل پکار دی چه اول خو دا دَ دم اجرت وو نه ، ځکه چه امام سرخسی په مبسوط کښے

لیکلے دی چه دا مال غنیمت وو. او مال غنیمت کښے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم پنځمه حصه وی.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا غَنِمۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوۡلِ.......الخ﴾[انفال]

یعنی تاسو ته چه کوم مال غنیمت کښے راشی نو پنځمه حصه پکښے د الله او د رسول ده.

او که چرته ثابت هم شی نو داحادیثو مجموعه کښے صرف دا یو واقعه ذکر ده او دایو حدیث د کاروبار جوړولو په ثبوت باندے دلالت نه کوی.

خلاصه دا چه کاروبار ترے نه دی جوړول پکار.

○ دسنن روایت دے چه ابی بن کعب ته نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:

﴿اَلَا اُعَلِّمُكَ سُورَةً مَا اُنزِلَ فِي التَّوۡرَاةِ وَ لَا فِی الۡاِنۡجِیۡلِ وَلَا فِی الزَّبُوۡرِ وَلَا فِی الۡقُرۡآنِ مِثۡلُهَا فَاِنِّیۡ اَرۡجُوۡ اَنۡ لَا تَخۡرُجَ مِنۡ هٰذَا الۡبَابِ حَتّٰی تَعۡلَمَنَّ﴾

ایازۀ تاته داسے سورت نه ښائم چه دهغے په شان نه په تورات کښے اونه په انجیل کښے اونه په زبورکښے اونه په قرآن کښے نازل شوے دے او زۀ امیدلرم چه ته به لا دجمات د دروازے نه وتلے نه ئے چه تا به زده کړے وی نوبیائی تری تپوس اوکړو: کَیۡفَ تَقۡرَءُ فِی الصَّلٰوۃِ، چه ته په مانځه کښے څه لولے؟ نوهغه امر القرآن (فاتحه) اولوستلو نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل :

﴿وَالَّذِیۡ نَفۡسِیۡ بِیَدِهٖ مَا اُنۡزِلَ فِی التَّوۡرٰةِ وَلَا فِی الۡاِنۡجِیۡلِ وَلَا فِی الزَّبُوۡرِ وَلَا فِی الۡقُرۡاٰنِ مِثۡلُهَا اِنَّهَا السَّبۡعُ الۡمَثَانِیۡ وَالۡقُرۡاٰنُ الۡعَظِیۡمُ الَّذِیۡ اُوۡتِیۡتُهٗ﴾

قسم مِ دے وی په هغه ذات چه زماروح دهغه په اختیارکښے دے .نه دے نازل شوے ددے په شان نه په تورات کښے نه په انجیل کښے اونه په زبور کښے او نه په قرآن کښے اوداسبع مثانی اوقرآن عظیم دے کوم چه ماته راکړے شوے دے۰

○ بیهقی شعب الایمان کښے په اسنادحسن سره اوفتح العزیزاو اتقان هم دا روایت نقل کړے دے چه:

﴿ اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی مِائَةً وَّاَرْبَعَةَ کُتُبٍ ثُمَّ اَوْدَعَ عُلُومَهَا فِیْ اَرْبَعَةٍ مِنْهَا التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيْلُ وَالزَّبُوْرُ وَالفُرْقَانُ ثُمَّ اَوْدَعَ عُلُومَ التَّوْرَاةِ وَالاَنْجِيْلِ وَالزَّبُوْرِفِی الفُرْقَانِ ثُمَّ اَوْدَعَ عُلُوْمَ الفُرْقَانِ فِی المُفَصَّلِ ثُمَّ اَوْدَعَ عُلُومَ المُفَصَّلِ فِی فَاتِحَةِ الکِتَابِ﴾

ترجمه: الله تعالی څلوردپاسه سل کتابونه نازل کړی دی (آسمانی ) بیا ئے ددے ټولو علوم په څلورو (تورات انجیل ، زبور او قرآن) کښے راجمع کړی دی اوددے څلورو علم ئے په قرآن کښے او د قرآن علم ئے په مفصلو سورتونو کښے او د مفصلو علم ئے په فاتحه کښے راجمع کړے دے. بیا اتقان اوفتح العزیزورسره په دے روایت کښے داخبره هم زیاته کړے ده چه: ﴿وَالْفَاتِحَةُ فِیْ بِسْمِ اللّٰهِ وَبِسْمِ اللّٰهِ دَاخِلَةٌ فِی بَآءِ بِسْمِ اللّٰهِ﴾

بیافاتحه راجمع ده په بسم الله کښے اوبسم الله داخله (راجمعه) ده په بآء دبسم الله کښے دارنګ چه په تقریردحضرت مولاناحسین علی رحمه الله د قرآن څلورحصے دی په فاتحه کښے راجمع دی اوس هغه څلورمضامین اوخبرے دفاتحے په بسم الله کښے ذکر دی خویه طریقه داندماج یعنی دوه ذکر اودوه حذف دی (قیاس دی)۰

الحمدلله والا مضمون په بسم الله کښې راغے او رب العٰلمین والا مضمون ورسره مراددے یعنی چه هرکله الله خالق دے نومربي هم دے کنه۰

اودفاتحے الرحمٰن الرحیم والامضمون د بسم الله په **الرحمٰن الرحیم** کښې دے اوملکیت **ملك یوم الدین** والا مضمون ورسره مراددے یعنی هرکله چه رحمٰن رحیم دے، مهرباني کوی نودا هله کیدے شي چه مالك وی اختیارئے چلیږی۰

نوپه دے طریقه فاتحه په بسم الله کښې راغله۰ بیابسم الله په باء دبسم الله کښې داسې جمع ده چه بآء دپاره داستعانت ده (خاص دالله نه مدد غوښتل ) نوپه دے شان بسم الله په بآء کښې داخله شوه چه دفاتحے مضمون اودعوٰی توحیدپه بسم الله کښې ده اوبآء دپاره دمدداواستعانت ده نوهغه مضمون په کښې راغے.

نوګویاقرآن په فاتحه کښې اوفاتحه په بسم الله کښې اوبسم الله په بآء کښې راغله۰ پس دټول دین اوقرآن مقصداوخلاصه داباء ده یعنی توحیداومدددالله نه غوښتل۰

## د تعوّذ تحقیق:

دقراٰ ن شروع کولو نه مخکښې په اجماع د علماؤ تعوّذ وئیل سنت دی او د تلاوت د اٰدابو نه هم دی.

دارنګ که دسورة دمینځ نه شروع کوے او که د سر نه ،وئیل ئے سنت دی .

اوسورت نحل ۹۸ اٰ یت کښې هم الله تعالی د تعوّذ حکم کړے دے .

الله تعالی فرمائی:

﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾

ترجمه: کله چه ته قران لولی نو پناه اوغواړه په الله سره د شیطان رټلے شوی نه.

**فائده:** خوددے آیت نه یوبلے خبری ته اشاره هم ده چه فاذا قرأت القراٰن که دقرآن قراءت اولوستل کوے نو اعوذبالله به وائی ،اوکه دبل کتاب یعنی حدیث ،فقه، صرف نحو وغیره کتاب لولے اوشروع کوی نو اعوذبالله وئیل نشته بلکه بسم الله نه به شروع کوے ځکه چه اعوذبالله صرف دقرآن دلوستلوپوری الله خاص ده نه دنورځه لوستلوپورے [عالمگیری ،معارف القرآن]

## د شیطان نه پناه غوښتل ولے؟

دشیطان نه پناه غوښتل ځکه ضروری دی چه دا زمونږ د نیکه دشمن دے.او قراٰن کښے هم ددۀ د دشمنۍ ذکر دے.لکه سورت بنی اسرائیل: ۵۵ او ٦٥ اٰ یت کښے الله تعالی فرمائی:

﴿اِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ اِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا﴾

یعنی شیطان د دوی په مینځ کښے جھګړه پیدا کوی او یقینا شیطان د انسان دپاره ښکاره دشمن دے.

او سورت اعراف ١٦ اٰیت کښے هم دشیطان دادشمنی ذکر ده .

شیطان داسے وئیلی وو.﴿قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾

شیطان اووئیل! چه په سبب د ګمراه کولو ستا مالره څه به دے انسانانو ته په نیغه لاره کښے کینم. او دنیغے لارے په باره کښے الله تعالی سورت انعام: ١٥٣ اٰ یت کښے فرمائی: ﴿وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ﴾یعنی دا قراٰن مجید نیغه لار ده نو دے پسے روان شئ.او بیا

شیطان وئیلے وو: ﴿ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شَاكِرِيْنَ﴾ (الاعراف) یعنی بیا به څه راځم دوی ته دمخکښے طرف نه او د شا د طرف نه او د ښئ طرف نه او د ګس طرف نه ، او ته به نه مومے اکثر د دوی نه شکر ویستونکی.

دمخښکے طرف نه د راتلو نه مراد دنیا ده. او دشا طرف نه دراتلو مطلب دادے چه امیدونه به ورته اچوی او د ښی طرف نه مراد ښه کارونه به ورته وړاندے کړی او قراٰ ن به ورنه پرے پاتے کړی . اود ګس طرف نه مراد ګناهونه دی .

او سورت فاطر:٦ اٰیت کښے الله تعالی فرمائی چه:﴿اِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا﴾ یعنی یقینا شیطان ستاسو دشمن دے نو تاسو ئے هم دشمن وګنړئ.

دشیطان دشمنی هم عجیبه ده ،چه په سترګو نه لیدے کیږی، خو بیا هم الله تعالی مونږ دده نه منع کوی.په سوره اعراف: ۲۷ اٰ یت کښے الله تعالی فرمائی چه: ﴿ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾ یعنی یقینًا دا شیطان او د ده قبیله تا سو د داسے ځائے نه وینی چه تاسو ئے نه وینئ . اوبل داچه ډیرطاقت او زور الله ورکړے دے اوډیرے لښکرے ئے دی لکه سورۂ بنی اسرائیل آیت:٦٤.نوهرکله چه شیطان دشمن دے زوراور دے، لیدلے کیږی نۀ اومقابله ئے سخته ده نو الله ته وئیل پکار دی چه اے الله! مونږ کمزوری یو ددے دشمن مقابله نه شوکولے، نومونږ ترے اوساته اوبچ کړه لکه سورة الناس:۳،۴ کښے ذکر دی بیا دا شیطان دوه قسمه دے یو جنی او بل انسی. نو دے انسان والا ته ځکه شیطان وائی چه اګرچه په شکل دانسان

دے خوکار ئے دشیطان شروع کړو،نوشیطان شو، شیطان هم خلق دقرآن نه بندول، منع کول لکه اعراف:۱۶ کښے تیر شو اودے هم د قران نه خلق منع کوی لکه انعام :۲۶ حم سجده: ۲۶ نو څه شیطانان من الجنة او څه من الناس دی نو ځکه الله حکم اوکړو سورة نحل:۹۸ کښے.

﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾ چه یا الله دشیطان نه مِ بچ کړه که انسانی وی اوکه جنی، چه دقرآن نه مِ منع اوبند نه کړی.

مثال: الله ته دپناه درخواست او د اعوذ د وئیلو مثال داسے دے چه یوشاګرد باندی استاذ امتحان کولو نو چه وظیفه ئے راغونډوله ورته ئے وئیل چه تاپسے سپے شی نوته به دهغه نه ځان څنګه خلاصوے نوشاګرد اووئیل چه روټئ به ورته واچوام. نواستاذ اووئیل که هغه روټئ اوخوری بیابه درپسے شی نوبیابه څه کوے نوشاګرد جواب ورکړو چه نوره روټئ به ورته واچوم. نواستاذ بیااووئیل که هغه سپے بیاغپا شروع کړی نوشاګرداووئیل چه بله روټئ به ورته واچوم نواستاذ په دے جواب اووئیل چه داسے ولے نه کوے چه دهغه مالك ته ئے اووائی چه داسپے دی رانه کورے کړه. نوهم دارنګه شیطان هم سپے دے اوالله تعالیٰ دهرڅه مالك اوخالق دے اوځمونږ وس دشیطان نه دخلاصی نشته نوالله (مالك) ته وئیل پکاردی چه هغه پرے زوراور دے نو د دے شیطان نه به موخلاص کړی-

او یو روایت کښے راځی چه که چرته انسان هغه شیطانان اووینی چه ماپسے ځومره شیطانان لګیدلی دی نو د کثرت دوجے نه به بے هوشه شی.خو الله تعالی ددوی نه دحفاظت دپاره فرشتے مقرر کړی دی.

الله تعالی سوره رعد: ۱۱ اٰ یت کښې فرمائی چه:

﴿لَهُ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُوْنَهُ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ﴾

یعنی د دے انسان دپاره حفاظت کونکی فرشتی دی چه د ده حفاظت کوی د الله تعالی په حکم باندے.

او حدیث دبخاری کښې راځی چه: ﴿يَتَعَاقَبُوْنَ فِيكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ یعنی دشپے او د ورځے ستاسو په حفاظت کښې لګیدلے وی.

که الله تعالی دا فرشتے نه وے مقرر کړے نو دے شیطانانو به انسان ډیر ګمراه کړے وے.

ددے وجے نه د الله تعالی نه به پناه غواړے .ځکه خو الله تعالی فرمائی چه ﴿ فَاِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ یعنی چه کله قراٰن لولے نو په الله تعالی سره د شیطان نه پناه غواړه.

## د تعوذ حکمت:

په دے سره انسان الله تعالی ته خپله عاجزی وړاندے کوی او دعبدیت معنی پکښې په اکمل طریقے سره ښکاره شی او په الله تعالی باندے توکل پکښې هم راځی .

نو اوس څوك چه په الله ځان اوسپاری نوهغه به الله دشیطان نه بچ کوی لکه په سورت بنی اسرئیل ٦٥ اٰیت کښې فرمائی چه: ﴿ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيلًا ﴾

یعنی اے شیطانه ! زما په بندګانو کښې داسے بندګان هم شته دے چه ستا پرے وس او طاقت نه رسی.

او سوره نحل ۹۹ اٰیت کښې الله تعالی فرمائی چه :﴿ اِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ﴾

یعني دشیطان وس او طاقت په هغه چا باندے نه رسی چه ایمان ئے راؤړے وی او په الله تعالی باندے ځان سپاری. نو دَدے آیت نه معلومه شوه چه دتعوذ (اعوذبالله )دامفهوم دقرآن عین مطابق دے او داتعوذ اصل کښے اعلیٰ توکل دے، او دَ مومن توکل لره الله پاك دمکرشیطانی نه محفوظ گرځولے دے-

## تعوّذ (پناه غوښتل ) څه ته وائی ؟

کله چه یوکس دیوځیزنه خوف اوخطره محسوس کړی اودے په خپله دهغے مقابله نه شی کولے اوځان ترے نشی بچ کولے نوځان دداسے ذات اوشخص په حفاظت کښے راوستل (اودهغه پناه غوښتل ) چه هغه ذات دهغه خطرناك څیزنه دده په بچ کولو او په حفاظت کولو قادر وی (اودچاپناه چه اخلی نو د پناه غوښتونکی دهغه په باره کښے داعقیده اوخیال وی چه دا زماپه حفاظت اوپناه ورکولو قادرد ے مابچ کولے شی)بیادا پناه غوښتل یوخوماتحت الاسباب وی لکه یومحسوس مادی څیزیاشخص یاطاقت نه دچاپناه غوښتل مثلاً ددشمن دحملے نه دبچ کیدو دپاره دقلعے پناه اغستل یا دیوطاقت ورظالم نه دبچ کیدو دپاره دیوکس یادیوقوم اوحکومت پناه غوښتل ،نوداسے پناه غوښتل دمخلوق نه جائزدی. اوبله پناه غوښتل مافوق الاسباب دی یعني د اسباب ظاهریه نه بغیر دچانه پناه غوښتل اودچاپه حفاظت کښے ځان راوستل په دے عقیده چه داپناه ورکونکے ذات په عالم اسباب حکمران دے اودحس او دادراك نه بالاترطریقے سره زما په حفاظت کولو باندے قادردے،یعني دپناه ورکونکی باره کښے داعقیده وی چه بغیرداسبابوماته پناه اوحفاظت راکولے شی نوداقسم پناه غوښتل (تعوذ) صرف الله تعالی پورے خاص دی چه دابه دهغه نه غوښتلے کیږی

اوداقسم دعقیدهٔ توحیدلازمه ده ۰ مشرکینوبه دغیرالله نه هم داقسم پناه غوښتله ، حالانکه داشرك دے. قرآن اوحدیث کښے چه دتعوذ(پناه غوښتلو) بیان دے نوهم داقسم تعوذ ترے مراد دے لکه سورة مریم ایت ۱۸،البقره ایت ٦٧،الدخان ایت ۲۰،سورة هودایت ٤٧،سورة الجن ایت ٦،ال عمران ایت ۳٦،وغیره دارنګ په احادیثوکښے چه کوم دتعوذ دعاګانے راغلے دی نوهم داقسم تعوذ مراد دے لکه: **اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّمَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّمَا لَمْ اَعْمَلْ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلُ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعَ سَخَطِكَ** وغیره-

## د تعوّذ فضائل:

یو حدیث کښے راځی چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په مخکښے دوه کسانو جګړه شروع کړه او یو بل ته ئے کنځل کول نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه ماته داسے کلمات یا د دی چه که چرته دوی دا کلمات اووائی نو داغصه به ترینه لاړه شی بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تعوّذ داکلمات اولوستل.

## د تعوّذ موا قع:

قرٰان کریم دوه داسے ځایونه ښودلے دی چه په هغه موقعو کښے به شیطان نه پناه غواړے.

- یو دقرٰان د تلاوت په وخت کښے .لکه چه مخکښے تیر شو.

علماء کرام فرمائی چه دقرٰان د لوستلو نه ماسوا بل څه شی د لوستلو نه مخکښے به تعوذ نه وائی.

- او دا خبره د فقهے کتا ب فتاوی عالمګیری کښے هم لیکلے ده.

دویم دشیطان دوسوسے په وخت کښے وئیل هم قرٰان ښودلے دے .

الله تعالی سوره اعراف ۲۰۰ اٰیت کښې فرمائی چه ﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ یعنی که شیطان درته په زړه کښې وسوسه واچوی نو په الله تعالی سره ترینه پناه غواړه. نو قرآن دا دوه ځایونه ښودلے دی.

حدیث کښې راځی چه کله درته شیطان څه وسوسه واچوی نو تعوذ اووایه او کس طرف ته درے ځله توکاڼری توك کړه.

دارنګ چه کله ناکاره خوب اووینے نو دا کلمات اووایه.

﴿أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ وَمِنْ شَرِّ هٰذِهِ الرُّؤْيَا﴾ یعنی زه په الله تعالی باندے دشیطان رټلی شوی او د د دے خوب د شرنه پنا ه غواړم .

او که خوب ښه وو نو شکر پرے اوباسه.

دارنګ د اودس ماتی په وخت کښې به هم دادعا غواړے .

﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾ یعنی اے الله تعالی! زه په تاسره د پلیتو پیریانو سړو او پلیتو پیریانو ښځو نه پناه غواړم.

هم دغه رنګ دنورو څیزونو نه هم پناه غوښتلے شوے ده.

حدیث کښې راځی: ﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ﴾ یعنی اے الله تعالی ! زه په تا سره د کفر،فقر او د قبر دعذاب نه پناه غواړم. دفقرنه تعوذ ځکه غوښتل ضروری دی چه بل یو حدیث کښې راځی چه ﴿كَادَ الْفَقْرُ اَنْ يَكُوْنَ كُفْرًا﴾ یعنی نیزدے ده چه فقر سبب د کفر اوګرځی.

او بل حدیث کښې راځی:﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُبِكَ مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا وَمِنْ ضِيقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾

یعنی اے الله تعالی! زه ستانه ددنیا او د آخرت د تنګئ نه پناه غواړم.

او بل یو حدیث کښې راځي: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ﴾

یعنی اے الله تعالی ! زه په تاسره دغم او خفګان نه پناه غواړم،او پناه غواړم په تا سره د عاجزۍ او سستۍ نه او پناه غواړم په تا سره د کنجوسۍ او بزدلۍ نه او پناه غواړم په تاسره دغلبے د قرض نه او دخلقو د غصے نه.

او کله دا راځي:﴿ اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَضِلَّ اَوْ اُضَلَّ اَوْ اَزِلَّ اَوْ اُزَلَّ اَوْ اَظْلِمَ اَوْ اُظْلَمَ اَوْاَجْهَلَ اَوْيُجْهَلَ عَلَيَّ﴾

اے الله زه پناه غواړم په تاسره ددے نه چه زه ګمراه شم یا ګمراه کړے شم یا زه خویه شم یا زه وخویولے شم یا زه ظلم وکړم یا په ما باندے ظلم وکړے شی یا زه د جهالت کار وکړم یا ما سره د جهالت معامله وکړے شی.

دارنګ داسے هم راځي: ﴿اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّآتِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَشَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَاَنْ يَّحْضُرُوْنِ﴾ یعنی اے الله تعالی ! زه پناه غواړم ستا په پوره کلمو سره ستا د غصے او د سزا نه او ستا د بندګانو د شر نه او دشیطان د لمس نه او د دوی د حاضر کیدلو نه ماته.

دارنګ کله راځي چه ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِي ثَنَآءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ﴾ یعنی اے الله تعالی ! زه په تاسره پناه غواړم ستا د غصے نه په رضا ستا سره او ستا د سزا نه په عافیت ستا سره او زه ستانه په تا سره پناه غواړم،

زه نه شم شمارلے ستا ثناء ځانے ته هغه شان ئی څنګه چه تا د ځان صفت بیان کړے دے.

خلاصه دکلام داده چه دشیطان او دنورو ځیزونودشر نه به پناه په الله تعالی سره غواړے.

ځکه چه مونږ تلاوت شروع کوو نو دا دعا دالله تعالی نه غواړوچه اے الله مونږته دشیطان نه پنا ه را کړه.

او چونکه قرآن یو عظیم کار دے،ددے وجے نه دشیطان دحملے نه به دالله تعالی نه امان غواړے.

نو دابه وائی چه

## اَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ:

ترجمه: پناه غواړم په الله تعالی سره دشیطان رټلی شوی نه. د رجیم یو معنی رټلے شوے او بله معنی د رجیم "ویشتلے شوے" ده.

نو معنی به داشی چه پناه غواړم په الله تعالی سره دشیطان ویشتلی شوی نه.

## بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ:

ترجمه : خاص په مددنوم دالله چه رحمٰن رحیم شروع کوم ۰

عام طورددے داسے ترجمه کیږی چه شروع کوم په نوم دالله چه رحمٰن رحیم دے او په اردو کښے داسی ترجمه کیږی "شروع کرتاہو اللہ کے نام سے جو نہایت مہربان اور رحم کرنے والا ہے"

لیکن په دے ترجمه کښے یوځوکمی اونقصانات دی .

○ یوداچه دعربی گرائمر(نحوے) په اعتباردا پوره ترجمه نه ده ځکه چه زمونږ دنحوے بعضے علماء وائی چه شروع (متعلق ) به وروستو وائی اودیکښے خومخکښ وئیلے شوے دے ۰

○ دویم په دغه عامه ترجمه کښے دبآء دلفظ معنیٰ نظرانداز شوے ده حالانکه دا بآء دنورو بآءګانو غوندے نه ده بلکه دټول قرآن بلکه دټولوکتابونو علم او خلاصه په دے باء کښے راغونډه کړے شوے ده.

هم دغه وجه ده چه امیرالمؤمنین عمربن عبدالعزیز رحمه الله په خپل دورِخلافت کښے کاتبان اوعالمان دخط راجمع کړل او ورته ئے اووئیل چه بسم الله لیکئ نودا بآء به ئے اوچته او اوږده لیکئ لکه دلام په شان (ځکه چه په دے کښے ټول قرآن خلاصه راجمع ده نوهم ددے وجے نه اوس هم علماء دخط دبسم الله بآء اوچته لیکی).

○ دریم داچه په دے معنیٰ کښے دانقصان اوکمے دے چه د بسم الله مقصد پکښے فوت کړے شوے دے

چه هغه توحید او رد د شرك دے،کوم چه د بآء په معنیٰ اود بسم الله په مطلب کښے پروت دے اودبآء معنیٰ نه کولو په وجه پاتے کیږی۰

## مقصداوحکمت دبسم الله:

د بسم الله مقصدتوحیداو رددشرك فی الاستعانت دے۰ ځکه چه مشرکینو به کله څه کارشروع کولونو وئیل به ئے باسم اللات،باسم العزیٰ وغیره یعنی دلات سخی اوعزیٰ ابیٔ په نوم شروع کووم.

لکه نن صباهم بعضے جاهل ناپوهه خلق دغسے کوی چه څه کاروبارشروع کوی نواول دچاولی، بزرګ قبرته لاړشی شکرانه نذرانه پیش کړی اودربارته حاضری اوکړی چه کارکښے مِ خیرشی او دکاراومشن شروع مِ دښه ځائے نه اوشی دارنګه چه کله به دچا بچے سنت کیدو یا واده به کیدو نو د چا بابا درګاه له به ئے بوتلو ددے دپاره چه پکښې برکت راشی .

نوالله پاك ددے غلطے شرکی عقیدے د رد دپاره دابسم الله راولیږله چه نه ،نه داسے وائی چه:﴿بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمَانِ الرَّحِيۡمِ﴾ نو په بسم الله کښے دشرك جرړے ویستل مقصود دی.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم به اول اول دیوکار په شروع کښے دمشرکینو مقابل کښے: بِاِسۡمِكَ اللّٰهُمَّ وئیل بیابسم الله نازله شوه نواوس همیشه دا سنت جاری شو چه بسم الله به وائی [روح المعانی ،قرطبی]

ددے وجے نه مفسرین وائی چه ددے بسم الله نه مخکښ قولوا مقدر(پټ ) دے بلکه ټول سورت فاتحه کښے دضرورت مطابق قولوا مقدرشته، ځکه چه دے سورة ته تعلیم المسئله وائی،(چل ښائی): ﴿قُوۡلُوۡا بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمَانِ الرَّحِيمِ قُوۡلُوا الۡحَمۡدُلِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِينَ الرَّحۡمَانِ الرَّحِيمِ مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّينِ قُوۡلُوۡا اِيَاكَ نَعۡبُدُوَاِيَاكَ نَسۡتَعِينُ قُوۡلُوۡا اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيم---- الخ﴾

ددے وجے نه شاه عبدالقادرموضح القرآن کښے دفاتحے تفسیر کښے ددے سورت متعلق لیکی چه: "*یہ سورت اللہ صاحب نے اپنے بندوں کی زبان پرفرمایا ہے کہ اس طرح کہو*" چه قولوا بسم الله الرحمٰن الرحیم داسے وایئ چه دالله دنوم په مددسره شروع کوم،نه دبل چاپه نوم. ځنګه چه مشرکان کوی ۰دغه وجه ده چه مولاناحسین علی رحمة الله علیه دبسم الله معنٰی کوی

﴿بِسۡمِ اللّٰهِ اِسۡتَعِيۡنُوا خَاصَّةً لَاَبِمَا اَشۡرَكَ بِهِ الۡمُشۡرِكُونَ فِی زَعۡمِهِمۡ وَادۡعُوۡهُ خَاصَّةً لَاَغَيۡرَهُ﴾ دالله په نامه مدد اوغواړئ خاص، نه په هغه چاباندے چه مشرکانوپه خپل خیال الله سره شریك کړی دی اودغه الله راؤبلئ خاص نه بل څوك ۰

## د بسم اللّٰه فائده:

هم دا وجه ده چه کوم انسان هر کار په بسم الله سره کوی نو هر جائز کار ئے عبادت جوړیږی.که هغه خوب ولے نه وی . په بسم الله سره هرکارشروع کولوکښے حکمت دادے چه انسان هروخت قدم په قدم ددے عهدتجدیدکوی چه ځماوجوداوهرکار بغیرالله دمشیت، ارادے اومددنه نه کیږی اوپه دے سره دانسان هرنقل اوحرکت ،ناسته پاسته ،خوراك څكاك اود دین نه علاوه هرمباح کاردنیاهم عبادت جوړشی -

اوهم دغه فرق دے په مینځ دمومن اوکافرکښے ،کافرهم خوری،څکی،کینی،پاڅی اومسلمان هم، خودمسلمان داهرڅه عبادت دے اودکافر صرف دنیاده۰

## دَ بسم اللّٰه د باء معنی:

نودلته دبآءْ معنٰی ده مددغوښتل (البآء للاستعانت) استعانت په معنٰی دمدداوتعاون لکه عرب وائی: كَتَبتُ بِالْقَلَمِ (مادقلم په مدداوتعاون سره لیکل اوکړل) یاباء دبرکت دپاره ده (معارف القرآن ) نومعنی شوه خاص په برکت دنوم دالله چه رحمٰن رحیم دے شروع کوم۰

چه بآء داستعانت یابرکت شی نوپه دے معنٰی سره بسم الله عینِ توحیدشو او ردپه کښے اوشو په شرك باندے چه بل څوك مددنشی کولے اونه برکت اچولے شی اوهم دادقرآن او د ټولو کتابونو سماویو مقصد اومسئله ده۰

ځکه چه هغه ټول کتابونه په دے بآء اوبسم الله کښے راجمعه وو نودے تفصیل سره پوره مکمله ترجمه دبسم الله داشوه چه خاص په

مددیابرکت دنوم دالله چه رحمان رحیم دے شروع کوم مددغواړم ،نه دبل چانه،

**احکام دبسم اللّه :** د قران د لوستلو د پاره د اعوذ بالله نه پس بسم الله وئیل هم سنت دی.

او په دے باندے اتفاق دعلماؤ دے چه بسم الله یو مستقل اٰیت دے او سورت نمل ۳۰ اٰیت کښے د یو اٰیت جزء دے .

بیا په دے کښے اختلاف دے چه اٰیا دهر سورة مستقل اٰیت دے او که نه ؟

نو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه دا دهر سورت ایت نه دے بلکه صرف د دوؤ سورتونو په مینځ کښ د فرق او د جداوالی دپاره راوړلے شوے ده.

هم دارنګ په دے کښے هم اختلاف دے چه په مانځه کښے به ئے په پټه وائی او که په زوره ؟

نو زمونږ مسلك دادے چه په پټه به وئیلے کیږی ،او داروایت د امام ترمذی رحمة الله علیه نه هم نقل دے.

چه صحابو نه نقل دی چه مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او ابوبکر او عمر رضی الله عنهما پسے مونځ کړے دے خو هغوی په زوره بسم الله نه ده لوستلے.

## د بسم اللّه فضیلت:

○ د دے په فضیلت کښے یو روایت کښے راځی چه ابن کثیر د ابن مسعود رضی الله عنه نه ذکر کړے دے چه ﴿مَنْ اَرَادَ اَنْ یَنجِّیَهُ اللّٰهُ مِنَ الزَّبَانِیَةِ التِّسْعَةِ عَشَرَ فَلْیَقْرَءْ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِیْمِ فَیَجْعَلُ اللّٰهُ لَهُ مِنْ کُلِّ حَرْفٍ مِنْهَا جُنَّةً مِنْ کُلِّ وَاحِدٍ﴾

یعنی که څوك د نورلسو زبانیؤ فرشتو نه نجات غواړی نو تسمیه دے وائی الله تعالی به د هر حرف په بدله کښے د ده دپاره ډهال جوړ کړی.
او که چرته اوکتلے شی نو بسم الله کښے هم نورلس حروف دی .

## په بسم الله کښے یو نکته:

هغه داده چه دانسان د ژوند په یو ورځ کښے ۲٤ گهنټے دی او په ورځ کښے په انسان باندے پنځه وخته مونځ فرض دے نو سره داودس او د انتظار نه او په صحیح طریقه مونځ کولوسره تقریبا یوه گهنټه لګی نو دا پنځه گهنټے شوے.نو چه دا گهنټے ترے اوویستلے شی نو نورلس گهنټے پاتے شوے. نو د دغے نورلسو گهنټو د حفاظت دپاره به دا کلمه وایئی ځکه چه په دے کښے هم نورلس حروف دی.

○ په یو بل روایت کښے راځی چه ﴿كُلُّ اَمْرٍ ذِی بَالٍ لَمْ يبْدَأْ فِيْهِ بِاسْمِ اللّٰهِ فَهُوَ اَقْطَعُ﴾

یعنی کوم کار چه بغیر د بسم الله نه شروع شی نو هغه لنډے بُوچے وی.
او د ابن کثیر په روایت کښے ورسره د (اجزم)لفظ راغلے دے.دا روایت په تدریب الراوی ، مرقات او جامع صغیر کښے ذکر دے .
دا شروع په نوم دالله سره په نورو ملتونو کښے هم وه لکه سورة هود: ٤١ اٰیت کښے راځی چه نوح علیه السلام په وخت د کیناستو په کشتئ کښے فرمائیلی ووچه ﴿بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٰىهَا وَمُرْسٰهَا﴾

○ دارنګ سوره نمل ۳۰ اٰیت کښے راځی چه ﴿اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمَانَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾

خلاصه دا چه په نورو امتونو کښے به هم شروع په بسم الله کیدله

دارنګ بسم الله  ته علماء تیجان السور هم وائی یعنی دسورتونو تاج او حسن.

ځکه چه دادهرسورت په سر باندے لکه دتاج پروت دے اودسورت حسن دے. حدیث کښے راځی چه هرهغه مهم (مهتم بالشان )کارچه په بسم الله باندے شروع نه شی نوهغه بے برکته وی ﴿كُلُّ اَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَمْ يُبْدءُ بِبِسْمِ اللّٰهِ فَهُوَ اَبْتَرُ يا اَقْطَعُ﴾ دقرآن په باره کښے خپله په قرآن کښے راځی ﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ﴾ [سوره علق:۱] د هغه پیداکونکی رب په نوم اولوله، شروع کړه .

## دبسم الله د وئیلومقامات :

دقرآن پاك نه علاوه نورهم ډیرځایونواوکارونه دی چه دالله په نوم اوبسم الله باندے شروع کول پکاردی لکه حدیث کښے راځی چه روټئ خورے یااوبۀ څکے نوبسم الله وایه —اودس کوے نوبسم الله وایه اوچه په سورلئ سوریږے اوترے کوزیږے نوبسم الله وایه —دارنګه چه ډیوه مړه کوے نوبسم الله وایه.

د بسم الله وئیلو مقامات احادیثو مبارکو کښے نقل دی. دتلاوت په وخت کښے د بسم الله وئیلو په باره کښے الله تعالی فرمائی: ﴿اِقْرَءْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِى خَلَقَ﴾ [سورۃ علق]

هم دارنګ داُوده کیدو، کور ته دننوتلوپه وخت،دمړی د دفن کولو په وخت،دخوراك په وخت او اودس کولو په وخت وغیره.

تردے پورے چه د دم په وخت هم بسم الله وئیلے شےلکه حدیث کښے راځی چه:

﴿بِسْمِ اللّٰهِ اَرْقِيْكَ وَاللّٰهُ يَشْفِيْكَ مِنْ كُلِّ دَآءٍ يُؤْذِيْكَ اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِىْ لَا شَافِىَ اِلَّا اَنْتَ﴾

خو دا یوه خبره یا د ساتل پکار دی چه د ناجائز کار په شروع کولو کښې بسم الله وئیل نه دی پکار.ځکه چه د ے کښې کفر ته د وتلو خطره ده.

## د حرف باء تحقیق:

بیا چه څه کار شروع کوے نو د هغے مناسبت سره به بسم الله وئیلے کیږی.

په بسم الله کښے چه کومه باء ده نو هغه عامه باء نه ده. بلکه دا باء په ډیرو معانو سره راځی .

یوه معنٰی دپاره د الصاق او جوخت والی راځی.نو معنٰی دا چه په الله تعالی پورے ځان جوختوم.

یا د اسم الله نه مراد قراٰن دے لکه سورة نور ۳٦ اٰیت کښے الله تعالی فرمائی چه ﴿فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ﴾په دے جمله کښے داسمه نه مراد دابن عباس رضی الله عنه دقول مطابق ﴿اَنْ يتْلٰى فِيْهَا كِتَابُهٗ﴾ دے. نو معنی دا چه د الله تعالی کتاب پورے مِ ځان جوخت کړو.

دویمه معنٰی د باء برکت ده .نو معنٰی به داسے شی چه په برکت دنوم د الله تعالی دا کار شروع کوم.

دریمه معنی د باء استعانت او امدا د ده. نو معنی به داشی چه خاص په نوم د الله تعالی مدد غواړم په شروع کولو سره.

د باء په متعلق کښے اختلاف دے، د بصریینو په مسلك باندے به متعلق اخر کښے راؤباسے او د کوفیانو په نیز به په اول کښے راؤباسے. خو مونږ په نحو کښے دبصریینو په مذهب یو نو ځکه متعلق په اٰخر کښے راؤباسو.

او مولانا حسین علی رحمة الله علیه فرمائی چه داسے وایئی چه ﴿بِسْمِ اللّٰہِ اِسْتَعِیۡنُوا خَآصَّۃً﴾ مطلب به داشی چه ﴿بِسْمِ اللّٰہِ اِسْتَعِیۡنُوۡا خَآصَّۃً لَا بِمَا اَشْرَكَ بِهِ الْمُشْرِكُوْنَ فِیْ زَعْمِهِمْ وَادْعُوْهُ لَا غَیۡرَهٗ﴾ یعنی مدد د الله تعالی په نوم پورے خاص کړئ، د مشرکانو پشان مدد مه غواړئ .او الله تعالی لره رابلئ او د الله تعالی نه ماسوا بل څوك مه بلئ.

- نو په بسم الله کښے به د دریو څیزونو خیال ساتے یو د باء ، بل د اختصاص چه د جار مجرور نه معلومیږی او دریم دا چه د ( اشرع ) معنٰی به وروستو کوے.
- په دے کلمه کښے د الله نومونه او صفات ذکر دی. الله،رحمٰن او رحیم نو دا اسماء اوصفات په اصل کښے علت اودلیل دے. نحو کښے قاعده ده چه کوم حکم په موصوف اوشی نوصفات ورله دلیل اوعلت وی لکه اکرم زیدن الفاضل. اوبیاددے دوؤ صفتونو دتخصیص وجه داده چه چونکه الله تعالی مسبب الاسباب دے نو رحمانیت تقاضادبقاء په اسبابودانعاماتو کوی اورحیمیت تقاضاکوی چه دمحسنینو اجر ضائع نه شی .

## دتسمیے متعلق دیوغلط رسم اصلاح:

اکثرخلق دبسم الله الرحمان الرحیم په ځائے د(۷۸۶)عددلیکی اودلیل دجواز دپاره دا وائی چه دے سره به ددے مبارك کلماتو دبے حرمتئ نه بچ شو، لیکن دالیکل اودادلیل دواړه بےسوده اوغلط دی ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دمختلفو ملکونوبادشاهانوپه نوم د خپلو مبارکو خطونو،شروع په بسم الله کوله٠ هغوی چرته داعدد ندے استعمال کړے، ددے زمانے خلق دهغوی نه زیات دقرآن عظمت

کونکی خو نه دی ۰ بل ۷۸۶ دجوازقائل یودا دلیل وائی چه د ابجدپه لحاظ سره دبسم الله عدد ۷۸۶ راځی لهذا داعدد دبسم الله قائم مقام شو، لیکن دا استعمال هم صحیح نه دے ځکه چه بسم الله کلام الهی منزل علی الرسول دے او ۷۸۶ کلا م الهی منزل علی الرسول نه دے، تردے چه مونځ کښې ۷۸۶ لوستل مفسددمانځه ګرځی اوددے په لوستلو سره دبسم الله برابرخوځه چه بالکل اجرنه ملاویږی، بله داچه دهندوانو دبهګوان (هری کرشنا)دحروفو تعداد هم ۷۸۶ جوړیږی ۰

لکه هری ه+ر+ی= ۵ +۲۰۰+۱۰=۲۱۵ ۰ کرشنا،ك+ر+ش +ن+ا= ۲۰+۲۰۰+۵۰+۱+۵۰=۲۷۱ ۰ اوس ۵۱۵+۲۷۱= ۷۸۶ جوړیږی ۰

بله داچه داداهل رفض (شیعه ګانو) سازش هم کیدے شی، چه هغوی په ناخبرتیاکښې په مسلمانوکښې خپل غلط عقائدنناسی ۰

ځکه چه د(یاعلی !مولا علی امیرالمؤمنین )اعدادهم ۷۸۶ جوړیږی ۰ لکه

یا: ی +ا = ۱۰+۱ =۱۱

علی : ع+ل+ی=۷۰ +۳۰ +۱۰ =۱۱۰

مولا:م+و+ل+ا =۴۰+۶+۳۰+۱=۷۷

علی:ع+ل+ی=۷۰ +۳۰ +۱۰ =۱۱۰

امیر:ا+م+ی+ر=۱+۴۰+۱+۲۰۰=۲۵۰

المؤمنین:ا+ل+م+و+م+ن+ی+ن=۱+۳۰+۴۰+۶+۴۰+۵۰+۱۰+۵۰=۲۲۷

نو ۱۱+۱۱۰+۷۷+۱۱۰+۲۵۱+۲۲۷=۷۸۶

**لطیفه** :- دمولانااشرف علی تهانوی صاحب رحمة الله علیه یومعتقد(کرم عظیم )نه دهغوی دتاریخ ماده راوویستله، ۱۲۸۰ هجری. نوتهانوی صاحب بطورتفنن اوفرمائیل چه مخالفین ئے مکرعظیم هم

وئیلے شی ،ځکه چه اعداد د دواړو یوشان دی، بهرحال داڅه شرعی دلیل نه دے ،ددے نه ځان ساتل پکاردی ۰ والله اعلم ۰

## لفظ د سورة تحقیق:

د سورة فاتحے په سر کښے دا لیکلے شوے دی چه
(سورة الفاتحة مکیة وهی سبع اٰیات)
سورت د قراٰن پاك حصے ته وئیلے کیږی. او دا په قراٰن کښے دنوروکتابونو د ابوابو په شان دے.
امام جاحظ فرمائی چه د عربو شاعرانو به چه کله څه اشعار مرتب کړل نو هغے ته به ئے دیوان وئیلو او په دغه دیوان کښے به بیا قصیدے وے او قصیده به مشتمله وه په ابیاتو باندے او دابیاتو اٰخری حرف ته به ئے قافیه وئیله. خو الله جل جلاله د دوی نه مختلفه او مکمل جدا طریقه اختیار کړه. الله تعالی خپل کتاب ته قراٰن اووئیلو او دقصیدے په ځائے الله تعالی د سورة لفظ استعمال کړو. او د بیت په ځائے ئے د اٰیت لفظ استعمال کړواو د قافیے په ځائے ئے د فاصلے لفظ استعمال کړو.

## دسورتونو تعداد:

دا رنګ ټول سورتونه یوسل څوارلس دی. مکی پکښے شپږ اتیا دی او مدنی سورتونه پکښے اته ویشت دی.

## د سورتونو اقسام:

د سورتونو څومره اقسام دی نو الاتقان کښے علامه سیوطی رحمة الله علیه فرمائی چه سورتونو کښے سفری اوحضری سورتونه ،لیلی او نهاری سورتونه ،نومی او فراشی سورتونه، صیفی او شتائی سورتونه او ارضی او سماوی سورتونه دی.

خو دا تقسیم اکثر په ایاتونو کښې چلیږی په سورتونو کښې عام طور مدنی او مکی تقسیم چلیږی.

## مکی او مدنی سورتونو کښې فرق

**اول فرق:** دا دے چه مکی هغه سورتونوته وئیلے کیږی چه مکه کښې نازل شوی وی او مدنی هغه دی چه په مدینه کښې نازل شوی وی.

خو دا تعریف جامع نه دے ځکه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دحجة الوداع په موقع په مکه کښې وو او ﴿اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِیْنَكُمْ﴾ نازل شو، حالانکه دے ته مکی نه وئیلے کیږی.

**دویم فرق:** دا کړے دے چه کومو سورتونو کښې خطاب مکے والوته دے نو هغه مکی دی او چه کومو کښې مدینے والو ته خطاب دے نو هغه مدنی دی.

خو دا فرق هم جامع نه دے .

**دریم فرق:** دا دے چه مکی سورتونه هغه دی چه قبل الهجرت نازل شوی وی او کوم چه بعد الهجرت نازل شوے وی نو هغه سورتونه به مدنی وی. دا تعریف اکثرو علماؤ ذکرکړے دے او جامع تعریف دے.

## دمکی او مدنی سورتونو پیژندګلو:

دمکی اومدنی سورتونو پهچان دادے چه عام طور په کومو سورتونو کښې د الله تعالی د عظمت بیان وی نو هغه به مکی وی او کومو سورتونو کښې چه د شفقت علی المخلوق بیان وی نو هغه مدنی دی .

دویم دا چه په مکی سورتونو کښې بیان دایمان دے او مدنی سورتونو کښې بیان د احکامو دے .

دریم کومو سورتونو کښې چه یا یها الناس سره خطاب وی نو اکثر هغه مکی وی او کومو کښې چه یایها الذین اٰمنواسره خطاب وی نو اکثر هغه مدنی دی.

څلورم کومو سورتونو کښې چه دمخکښنو اقوامو ذکر وی هغه مکی دی او کومو کښې چه د فرائضو ذکر وی نو هغه مدنی دی.

پنځم دا چه کومو سورتونو کښې چه سجدے دی هغه مکی دی او باقی مدنی دی.

یو عالم فرمائی چه دا فرق په دوو طریقو سره کیږی. یو سماعی او بل قیاسی.

سماعی دا چه د مخکښنو خلقو نه نقل وی چه دا سورت مکی دے یا مدنی دے.

او قیاسی دا. چه د اندازو نه معلومیږی لکه (کلا) د مکی سورتونو علامه ده.

او هغه سورتونه هم مکی دی چه شروع ئے په حروفِ مقطعات سره شوے وی سوا دبقرے او اٰل عمران نه.

یا د اٰدم علیه السلام او ابلیس واقعه چه په کو مو سورتونو کښے ذکر شوے ده سوا دبقرے نه.نو هغه هم مکی دی.

او په کومو سورتونو کښے چه احکام ،فرائض او دمنافقینو علامے بیان شوے دی نو هغه مدنی سورتونه دی.

## سورة فاتحه کښے څومره ایتونه دی؟

صحیح خبره دا ده چه سورة فاتحه اووه اٰیتونه دی.

علامه قرطبی رحمة الله علیه فرمائی چه:﴿اِجْتَمَعَتِ الْاُمَّةُ عَلٰى اَنَّ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ سَبْعُ اٰيَاتٍ﴾

یعنی اجماع د امت ده په دے خبره باندے چه سورة فاتحه اووه اٰیتونه دی.

په دے باندے دلیل دسورة حجر۸۷ اٰیت دے .هغے کښے الله تعالی فرمائی﴿وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَاكَ سَبۡعًا مِّنَ الۡمَثَانِي وَالۡقُرۡاٰنَ الۡعَظِيۡمَ﴾او دمفسرینو په نزد سبع من المثانی نه مراد سورة فاتحه ده.

خو دبعضو په نزد بسم الله هم په اٰیت کښے شمارلے کیږی لیکن د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد دا بسم الله مستقل اٰیت نه دے بلکه صراط الذین انعمت علیهم یو اٰیت دے او ﴿غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ﴾ بل اٰیت دے نو په دے طریقے به اووه اٰیتونه شی.

## دسورة فاتحے نومونه:

ددے سورت نومونه اوویشتو پورے مفسرینو ذکرکړی دی او زیات نومونه هم په فضیلت ددے سورت باندےدلالت کوی.

(۱) په دغه نومونو کښے مشهور نوم فاتحه دے . اودے ته فاتحه ځکه وائی چه په دے سره دعلمونو دروازے اٰزادے او کولاؤ شی. نور نومونه لاندی ذکر دی.

## تمام قرآن فاتحه کښے:

دے سورت ته اساس القران ، ام القران اوام الکتاب هم وئیلے کیږی.اساس القراٰن ورته ددے وجے نه وئیلے کیږی چه دا د قراٰن بنیاد دے . او ام القراٰن او ام الکتاب ورته ځکه وئیلے کیږی چه دا سورت فاتحه دنور قراٰن او کتابونو اصل او مرجع ده. عرب د جنګ په وخت کښے استعمالیدونکے جهنډے ته ام الجیش وائی

او مورته ام ځکه وئیلے کیږی چه دا د اولاد اصل ده. او د دماغو نرے جهلئ ته هم ام الدماغ وئیلے کیږی .

او چونکه دمومنانو رجع مکے ته کیږی نو ځکه ورته الله تعالی ام القرٰی وئیلے دے. شیخ القرآن مولانا غلام الله خان رحمه الله صاحب خپل تفسیر کښے د سورة فاتحے د ام القرٰان درے وجے بیان کړے دی. او شیخ القرٰان مولانا محمد طاهر صاحب رحمه الله په سمط الدرر کښے د دے دولس وجے لیکلے دی. دلته ترینه یو څو وجے ذکر کوؤ.

○ وړومبئ وجه دا ده چه په ټول قرٰان پاك كښے شپږ مضامین ذکر دی.

(١) توحید، (٢) رسالت، (٣) قیامت، (٤) احکام، (٥) د منونکو احوال او (٦) د نه منونکو احوال.

نو الحمد لله رب العالمین کښے توحید ته اشاره ده.

او په صراط الذین انعمت علیهم کښے رسالت ته اشاره ده.

په مالك یوم الدین کښے قیامت ته اشاره ده.

په ایاك نعبد کښے احکامو ته اشاره ده.

او په ﴿صِرَاطَ الَّذِينَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ---- الخ﴾ کښے اٰخری دوؤ مضامینو ته اشاره ده.

○ دویمه وجه شیخ القرآن مولانا طاهر صاحب رحمه الله بیان کړے ده.هغه فرمائی چه په قرٰان کښے اته مضامین دی.

(١) توحید (٢) قیامت (٣) نبوت (٤) مخکنی کتابونه (٥) جهاد (٦) انفاق (٧) تنظیم (٨) اٰداب.

په الحمد لله کښے تو حید او په مالك یوم الدین کښے قیامت او په انعمت علیهم کښے نبوت او رسالت او په اهدنا الصراط المستقیم کښے مخکنی کتابونه هم داخل دی. دا صراحة ذکر دی او نور پدے کښے ضمنا داخلیږی.

ځکه چه په صراط مستقیم باندے کلك اودریدلو دپاره جهاد ضروری دےاو دجهاد دپاره د مال ضرورت دے او هم دارنګ د جهاد د پاره د تنظیم ضرورت دے او بیا د آدابو خیال هم ساتل دی. نو دا ټول پکښے ضمنا داخل شو.

○ دریمه وجه تفسیر خازن والا د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړے ده.چه ﴿لِكُلِّ شَيْءٍ لُبَابٌ وَلُبَابُ الْقُرْاٰنِ اَلْحَوَامِيمُ﴾

یعنی د هر څیز یو مغز دے او د قرآن مغز په حوامیمو کښے دے . یعنی د کوم سورتونو په اول کښے چه حم ذکر وی. او هغه اووه سورتونه دی.

د دے اول سورة ، سورة مومن دے او دهغے دعویٰ الله تعالی په څوارلسم آیت کښے بیان کړے ده- ﴿فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ یعنی دعاامدادغوښتل صرف په الله تعالی پورے خاص کول. او ددے سورة نه مخکښے سورة زمردے چه د دے حوامیم سبعۂ مبدأ ده. په هغے کښے الله تعالی فرمائی چه ﴿فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ اَلَا لِلّٰهِ الدِّينُ الْخَالِصُ﴾ یعنی عبادت به خاص الله تعالی لره کوئ- نو په دے سورة کښے دا ذکر کوی چه بندګی به صرف د الله تعالی وی. نو د حوامیم مبدأ او اول سورة کښے دا دوه مسئلے ذکر کوی او دا دواړه مسئلے د سورة فاتحے په څلورم آیت کښے ذکر دی: ﴿ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾

نو په دے آیت کښے دا دواړه مضامین ذکر دی. په اوله جمله کښے د سورة مومن دعویٰ او په دویمه جمله کښے د سورة زمر دعویٰ ذکر ده. تفسیر ابن کثیر کښں دی:﴿وَاتَانِ كَلِمَتَانِ تَجْمَعُ الْاَدْيَانَ كُلَّهَا اِلَيْهِمَا﴾ ددے دوۀ کلمو نه مراد ایا ك نعبد وایاك نستعین دے. نویه دے طریقه سورت فاتحه کښے دقرآن تمام مضامین جمع شول.

○ څلورمه وجه د حضرت مولانا حسين على رحمة الله عليه ذكر كوؤ.هغه فرمائى چه قرآن پاك ټول څلور حصے دے. يو ذكر دخلق، دويم ذكر د ربوبيت، دريم ذكر د تبارك او څلورم ذكر د معاد.
اوله حصه د فاتحے نه تر مائدے پورے ده. او په دے حصه كښے دا بيانيږى. چه خالق لكل شيئ هو الله .
دويمه حصه د سورة انعام نه واخله تر د بنى اسرائيل پورے ده او په دے كښے دا بيانيږى چه: ﴿ مربى لكل شيئ هو اللّٰه ﴾
دريمه حصه د سورة كهف نه تر د سورة احزاب پورے ده. او پدے كښے دا بيانيږى چه مبارك فى كل شيئ هو الله. انعامات اواحسانات دالله دى .
او بيا تر آخره پورے آخرى حصه ده. او پدے كښے دا بيانيږى چه آخرت به راځى او حساب كتاب به ځه كووم.
بله خبره دا چه د دے ټولو حصو شروع د (الحمد) نه كيږى. هرحصه په لفظ دالحمدمصدره ده .
خلاصه دا چه ټول قرآن څلور حصے دے .او دا ټول دغټوغټومضامينو په اعتبار سورة فاتحه كښے ذكر دى.
د خالقيت صفت ته په لفظ د ﴿ اللّٰه ﴾ كښے اشاره ده. په اعتبار د وصف مشهوره سره لكه لكل فرعون موسى.
او د ربوبيت صفت په ﴿ربّ العالمين﴾ كښے دے .
او د بركت والا صفت په ﴿الرحمٰن الرحيم﴾ كښے دے.
او د مالكيت والا صفت په ﴿ مالك يوم الدين﴾ كښے دے.
بيا دا مضامين په بسم الله كښے ذكردى .

اول لفظ د الله په بسم الله کښې صراحتاً ذکر دے. او ربوبیت پکښې ضمناً راغے او الرحمن الرحیم هم صراحتاً ذکر دے او مالکیت پکښې ضمناً ذکر دے.

بیا دا ټوله بسم الله په لفظ د (باء) کښې راجمع ده لکه چه مخکښې بیان شوی دی.

## دهرسورت متعلق څواهمے خبرے:

دا خبره هم یا د ساتل پکار دی چه مونږبه د هر سورت په ابتداء کښې پنځه خبرے ذکرکوو.

(۱) ربط او مناسبت د یو سورت د بل سره.

( ۲ ) امتیازات د سورت.

( ۳ ) د هر سورت ترتیب نزولی او مصحفی.

یعنی چه دا سورت په نزول کښې کوم نمبر باندے نازل شوے دے او په قرآن کښې په کوم نمبر باندے لیکلے شوے دے.

( ٤ ) دعویٰ د سورت.

(٥) خلاصه او حاصل د سورت.

## تفصیل:

په قرآن کښې دوه ترتیبه دی او د دے وجه دا ده چه دقرآن نزول دوه کرته شوے دے .

یو عالم غیب کښې د قرآن کریم نزول دے. او بیا د عالم غیب نه الله تعالی عالم شهادة یعنی بیت المعمور ته نازل کړو،چه د کعبے د پاسه دے. نو کوم ترتیب کښې چه قرآن په بیت المعمور کښې دے هم په هغه ترتیب اوس مونږ سره محفوظ زمونږ مخے ته پروت دے.پدے باندے د علماء کرامو اجماع ده. او بیا الله تعالی د دغے ځائے نه په نزولی ترتیب

سره د ضرورت مطابق لړ لړ نازل کړو. یو سوال ذهن کښې پیدا کیږی چه دا ترتیب ئے ولے بدل کړو؟ د دے جواب شیخ القرآن رحمه الله داسے کړے دے چه په دنیا کښے دا نظام دے چه کله یو کس د طب کتاب لیکی نو د سردامراضو دعلاج نه شروع کړی او خپل کتا ب د خپوپه امراضو باندے ختم کړی .اوبیاپه هم دغه ترتیب طبیب اوډاکټر زده کړه کوی. خو چه کله دے مطب اوکلینك کهلاؤ کړی او ورله مریضان راشی نو چه دچا کوم ضرورت وی نو د هغے موافق علاج کوی. نو دا ترتیب اول الله تعالی اختیار کړے دے چه اول ئے ټول کتاب دلوح محفوظ نه بیت المعمورته په دغه ترتیبِ اصلی راؤلیږلو او بیا ئے په ترتیب نزولی دخلقو دضرورت اوحالاتو مطابق قران نازل کړو. نو اول ئے د خلقو د عقیدے او د ایمان دصحیح کولو دپاره مکی سورتونو کښے د عقیدے اصلاح کړے ده. اوبیا ئے دعقیدے سره سره دعمل اومعاشرے اصلاح دپاره مدنی سورتونوترتیب اوچلولو. سورة بنی اسرائیل اٰیت: ۱۰۵ کښے الله تعالی هم دے ته اشاره کړے ده. فرمائی: ﴿وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ﴾ یعنی اول مونږ قرآن د عالم غیب نه عالم شهادت ته په یوځائے نازل کړے دے اوبیا مو د بیت المعمور نه دنیا ته لړ لړ نازل کړو. په دے اٰیت کښے دغے دوؤ نزولو ته اشاره ده.

څلورمه خبره چه کومه به مونږ بیانوؤ.هغے ته دعوىٰ وئیلے کیږی.

دعوىٰ عنوان او موضوع ته وئیلے کیږی. او د محدثینو په اصطلاح کښے ورته ترجمة الباب هم وئیلے کیږی. او دا رنګ مرکزی محور هم ورته وئیلے کیږی.

پنځمه خبره به دا بیانیږی چه حاصل د دے سورت به څه وی؟ یعنی دا سورت په څو حصو تقسیم دے او څو بابونه پکښے دی. او یو حدیث

کښې هم راځی چه: ﴿لِكُلِّ اٰيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ لَهٗ ظَهْرٌ وَلَهٗ بَطْنٌ﴾ یعنی قراٰن د پاره ظاهر هم شته او باطن هم شته دے. یعنی ظاهری مضامین پکښې هم شته او باطنی مضامین پکښې هم شته دے. دیوقول مطابق دباطن نه مراد دغه قرآنی پوشیده مضامینو اومناسبتونوته اشاره ده۰ په دے فن کښې علامه ابوبکر بقاعی شل جلده کښې نظم الدرر لیکلے دے. علامه سیوطی پکښې نسق الدرر لیکلے دے او مولانااشرف علی تهانوی رحمة الله علیه پکښې هم رساله لیکلی ده. او زمونږ مشائخو پکښې هم ډیر کتابونه لیکلی دی.

**خلاصه د سورة فاتحے:** سورة فاتحه کښې دا پنځه خبرے.

**ترتیب:** سورت فاتحه په ترتیب مصحفی کښې وړومبے دے او په ترتیب نزولی کښې په پنځم (۵) نمبر دے پس د سورت مدثر نه نازل شوے دے.

**ربط:**

دویمه خبره ربط ددےسورت د ماقبل سره. نو ددے ربط مخکښې سورت سره ځکه نشته چه مخکښې ترینه په ترتیب مصحفی کښې بل سورت نشته.اګرچه ترتیب نزولی کښې ترے مخکښې سورتونه شته دے خو هغه دلته مقصود نه دی نو ځکه ئے هغے سره د ربط ضرورت هم نشته.

**وجهٔ تقدیم:**

البته ددے سورت دماقبل سره د ربط په ځائے وجه دتقدیم بیانول پکاردی چه داسورت ولے وړومبے ذکر شوے دے ؟ نووجهٔ تقدیم ئے دا ده چه دا اساس القراٰن او ام القراٰن دے لکه چه مخکښې تفصیل اوشو.

**امتیازات:** دریمه خبره امتیازات او خصوصیات د دے سورت .
(۱) اول امتیاز ئے دا دے چه دا یو جامع سورت دے. داجامعیت ددے امتیازدے ۰ (۲) دویمه وجه دا ده چه دا اولنے سورت دے چه په یو ځل نازل شوے دے. (۳) دریمه وجه دا ده چه داسورت په هر مانځه کښے هر رکعت کښے وئیلے کیږی. (٤) څلورم امتیاز دا دے چه دا سورت تعلیم المسئلة دے. یعنی د سوال کولو طریقه پکښے ښودلے شوے ده.

## دعوی د سورت:

څلورمه خبره دعوی دسورت ده. ددے سورت دعوی توحید او وحدانیت د الله تعالی ده او ماخذ ئے ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ یا ﴿اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ﴾ دے.

ملا علی قاری رحمة الله علیه په شرح فقه اکبر صفحه ۱۰ کښے دا لیکلی دی چه: ﴿فَالْقُرْاٰنُ کُلُّهٗ فِی التَّوْحِیْدِ وَحُقُوْقِ اَهْلِهٖ وَثَنَاءِهِمْ وَفِیْ شَانِ ذَمِّ الشِّرْكِ وَعُقُوْقِ اَهْلِهٖ وَجَزَاءِهِمْ﴾

یعنی په قرآن کریم کښے ټول د توحید او د اهل توحید تعریف ذکردے او د شرك او د اهل شرك مذمت او سزاګانے پکښے ذکردی بیاوائی ۰
﴿ فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ تَوْحِیْدٌ ،اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ تَوْحِیْدٌ،مَالِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ تَوْحِیْدٌ، اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ تَوْحِیْدٌ، اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ تَوْحِیْدٌ مُتَضَمِّنٌ لِسُوَالِ الْهِدَایَةِ اِلَی طَرِیْقِ اَهْلِ التَّوْحِیْدِ، غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّالِّیْنَ اَلَّذِیْنَ فَارَقُوْا التَّوْحِیْدَ عِنَاداً اَوْ جَهْلاً اَوْ فَسَاداً﴾

## مقصد او حاصل دَ دے سورت د حدیث نه:

ابوهریرة رضی الله عنه روایت کړے دے، یو حدیث قدسی دے. فرمائی:

﴿قَسَمْتُ الصَّلٰوةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ وَلِعَبْدِي مَا سَئَلَ فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالَ اللّٰهُ حَمِدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ قَالَ اللّٰهُ اَثْنٰى عَلَّى عَبْدِي وَإِذَا قَا لَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ قَالَ اللّٰهُ مَجَّدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ إِيَاكَ نَعْبُدُ وَإِيَاكَ قَالَ اللّٰهُ هٰذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَئَلَ وَإِذَا قَالَ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ --- الخ قَالَ اللّٰهُ هٰذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَئَلَ﴾

## پنځمه خبره حاصل اوخلاصه د دے سورت:

○ سورت فاتحه کښے درے خبرے دی او درے حصے دی.

(۱) اوله حصه اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ. يعنى توحيد او پنځه صفات د الله رب العزت .

(۲) دويمه حصه د اِيَاكَ نَعْبُدُ وَاِيَاكَ نَسْتَعِينُ ده. په دے کښے د الله او د بنده حق ذکر دے .

او ابن کثير د دے جملو په باره کښے فرمائی چه:﴿هاتَانِ كَلِمَتَانِ تَجْمَعُ الْاَدْيَانَ كُلَّهَا اِلَى هِمَا﴾

يعنى دا داسے کلمات دی چه ټولو اديانو لره راجمع کونکے دی.

(۳) دريمه حصه د اهدنا الصرا ط المستقيم نه شروع کيږی او په دے کښے دعا او د درے فرقو ذکردے، منعم عليهم ، مغضوب عليهم او ضالين.

○ دا رنګ هم وئيلے شے چه دے سورت کښے پنځه خبرے بيانيږی.

اول دعوىٰ د توحيد يعنى الحمد لله ، دويم دلائل د توحيد يعنى رب العالمين--- الخ، دريم نتيجه د دلائلو ﴿ اِيا كَ نَعْبُدُ وَاِيَاكَ نَسْتَعِينُ﴾ ،

څلورم دعا په ﴿اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ﴾ کښے اوپنځم اٰخر کښے ذکر د فرقو ثلاثئو دے.

## د سورت فاتحے حکمتونه او لطائف:

حروف تهجي اته ويشت دی. او په دے سورت کښے د ثاء، جيم، خاء، زاء، ش، ظاء او فاء نه علاوه نور ټول حروف تهجي ذکردی. علماء فرمائي چه په دے کښے اشاره ده چه که انسان په دے سورت باندے عمل اوکړو نو د اوو څيزونو نه به بچ شي.

(۱) ثاء کښے اشاره ده ثُبُور ته (هلاکت ته وائی).

(۲) جيم کښے اشاره ده جحيم ته، (جهنم ته وائی).

(۳) خاء کښے اشاره ده خزی ته، (رسوائی ته وائی) .

(٤) زاء کښے اشاره ده زفير ته، (د جهنم اٰوازونو ته وئيلے شی).

(٥) ش کښے اشاره ده شهيق ته، (هنړيدلو ته وئيلے شی).

(٦) ظاء کښے اشاره ده لظٰی ته، (لمبو ته وئيلے شی).

(٧) فاء کښے اشاره ده فراق ته (چه جدائی ته وئيلے شی).

نو که چرته څوك په دے سورة باندی عمل اوکړی نو د دے څيزونو نه به بچ شي.

## لس مخمسات:

په دے سورة کښے لس مخمسات دی.

(۱) وړومبے په دے سورت کښے انواع المعرفة پنځه ذکر دی:

۱. معرفة الذات ۲. معرفة الصفات

۳. معرفة الحقوق ٤. معرفة طريق الموصل

٥. معرفة طريق المبتدعين

(۲) په دے سورت کښے انواع التوحيد پنځه ذکر دی.

۱. توحید الذات ۲. توحید الربوبیت
۳. توحید الاسماء ٤. توحید الالوهیة
۵. توحید الحکم والتشریع

(۳) په دے کښے پنځه نومونه دالله ذکر کیږی.
۱. الله ۲.رب ۳.رحمان ٤.رحیم ۵.مالك

(٤) په دے کښے صفات د الله پنځه ذکر دی.
۱. المعبود ۲.المستعان ۳.الهادی ٤.المنعم
۵.ذوالقهر والغضب

(۵) په دے سورت کښے رد دپنځو فرقو ضالو (چه اشارةً معلومیږی) ذکر دے.
۱. مشرکین ۲. قدریه ۳. جبریه ٤. مرجیه ۵. شیعه اوروافض

(٦) په دے کښے اقسام الناس ذکر دی.
۱.الحامدون ۲.العابدون ۳.منعم علیهم
٤.مغضوب علیهم ۵.الضالون

(۷) په دے کښے اقسام العبادا ت ذکر دی.
۱.التسمیه ۲.التحمید ۳.التعبد
٤.الاستعانة ۵. الدعاء

(۸) په دے کښے پنځه تخصیصات ذکر دی.
۱.تخصیص الحمد ۲.تخصیص الصفات
۳.تخصیص العبادة بالله
٤. تخصیص الاستعانة بالله ۵.تخصیص الانعام بالله

(۹) پنځه قسمه نحوی جملے ذکر دی.

۱.جمله اسميه (الحمد لله)          ۲.          جمله فعليه (اياك نعبد)

۳.          جمله خبريه محضه (اياك نعبد و اياك نستعين)

٤.          جمله انشائيه محضه (اهدنا)

٥.          جمله اسميه بمعنى انشائيه (الحمد لله)

**(۱۰) خلاصه دسورت ده پنځه خبرې.**

۱.الدعوى          ۲.الادلة          ۳.النتيجة

٤.الدعاء          ٥.ذكر الفرق الثلاثة

دا رنګ په دې سورت کښې رد دے په ټولو اقسامو د فرقِ باطلؤ باندے.

هغه که سوشلزم دے او که کميونزم دے مشرکين، مبتدعين، روافض يا نور فرق دى.

**ترجمه د سورت فاتحے :** ټول صفتونه د خدائى توب (د غيب دانئ اوکارسازئ) خاص الله لره دى چه پالونکے دتمام مخلوقاتودے ،عام مهربان دے اوخاص مهربان ،مالك (اختيارمند) دے دورځے د جزاء – خاص تالره بندګى کوومونږ (نه دبل چا) اوخاص ستانه امداد غواړو په حاجاتو کښے ( نه دبل نه ) روان کړه اوكلك کړه مونږ په نيغه لار ،لاردهغه کسانو چه تاپرے انعام(احسان) کړے دے په هغوى نه غضب اولعنت شوے دے په هغوى اونه ګمراه دى. امين الله دا زمونږ دعاقبوله کړه.

**(اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ)**

الحمد لله کښے دعویٰ د توحيد ده او بيا وروسے دلائل ذکر کوى په توحيد د الله تعالى باندے.

## د الحمد لله د کلمے فضائل:

○ حدیث دمسلم کښے راځی نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَآنِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ﴾

یعنی کلمه د الحمد لله تله ډکوی او سبحان الله او الحمد لله د زمکے او آسمان په مینځ کښے فضاء ډکوی.

○ حدیث د ترمذی کښے راځی: ﴿ اَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ یعنی افضل ذکر لا اله الا الله دے او افضل دعاء الحمدلله ده.

○ حدیث د ابن ماجه کښے راځی ﴿مَا اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلٰى عَبْدٍ نِعْمَةً فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اِلَّا كَانَ الَّذِىْ اَعْطٰى اَفْضَلَ مِمَّا اَخَذَ﴾ یعنی چه کله الله تعالی په یو انسان نعمت اوکړی او دے پرے شکراوباسی نو د دغے ورکړے شوی نعمت نه ورله ښه بدل ورکړی.

○ او علامه قرطبی رحمة الله علیه یو روایت ذکر کړے دے: ﴿لَوْ اَنَّ الدُّنْيَا بِحَذَافِيْرِهَا فِىْ يَدِ رَجُلٍ مِّنْ اُمَّتِىْ ثُمَّ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَكَانَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَفْضَلَ مِنْ ذَالِكَ﴾

یعنی که دنیا ټوله د چا په لاس کښے وی او هغه یو کرت الحمد لله اووائی نو الحمد لله د دے ټولے دنیا نه افضله ده.

○ ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دا سبحان الله او الحمد لله د الباقیات الصالحات نه دی. ﴿اِنَّ الْبَاقِيَاتِ الصَّالِحَاتِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ﴾

## د حمد لغوی معنی:

دحمدلغوی معنٰی : امام قرطبی فرمائی : ﴿اَلْحَمْدُ فِی کَلَامِ الْعَرَبِ مَعْنَاهُ الثَّنَاءُ الْکَامِلُ﴾ اوبصائرذوی التمیز کښے دی چه ﴿اَلْحَمْدُالثَّنَاءُ بِالْفَضِیلَةِ﴾

**دحمداستعمال په قرآن کښ:** حمدپه قرآن کښے په څومعانیو استعمال شوے دے:

**( ۱ ) په معنٰی د الوهیت :** لکه سورة الفاتحه ایت ۱ ،سورة الانعام ایت ۱،سورة الکهف ایت ۱، سورة سباء ایت۱، سورة فاطرایت ۱ ، ای : الشکر والواحدنیة والأُلوهیة لله .

**( ۲ ) په معنٰی د امر ( حکم ) :** سورة البقره ا یت ۳۰، سورة الاسراء ایت ۵۲،ای: بامره۰

**( ۳ ) په معنٰی دثناء اوصفت( ستائنه ) :** لکه سورة ال عمران ایت ۱۸۸، سورة الاسراء ایت ۷۹ ،

**( ٤ ) په معنٰی دپنځؤ مونځونو( صلوات خمسه ) :** سورة الروم ۱۷

**( ٥) په معنٰی داحسان :** لکه سورة فاطر ۳٤، سورة الزمر ۷٤ (وجوه القرآن حیری ،الوجوه والنظائر دامغانی)

## حمد ،شکراو مدح کښ فرق:

حمداو مدح کښے فرق دا دے چه مدح د جاندار او بے جان دواړو کیږی. او حمد صرف د جاندار څیز کیږی.

دا رنګ مدحه قبل الاحسان او بعد الاحسان دواړو کښے کیږی او حمد صرف بعد الاحسان کیږی.

دا رنګ حمد هر وخت ممدوح دے او مدح کله کله ممنوع هم وی.لکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ﴿اَحْثُوْا التُّرَابَ فِی وُجُوْهِ الْمَدَّاحِيْنَ﴾ یعنی د خوش امندو په خلو کښے خاؤرے واچوئ. او شکردے ته وائی چه د نعمت او د احسان په بدله کښے وی. او حمد د نعمت نه بغیر هم کیږی.

## د الف لام بحث او د حمد اصطلاحی معنی:

د الحمدلله معنی دا ده.چه ټول تعریفونه ثابت دی خاص الله لره.
نو دلته دا خبره پیژندل ضروری دی چه الحمد لله کښے دا الف لام کوم الف لام دی چه معنی د حمد واضحه شی نو څوك وائی چه:
په دے کښے الف لام د استغراق د پاره دی.
فتح العزیز کښے شاه عبد العزیز رحمة الله علیه لیکلی دی.چه:
*(ہر کمال ونعمت کہ درذہن وخیال بشر درآمد اواز جناب او تعالی است)*
یعنی هر کمال او نعمت چه په ذهن د انسان کښے راځی هغه د الله تعالی د طرف نه وی.
یو شاعر فرمائی: *(حمد رابتو نسبت است درست..... بر در ہر کہ رفت بر در تُست)*
یعنی د حمد لائق هم ته یئے ځکه چه کوم در ته هم انسان ځی هغه ستا در دے .
او کله وائی: *(ہر جا کنم سجدہ باں آستانہ رسد)*
یعنی چه کوم ځائے هم سجده کوؤم نو الله تعالی ته رسی.
کومو علماؤ چه الف لام استغراقی اخستلے دے نو هغوی تعریف دحمد ډیر زیات عام کړے دے. او وائی چه الحمد لله معنی دا ده چه هر حمد د هر حامد نه په هره زمانه کښے د الله د پاره دے.

یعنی که د هر چا تعریف کوے نو هغه هم د الله تعالی تعریف دے ځکه چه دا هر څه الله تعالی پیدا کړی دی.

دا خبره خو صحیح ده په دے باندے د اعتراضو جوابونو یو اوګده سلسله شروع کیږی. خو لنډه خبره دلته دا ده چه د تخصیص د حمد بالله نه پته لګی چه دلته عام حمد نه دے مراد بلکه دینه مراد هغه تعریفونه دی چه کوم الله تعالی سره خاص دی. نو د دے نه پته اولګیده چه الف لام عهدی دے. اومعهودپه دے سره حمد دالوهیت او حمدقرآنی دے.

او دا خبره حضرت مولانا حسین علی صاحب رحمه الله ذکر کړے ده. چه دلته الف لام عهدی دی مراد ترے دَ الوهیت او خدائے توب حمدونه او صفتونه دی کوم چه په قران کښے ذکر دی.

صفات په درے قسمه دی.

یو هغه چه انسان پورے خاص دی لکه خوراك كول، بچی راؤړل وغیره.

دویم هغه چه د الله او دانسانانو په مینځ کښے مشترك دی.لکه اوریدل وغیره. خو فرق پکښے دا دے چه د انسانانو دا اوصاف ما تحت الاسباب دی او دالله تعالی اوصاف مافوق الاسباب دی.صرف لفظی اشتراك دے.

دریم هغه چه الله تعالی پورے خاص دی.لکه خالق، مالك، رازق، قادر، حاجت روا، مشکل کشا وغیره.

دلته دا دریم قسم صفات مراد دی

نو معنی دا شوه چه ټول تعریفونه دخدائیتوب خاص الله لره دی. او دا معنی ابن عباس رضی الله عنه هم ذکرکړے ده. هغه فرمائی: ﴿اَلشُّكْرُ وَالْوَحْدَانِيَةُ وَالْاُلُوْهِيَةُ لِلّٰهِ﴾ [تنویر المقباس]
یعنی شکر ،وحدانیت او الوهیت الله تعالی لره ثابت دی.
اوبیاعلامه سیوطی رحمه الله په الاتقان کښے په دے معنٰی کښے تخصیص ذکرکړے دے.چه: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَا لِغَيْرِهِ﴾ یعنی حمد صرف الله تعالی لره دے ،غیر لره دا رنګ حمد نشته.

## قرانی حمد:

او که قرآن کریم ېخپله اوکتلے شی نو هم ترینه دا معنی معلومیږی.چه مرادترے د خدائی توب صفات دی طریقه ئے داده چه په قرآن کښے چرته هم دحمدذکر راشی نومخکښے ورستو به ترے څه صفات د الله تعالی ذکروی نوهم دغه به ترے مراد وی دے ته حمدقرآنی وائی ۰ لکه الله تعالی د سورة انعام په اول آیت کښے فرمائی : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّوْرَ﴾ یعنی چا چه زمکه او اسمانونه پیدا کړے دی او تیاره او رڼرا ئے پیدا کړے ده، هغه ذات لائق د حمد دے. دا رنګ ﴿هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِنْ طِيْنٍ﴾ یعنی هغه ذات چه د خټے نه پیدا کول کوی هغه لائق د حمد دے. دا رنګ﴿وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوَاتِ وَفِي الْاَرْضِ﴾ یعنی په زمکه اسمانونو باندے حکومت کولو والا ذات دحمد لائق دے. دا رنګ ﴿يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ﴾ یعنی پټ او ښکار باندے عالم او د انسان په هر کار باندے عالم ذات قابل د حمد دے.

○ او هم دے سورت انعام ایت نمبر ٤٤ کښے الله تعالی فرمائی چه: ﴿فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى اِذَا فَرِحُوْا بِمَا

أُوْتُوْا اَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً﴾ بيا فرمائی: ﴿فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوْا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ يعنی دشمن لره هلاکونکے ذات قابل د حمد دے . کله چه دظالمانومونږ اوجرړے اوځی هلاك شی نو وایه الحمدلله رب العالمین ،حمدونه الله لره دی. (شکردے) چه ظالم هلاك شو اوخلق ترے خلاص شو) بیابه انَّالِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ نه وائی بلکه مشرك ، بدعتی مړشونوالحمدلله به وائی لکه علماء وائی ﴿مَوْتُ الْمُبْتَدِعِ فَتْحٌ فِي الْاِسْلَامِ﴾ دبدعتی مرګ داسلام فتح ده اوداسلام په فتح خلق الحمدلله اوشکر وائی کنه. دا رنګ سورت نمل کښے فرمائی ﴿قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفٰى﴾ يعنی نيکانو او منتخب شوؤ بندګانو لره بچاؤ ورکول هم د الله صفت دے. نوداتول دحمدنه مخکښے وروستو دخدائے توب صفات وو نومعلومه شوه چه حمدنه عام حمدنه بلکه قرآنی او دخدائی حمدمراددے اودغه حمدالله لره خاص دے بل شریك ورسره پکښے نشته.

## د حمد مواضع:

دحمد مواضع هم الله تعالی ښودلے دی.

یو حمد په وخت د حصول دنعمت کښے وائی که هغه دنیاوی وی او که اخروی.

## دنیاوی نعمتونو باندے حمد:

○ سورت ابراهیم ۳۹ اٰیت کښے الله تعالی فرمائی: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ اِسْمَاعِيلَ وَاِسْحَاقَ اِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾ په دے اٰيت کښے د اسماعیل او اسحاق علیهما السلام پیدا کول دنیوی نعمت دے او حمد پرے ادا کړے شوے دے.

○ دا رنګ سورت نحل ۷۵ اٰیت کښې فرمائی: ﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا هَلْ يَسْتَوٗنَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ نو دا حرّیت او رزق کښې اختیار د الله تعالی دنیوی نعمتونه دی.

○ هم دا رنګ سورة زمر ۲۹ او سورة فاطر ۳٤ او سورة صافات ۱۸۲ په دے اٰیتونو کښې هم دا دنیاوی نعمتونه ذکر دی په دے حمدوئیلے شوے دے.

## اخروی نعمتونو باندے حمد:

○ الله تعالی سورت یونس: ۱۰ اٰیت کښې فرمائی:﴿دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ یعنی دخول الی الجنة اخروی نعمت دے او په دے باندے شکر ویستلے شوے دے.

○ او د بخاری شریف اٰخری حدیث کښې فرمائی: ﴿كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ﴾.

○ دارنګ سورة اعراف ٤۳ اٰیت کښې فرمائی: ﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ﴾ یعنی په هدایت باندی د الله تعالی حمد بیان شوے دے.

شیخ عبدالقادر رحمة الله علیه چه کله په مسند د خپل استاد کیناستو نو دا شعر ئے اووئیلو.

شکر للہ کہ نہ مردیم رسیدیم بدوست　　　افرین باد باین ہمت مردان ما

یعنی د الله شکر دے ګنی چرته زه او چرته دا ځائے.

خلاصه دا چه کله درباندے الله تعالی یو نعمت اوکړی یا د دشمن نه درته نجات درکړی نو د الله تعالی حمد ادا کوه.

## حمد بعد نجاة المؤمن وهلاک الظالم:

دارنګ حمدپس دنجات دمومن او د هلاکت دظالم نه لکه سورت مومنون ایت: ۲۸ ﴿فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ وَمَنْ مَعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ نوح علیه السلام لره چه کله الله پاك دظالمانونه خلاص کړو اونجات ئے ورکړو نوالله ورته وائی فقل الحمدلله، اووایه چه حمدونه دی شکرونه دی هغه ذات لره چه مونږ ئے دظالم قوم نه خلاص کړو.

## حمد بعد بیان الدلائل:

بله موقع دحمد دا ده چه دلائل بیان شی او خبره واضحه شی نو حمد اووایه.

په دلائیلو باندے د حمد ذکرپه سورت قصص ۷۰ او عنکبوت ۶۳ او روم ۱۸ لقمان ۲۵ ایتونو کښے موجود دے

## نکته:

قرآن کښے څومره صفتونه بیان شوی دی د خدائی توب نوچه سوچ اوکړے شی نو دهغے رجع دوه صفتونو ته کیږی یو غیب دانئ او دویم واکدارئ. نو معنٰی دا هم کیدے شی چه صفوته دغیب دانئ او د واکدارئ ټول خاص الله لره دی.

## د احادیثو نه د حمد بیان:

○ د روټئ دخوړلونه بعد دعاء: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾

یعنی د خوراك څكاك او داسلام د نعمت په شکریه کښے د الله تعالی حمد وئیل.

○ دا رنګ بل حدیث کښې راځي: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ﴾

یعنې د خوب نه بعد بیا روح د انسان جسم ته واپس کولو د نعمت د وجې نه دالله تعالی حمد بیانوؤم.

○ دا رنګ یو حدیث کښې راځي:﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِی﴾

یعنې د قضائے حاجت بے تکلیفه کیدل دالله تعالی نعمت دے نو په دے د الله تعالی حمد بیانوؤم.

○ بل یو حدیث کښې راځي: ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ﴾ یعنې د کپړو د غټ نعمت کیدو د وجے نه د الله تعالی حمد بیانوؤم.

او د کپړو د نعمت کیدو دلیل قرآن کښې هم ذکر دے.﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِیْنَةَ اللّٰهِ الَّتِیْ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ﴾ یعنې لبا س د الله تعالی نعمت او زینت دے.

○ دا رنګ حدیث کښې راځي چه کله یو محبوب څیز اووینے نو دا دعا به وائي ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ﴾ یعنې ټول صفتونه هغه ذات لره دي چه په نعمتونو د هغه سره نیکئ پوره کیږي.

دا رنګ بد څیز او نامناسب څیز اووینے نو دا دعا به وائي چه: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ﴾ یعنې په هر حال کښې الله تعالی لره حمد ثابت دے. خلاصه دا چه د حمد نه مراد هم دا حمد دے کوم چه قرآن کښے په خپله ذکر دے. اوکوم چه احادیثو کښے راغلے دي.

## د الله تعالی حمدونه او صفتونه بے شمیره دي:

حدیث کښې راځي: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّی عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ اَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاءُكَ اَسْئَلُكَ بِكُلِّ اِسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيتَ بِهِ نَفْسَكَ اَوْعَلَّمْتَهُ اَحَداً مِّنْ خَلْقِكَ اَوْاَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ اَوْ اِسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ اَنْ تَجْعَلَ الْقُرْاٰنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَنُوْرَصَدْرِيْ وَجَلَاءَ حُزْنِيْ وَذَهَابَ هَمِّي﴾

ترجمه: اے الله ! زه ستا بنده یم او ستا د بنده او بندئے ځوے یم ځما هرڅه ستا په قبضه کښے دی ، ستا حکم په ما کښے چليږی او ستا فیصله ځما باره کښے عدل دے. زه ستانه په هر هغه نوم سوال کوم چه کوم تا ځان لره ایخودلے دے اوکه چاته دے ښودلے دے او که په خپل کتاب کښے دے نازل کړے دے او که په علم غيب کښے تاسره دے قرآن کریم زما د زړه بهار اوګرځوه او زما دسینے رنړا ئے کړه اوځما غم هم پرے لرے کړه.

بله دعا کښے راځي: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيتَ عَلَى نَفْسِكَ﴾

ترجمه: اے الله ! زه ستا په رضا سره ستا دغصے نه پناه غواړم او ستا په عافيت سره ستا د سزا نه پنا ه غواړم او په تا سره پناه تانه غواړم زه ستا لائق ثناء نه شم کو لے ته هم هغه شان ئې څنګه چه تا د ځان صفت کړے دے.

بل حدیث کښے راځي چه کله خلق د قیامت په ورځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راشی دحساب او کتاب شروع کولو دپاره.نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زه به په سجده پریوځم او داسے حمدونه د الله تعالی به بیان کړم چه هغه ماله اوس نه راځي.

خلاصه دا چه الله تعالی د پاره چه کوم حمدونه ثابت د ی هغه ټول الله تعالی دپاره خاص دی.هغے کښے ورسره شریك نشته نوهغه ټول دلته مراد دی نه عام۰

## د لفظ الله تحقیق:

لفظ دالله اسم علم دے اوخاص دے ذات دالله پورے۰ الله تعالی دخپل ذات دتعین په باره کښے خاص هم دے اسم ته رهنمائی کړے ده لکه موسیٰ علیه السلام ته په کوه طورکښے دوحی په موقع فرمائی :﴿فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ۝ اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ﴾ [سورة طه ایت ١٣، ١٤] قرآن مجیدکښے اسم دالله ٩٨٠ځله ذکرشوے دے-

[المعجم المفهرس لالفاظ القرآن]

دقرآن دنزول نه مخکښ په زمانه دجاهلیت کښے ددے اسم معنٰی اومفهوم خالق وو. عربو دمشرك کیدو باوجود خپلو معبودانو او خدایانو کښے هیڅ څوك دالله برابرنه ګڼړلو هغوی ددے خبرے اقرارکولو چه دزمکے اوآسمان اودټولومخلوقاتو خالق صرف الله تعالی دے، هم هغه الله نمر اوسپوږمئ پیداکړی دی اوهم هغه مسخر کړی دی اوهم هغه الله باران ورونکے ،او روزی ورکونکے دے لکه سورت یونس آیت ٣١، سورت العنکبوت ایت ٦١، ٦٣ دنورو معبودانو عبادت هغوی صرف په دے غلط ګمان کولو چه دا د الله تعالی مقربان دی اودالله تعالی په نزدباندے ددوی سفارش کوی لکه سورة الزمرایت: ٠٣

○ ددے اسم علم داصلیت په باره کښے ړومبئ خبره داده چه معرب دے دا دسریانئ ژبے نه رانقل شوے دے په سریانئ کښے دا لاهًا وو عربو ددے آخری الف حذف کړو اودهغے په ځائے ئے په ابتداء کښے "ال" زیات کړو نو"الله" شو۰

○ دجمهوروعلماؤ ده چه دا اسم بنیادی طورعربي لفظ دے دبل یوژبے نه نقل شوے نه دے ۰ دعربي کیدوپه صورت کښے ددے اسم علم داشتقاق په باره کښے دوه خبرے دی ۰

ړومبئ خبره: امام رازی لیکی: ﴿اَلْمُخْتَارُ عِنْدَنَا اَنَّ هٰذَا اللَّفْظَ اِسْمُ عَلَمٍ لِلّٰهِ تَعَالٰى وَاَنَّهٗ لَيْسَ بِمُشْتَقٍّ اَلْبَتَّةَ وَهُوَقَوْلُ الْخَلِيلِ وَسِيبَوِيهِ ، وَقَوْلُ اَكْثَرِ الْاُصُوْلِيِينَ وَالْفُقَهَاءِ﴾ [التفسيرالكبير] یعنی زمونږپه نزد دا غیر مشتق اسم دے او دا دخلیل د سیبویه او د اکثرو اصولیینو اوفقهاؤ مذهب دی ۰

○ دویمه خبره :دنورو علماؤ په نزد باندے دامشتق دے. خوبیا ددے په مادے داشتقاق کښے مختلف اقو ال دی.

( ۱ ) امام رازی لیکی: ﴿اَلْاِلٰهُ مُشْتَقٌّ مِنْ اَلِهْتُ اِلٰى فُلَانٍ اَىْ سَكَنْتُ اِلَيْهِ، فَالْعُقُوْلُ لَاتَسْكُنُ اِلَّا اِلٰى ذِكْرِهٖ وَالْاَرْوَاحُ لَاتَعْرُجُ اِلَّا بِمَعْرِفَتِهٖ﴾ [التفسير الكبير] یعنی چه دا دالهتُ الی فلان نه مشتق دے چه معنٰی ئے ده سَكَنْتُ اِلَيهِ، یعنی الله هغه دے چه دهغه په نوم سره د عارفینو اومضطرینو زړونوته تسکین ملاویږی ۰ لکه قرآن مجیدسورة الرعدایت ۲۸کښے هم داسے فرمائی ۰

( ۲ ) امام بیهقی لیکی : ﴿قَالَ بَعْضُهُمْ اَصْلُهٗ ، وَلَاهٌ فَاُبْدِلَتِ الْوَاوُ هَمْزَةً فَقِيلَ اِلٰهٌ كَمَا قَالُوْا وِسَادَةٌ وَاِسَادَةٌ وَوِشَاحٌ وَاِشَاحٌ وَاشْتُقَّ مِنَ الْوَلَهِ لِاَنَّ قُلُوْبَ الْعِبَادِ تُوْلِهُ نَحْوَهٗ كَقَوْلِهٖ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ اِلَيْهِ تَجْئَرُوْنَ (سورة النحل ايت ۵۳)

وَكَانَ الْقِيَاسُ اَنْ يقَالَ، مَالُوهٌ كَمَا قِيلَ مَعْبُوْدٌ، اِلَّا اَنَّهُمْ خَالَفُوْا فِيْهِ الْبِنَاءِ لِيكُوْنَ اِسْماً عَلَماً فَقَالُوْا اِلٰهٌ كَمَا قِيلَ لِلْمَكْتُوْبِ: كِتَابٌ وَلِلْمَحْسُوْبِ حِسَاب ﴾

[الاسماء والصفات]

حاصل: دبعضے علماؤ خیال دے چه داپه اصل کښے (ولاه) وو واوپه همزه بدل شو اودامشتق دے دوَلهٌ نه ځکه چه دبندګانو زړه د الله طرف ته متوجه کیږی لکه دغه ایت کښے چه ذکر دی .پکارخو دا وه چه په وزن دمعبود "مالوهٌ" لوستلے کیدے خوددے قاعدے خلاف دے دپاره اوشو چه دا اسم علم جوړشی .

امام رازی لیکی : ﴿اِنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنَ الْوَلَهِ وَهُوَذِهَابُ الْعَقْلِ﴾ [التفسيرالكبير] یعنی دا وَلَهٌ نه مشتق دی معنٰی ئے حیرانتیا، مطلب داچه الله رب العزت هغه دے چه پاك روحونه دهغه په مینه کښے مست دی او د مخلوق د ادراك دهغه په باره کښے په حیرانتیا باندے انتهاء ده.

(۳) ﴿اِنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنْ لَاهَ: اِذَا اِرْتَفَعَ وَالْحَقُّ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى هُوَالْمُرْتَفِعُ عَنْ مُشَابَهَةِ الْمُمْكِنَاتِ وَمُنَاسَبَةِ الْاَحْدَاثِ﴾ [تفسيركبير] یعنی دا د لاه نه مشتق دے په معنٰی داوچتوالی ،یعنی الله تعالی دممکناتو دمشابهت او د مادے دلوازماتو نه برتر او اوچت دے او د ذوی العقولو د وهم اوګمان اودفهم او ادراك نه بالاتر دے .

(۴) ﴿ اِنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنْ اَلِهَ فِى الشَّىْءِ : اِذَا تَحَيَّرَفِيْهِ وَلَمْ يَهْتَدِاِلَيْهِ فَالْعَبْدُاِذَا تَفَكَّرَ فِيْهِ تَحَيَّرَ﴾ [تفسيركبير] یعنی دا د اله الٰهة نه مشتق دے چه معنٰی ئے ده حیرانتیا، چه کله دالله په باره کښے څوك سوچ اوفکر کوی نو دهغه حیرانتیا انتهاء ته رسی .

(۵) ﴿إِنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنْ لَاهَ يَلُوْهُ : إِذَا اِحْتَجَبَ﴾ [تفسیر کبیر] یعنی دا دلاه یلوه نه مشتق دی په معنٰی داحتجاب، الله تعالی باندے ددے نوم اطلاق ځکه کیږی چه دهغه ذا ت هم د مخلوق نه محجوب دے (پټ دے)۔

(٦) امام بیهقی لیکی : ﴿أَصْلُهُ فِي الْكَلَامِ اِلٰهٌ وَهُوَ مُشْتَقٌّ مِنْ اَلِهَ الرَّجُلُ يَأْلَهُ اِلَيْهِ اِذَا فَزِعَ مِنْ اَمْرٍ نَزَلَ بِهِ فَآلَهُ اَى : اَجَارَهُ وَآمَنَهُ فَسُمِّي اِلٰهاً كَمَا يَسَمَّى الرَّجُلُ اِمَامًا اِذَا امَّ النَاسَ فَأْتَمُّوْا بِهِ﴾ [الاسماء الصفات] یعنی داله اصل د اله ، آلهه الهاً نه ماخوذ دے چه معنٰی ئے ده دیو کس دمصیبت او مشکل په وخت کښے دچا پناه لټول اودهغه ده لره پناه ورکول۔

امام رازی لیکی: ﴿اِشْتِقَاقُهُ مِنْ اَلِهَ الْفَصِيلُ اِذَا وَلَعَ بِأُمِّهِ﴾ [تفسیرکبیر] یعنی دامشتق دے داله الفصیل نه معنی ئے ده دماشوم دخپلے مورسره پناه لټول. نوالله هغه ذات دے چه ټول هغه ته محتاج دی ملائك دی که انبیاء او رسولان دی اوکه عام انسانان ۰مولاناجلال الدین رومی لیکی:

معنئ الله گفت آن سیبویه　　　یولهون فی الحوائج هم لدیه

گفت اتینافی حوائجنا لدیک

والتمسناهاوجدناهالدیك　　　(مثنوی دفتردوم)

یعنی سیبویه د الله معنی داسے کړے ده چه چاته چه په ضروریاتو کښے ٰاوازونه کیدے شی۰ په اردوپښتو ژبه کښے دفارسئ ژبے داثر دوجے نه دالله تعالی داسم ذات (الله ) په ځائے لفظ دخدا دعامو اوخاصویه ژبه جاری دے حالانکه الله دالله تعالی مالك الملك ذاتی نوم دے ددے ترجمه د دنیا په هیڅ یو ژبه کښے ممکن نه ده لکه مولانا عبدالماجدصاحب دریابادی دتاج العروس په حواله لیکی :

"اللہ اسم ذات کسی اور ہستی پر اس کا اطلاق ہو ہی نہیں سکتا، فارسی کا خدا یا انگریزی کے GOD کی طرح اسم نکرہ نہیں کہ معبود واحد کے علاوہ دوسروں کے لیے بولا جاسکے اس کی نہ جمع آتی ہے نہ کسی لفظ سے مشتق ہے اور نہ اس کا ترجمہ کسی دوسری زبان میں ممکن ہے" [تفسیر ماجدی]

علامه زبیدی لیکی : ﴿عَلَمٌ لِلذَّاتِ الْوَاجِبِ الْوُجُوْدِ الْمُسْتَجْمِعِ لِجَمِيعِ صِفَاتِ الْكَمَالِ غَيرُمُشْتَقٌّ﴾ ( تاج العروس) یعنی دهغه واجب الوجود ذات اسم علم دے چه ټول دکمال صفتونو لره جامع دے او دا غیر مشتق دے.

قاضی محمدسلیمان صاحب منصوپوری لیکی :

"ایک مسلمان کے لیے صرف ان ہی اسماء پر اکتفا کرنی چاہیے جو قرآن مجید اور احادیث رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم سے بطور روایت صحیحہ ثابت ہیں طریق بے خطرہ اور صراط مستقیم یہی ہے ہم کو تو ﴿وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُوْنَ فِيْ اَسْمَائِهٖ﴾ [سورۃ الاعراف ۱۸۰:۷] اور جو لوگ اس کے ناموں میں کجی اختیار کرتے ہیں ان کو چھوڑنے کا حکم بھی ملا ہوا ہے یعنی ان لوگوں کو چھوڑو جنہوں نے اللہ تعالی کے اسماء میں الحاد اختیار کیا ہے۔اس آیت پر غور کرتے ہوئے مجھے تو لفظ "خدا" کے استعمال میں بھی تامل ہونے لگا، گو اس انکشاف سے پیش تر خود بھی ہزاروں جگہ اس کا استعمال ذات الٰہی پر کرتا رہا ہوں۔[شرح اسماء اللہ الحسنٰی ۲۹۹]

الغرض لفظ خدا د الله په اسماء حسنی او ماثور ومنقول نومونو او صفتونو کښے نه دے البته د لفظ الله نه په فارسئ ژبه کښے یو تعبیر دے، نو که څوك ئے اووائی نو ګناه به نه وی خو بهتره دا ده چه په ځائے د خدائے د الله لفظ اووئیلے شی ځکه چه منقول هم دے او په وئیلو کښے ثواب هم دے.

## معنی د لفظ د اله او د الله:

الله لفظ داله نه ماخوذ دے او الله یااله وئیلے کیږی خالق، مالك، رازق او حاجت روا، مشکل کشا، لائق دعبادت، د راورسے رامددشے لائق ،دنذر او نیاز ،رکوع اوسجدے لائـق، اولاد وبرکات ورکونکے.
امام عبدالله دینوری یوعالم اومفسردے هغه وائی: ﴿اَللّٰهُ مَعْنَاهُ اَلْخَلْقُ یأْلِهُوْنَ اِلَیْهِ اَی یتَضَرَّعُوْنَ اِلَیْهِ عِنْدَقَضَاءِ الْحَوَائِجِ وَالشَّدَائِدِ﴾ [تذکرة النوادر: ۱۵] دالله معنٰی ده هغه ذات چه خلق ورته میلان کوی. عاجزی اوفریادکوی په خپلو حاجتونو او تکلیفونوکښے هغه ته .
د اِلٰه لفظ په ډیرو معنو سره راځی .
ابن تیمیه په خپل کتاب العبودیه کښے په شپږمه صفحه او شیخ القراٰن په سمط الدرر کښے دا لیکلے دی.: ﴿فَالْاِلٰهُ الَّذِیْ یَاْلَهُ الْقُلُوْبُ بِکَمَالِ الْحُبِّ وَالتَّعْظِیْمِ وَالْاِجْلَالِ وَالْاِکْرَامِ وَالْخَوْفِ وَالرَّجَاءِ﴾ یعنی اِلٰه هغه ذات دے چه زړونه ورته د کمالِ محبت، تعظیم، کبریائی، اکرام، ویرے او د امید دوجےنه مائله کیږی.
اوس که دا صفتونه د الوهیت بل چا له ثابت کړے شی نو دا شرك دے .شیخ عبد القادرجیلانی رحمة الله علیه په خپل کتاب الفتح الربانی: ۵۲ او ۵۷ کښے فرمائی:﴿کُلُّ مَنِ اعْتَمَدْتَّ فَهُوَ اِلٰهُكَ وَکُلُّ مَنْ خِفْتَهُ وَرَجَوْتَهُ فَهُوَ اِلٰهُكَ وُکُلُّ مَنْ رَاَیتَهُ فِی ضُرٍ وَّنَفْعٍ فَهُوَ اِلٰهُكَ﴾ یعنی په هر چا چه ته اعتماد ساتے او ویریږے ترے او د نفعے او ضرر مالك ئے گڼړے نو هغه ستا اِلٰه دے.
او بیا ۵۷ صفحه کښے فرمائی: ﴿تَکْذِبُ حَتّٰی فِی صَلٰوتِكَ لِاَنَّكَ تَقُوْلُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَتَکْذِبُ لِاَنَّ فِی قَلْبِكَ اِلٰهٌ غَیْرُهُ. اَمَا تَسْتَحْیِ اِنَّكَ تَقُوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَكَ اَلْفُ مَعْبُوْدٍ غَیرِاللّٰهِ﴾ یعنی انسان په مانځه کښے هم دروغ

وائی ځکه چه په زړه کښے ئے د الله تعالی نه ماسوا هم نور اٰلهة دی.او بیا فرمائی اے انسانه ! تاله حیاء نه درځی چه په خُله لا اله الا الله وائی او په زړه کښے دے په زرګونو خدایان دی.

## دقرآن نه داله معنی:

په قراٰن کښے د اٰله معنی ذکر ده.

○ سورة انعام ٤٦ اٰیت کښے الله تعالی فرمائی: ﴿قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ﴾ یعنی څوك چه غوږونه او سترګے اغستلے شی او په زړه مهر لګوی هم هغه اٰله دے.

○ دا رنګ سورة قصص ١٧ اٰیت کښے فرمائی: ﴿قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ﴾ یعنی د شپے او دورځے راوستلومالك الله تعالی نه ماسوا بل هیڅ څوك نشته. او بیا فرمائی: ﴿قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ﴾ نو اٰله هغه دے چه شپه او ورځ راوستونکے دے. یعنی دا کارونه کونکے ذات د الله تعالی ذات دے.

○ قراٰن مجید کښے سورة فاطر ایت ٣ کښے فرمائی:﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ﴾ یعنی اٰله هغه ذات دے چه ټول کائنات لره رزق ورکوی.

○ سورة نمل ٦٠ اٰیت نه د اٰله پوره تشریح کوی: ﴿اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ (ای اَاِلٰه

**مع اللّٰه یفعل ذلك)** ﴾ یعنی پیدا کونکے د اسمانونو او د زمکو او د بارانونو ورورنکے او بیا په هغے سره بوټی راټوکول د الله کار دے نو دالله تعالی نه ماسوا بل اله نشته. بیا فرمائی: ﴿**اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلٰلَهَآ اَنْهٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِیَ وَجَعَلَ بَیْنَ الْبَحْرَیْنِ حَاجِزًا ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ**﴾ یعنی زمکه برقراره ساتل او په مینځ کښې ئے نهرونه جاری کول او غرونه اودرول او د اوبو په مینځ کښې پرده را پیدا کول د الله تعالی کاردے نو د الله تعالی نه ماسوا بل اله داکارونه کونکے نشته. بیا فرمائی: ﴿**اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَیَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَیَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ**﴾ یعنی الله تعالی د ضرورتمند ضرورت پوره کوی او مصیبت لرے کوی او انسانان ئے دیوبل خلیفه ګان ګرځولی دی. نو دا کار د الله تعالی دے نو الله تعالی نه ماسوا بل اله داکارونه کونکے نشته نو ﴿**اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ**﴾ الله تعالی دے. یعنی فریاد رس او غوث اعظم الله تعالی دے. نو فریاد پیر پیران او لوئ ځوان ته کول دا هغه لره اله ګڼړل دی او دا شرك دے.

○ هم دا رنګ د غرقیدونه بچ کوونکے ذات دالله تعالی دے. الله تعالی قرآن کښې فرمائی: ﴿**وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِیْخَ لَهُمْ**﴾ یعنی که مونږ خوك غرق کړو نو هغه لره بچ کوونکے هیڅ خوك نشته. نو لوئ ځوان ته د دولسو کالو کشتئ راویستلو نسبت کول محض شرکی قصے دی.

○ او بیا فرمائی: ﴿ **اَمَّنْ یَّهْدِیْكُمْ فِیْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ یُّرْسِلُ الرِّیٰحَ بُشْرًا بَیْنَ یَدَیْ رَحْمَتِهٖ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ تَعٰلَی اللّٰهُ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ**﴾ یعنی په تیارو کښې لاره ښودونکے او هواګانے چلونکے ذات د الله تعالی دے نو د دے نسبت بل چاته کول شرك دے.

○ او بیا فرمائی: ﴿اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ﴾ يعنى خالق او رازق الله تعالى دے نو كه چا بل چا ته دا نسبت اوكړو نو داهم شرك دے.

○ او بیا فرمائی: ﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ﴾ يعنى عالم الغيب الله تعالى دے او بل څوك عالم الغيب نه دے.

حديث د بخارى كښے راځى .حضرت عائشه رضى الله عنها فرمائى: ﴿مَنْ زَعَمَ اَنَّهٗ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ فَقَدْ اَعْظَمَ عَلَى اللّٰهِ فِرْيًا وَاللّٰهُ تَعَالٰى يَقُوْلُ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ يعنى چا چه په نبى كريم صلى الله عليه وسلم باندے دا ګمان اوكړو چه هغه په راروانو حالاتو پوهيږى نو ده په الله تعالى باندے غټ دروغ اووئيل حالانكه الله تعالى فرمائى چه د الله تعالى نه ماسوا په زمكه او اسمان كښے په غيبو باندى هيڅ څوك نه پوهيږى-

نو عالم الغيب د الله تعالى نه ماسوا بل هيڅ څوك نشته.اوس كه څوك دعلم غيب نسبت بل چا ته كوى نودائے دخدائى توب او الوهيت صفت بل لره وركړو۰

## دَ اله معنى دَ ابن عباس رضى الله عنه نه:

او عبد الله بن عباس رضى الله عنه د سورة محمد ۱۹ آيت لاندے دا تفسير ذكر كړے ده ﴿فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَىْ لَا ضَارَّ وَلَا نَافِعَ وَلَا مَانِعَ وَلَا مُعْطِىَ وَلَا مُعِزَّ وَلَا مُذِلَّ اِلَّا اللّٰهُ﴾ يعنى د لا اله الا الله معنى دا شوه چه نفع او نقصان رسونكے، منع كونكے او وركونكے ، عزت او ذلت وركونكے ذات د الله تعالى دے ، بل هيڅ څوك داكارونه نه شى كولے.

نوبس اوس دَ اله معنی داشوه چه داټولے معانی راجمع کړه داله معنٰی ترے جوړیږی. اوحاصل ئے دادے لااله الاالله ،نشته دے اله ، لائق دبندګئ ،خالق رازق ،مالك د راورسے رامددشے ،نذر او نیاز،رکوع سجدے، طواف او د عاجزئ لائق ،فریاد رس باران راورونکے ،فصلونه رازرغونونکے اولاد اوبرکات ورکونکی ، دتبے سرخوګی اوبادو ذمه وار دالله نه سیوا بل هیڅ څوك۔

خوددے حاصل مونږ آسان وایو چه لااله نشته دے حاجت روامشکل کشا،خاوند د نفع او نقصان الاّ الله سیوا دالله نه بل څوك،

## په قران کښ د الوهیت د صفاتو ثبوت الله لره او د غیر نه نفی:

الله پاك دادالوهیت صفات ،داخدائی او الوهیت ځان لره ثابتوی اودغیر (مخلوق) نه ئے نفی کوی چه اله څه یم د الوهیت ،خدائی توب صفات ځمادی بل هیڅ چانبی ولی پیر فقیربزرګ لره نشته

- سورة بقره ۱٦۳ اٰیت کښے فرمائی :﴿وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴾ یعنی الٰه ستاسو یو الله تعالٰی دے .
- سورة نحل ٥١ اٰیت کښے فرمائی : ﴿وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ یعنی دوه اٰلهه مه نیسئ الٰه صرف یو دے چه الله تعالٰی دے.
- سورة نساء ۸۷ او سورة مائده ۷۳ اٰیت کښے ئے ورته کفر وئیلے دے فرمائی: ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ یقینًا کافردی هغه کسان چه وائی چه الله تعالٰی دریم د دریو دے حالانکه نشته دے لائق د بندګئ سوا د الله تعالٰی نه ۔

○ سورة انعام ایت ایت نمبر :۱۹ ﴿اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى قُلْ لَّآ اَشْهَدُ قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ﴾، ایاتاسو (اے مشرکانو) داګواهی کوئ چه د الله سره نورهم اٰلِهه حاجت رواګان شته اووایه ورته چه زۀ خو دا ګواهی نه کوم (بلکه) اووایه ورته چه بیشکه هغه الله حاجت روا دے ایك یو او زۀ بری یم دهغه چانه چه تاسو ئے د الله سره شریك کوئ۔

په دے عقیده توحیدکښے به براءت هم کوے په دے مسئله د اله کښے به بیزاره کیږے دغیر الله نه هم، اوبائیکاټ به کوے دخلقو نه هم چه ﴿اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ﴾ لکه ابراهیم علیه السلام بائیکاټ کړے وو ،په دے مسئلے ﴿اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ مونږ ستاسونه هم بیزاره یو اوستاسودمعبودانونه هم بیزاره یو بائیکاټ مو دے.

نه کیږی دغریبو دمالدارو سره کلی

چرته عزیزخان اوچرته ملنګ عبدالرحمان

سورة طه ایت:۹۸ ﴿اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَسِعَ كُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا﴾ بیشکه اله ستاسوالله هغه ذات دے چه دهغه نه سیوا بل اله حاجت روا نشته ځکه چه دهغه علم هرڅه ته رسیدلے دے.

○ سورة ص ایت :۶۵ ﴿قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾

## دالحمد لله معنی:

نوځکه الحمدلله چه اله بل نشته نوصفات دالوهیت اوحمدهم بل چالره نه دی وئیل پکار،داشو دالحمدلله تفسیراو معنی۔

**الحمدلله** : ټول تعریفونه دخدایتوب ،دالوهیت خاص الله لره دی ، هغه حاجت روامشکل کشالره دی .بل چالره نه دی

## په حمد کښې اختصاص:

الحمدلله کښې حصر دے لله کښې یولام للاختصاص (خاصوالی دپاره) دے نو د لله معنٰی شوه خاص الله لره دی بل چالره نشته ۰ اوبل الحمدهم معرفه او لفظ الله هم معرفه ، او قاعده ده چه:﴿تَعْرِيفُ الْجُزْئَيْنِ يُفِيدُ الْحَصْرَ وَالْاِخْتِصَاصَ﴾ دواړه اجزاء د کلام چه کله معرفه وی نوحصراواختصاص پیداکوی ۔

ددے وجے نه په اتقان کښې امام سیوطی هم لیکلی دی چه: ﴿اَلْحَمْدُلِلّٰهِ لَالِغَيْرِهِ﴾ دحصر معنی ئے کړه ده چه تعریفونه دخدائتوب الله لره دی بل چالره نه دی ۔

نوپه دی الحمدلله سره رد اوشو په هغه چاڅوك چه دالله صفات نه منی دصفاتو دالله نه منکر وی نوالحمدلله،نه نه دالله صفات تعریفونه شته منے به ئے ۔

اوبل رد دے په دے کښې په هغه مشرکانوچه دالله صفات بل چالره ثابتوی او په دے صفاتو دالله کښې مخلوق (نبی ،ولی ، پیرفقیروغیره )الله سره شریکوی او وائی چه هغه فلانکے په غیبو پوهیږی، حاضر او ناظر دے، اولادبرکات ورکوی وغیره، نوالحمدلله سره پرے رد اوشو چه نه نه ،داټول صفات الله لره دی بل څوك ورسره په کښې شریك نشته،

الغرض بس دا الحمدلله او ددے دامفهوم، دا توحید شو اوهم دا دعویٰ شوه اوځکه دعویٰ ده چه دعویٰ خلق په هغه څه کښې قائموی چه دخلقو په کښې جګړه وی، څوك صفات دالله منی اوڅوك نه ،بیاڅوك ئے صرف الله لره خاص منی اوڅوك ورسره په دے کښې نورشریکوی ۰ نوځکه دا دعویٰ شوه او اوس به دادعویٰ ثابتوی ۰

نواوس په دے دعویٰ څه دلیل شته که نه، نو دا دلیل دے چه رب العالمین،دادلیل دے چه الرحمان الرحیم، دادلیل دے چه مالك یوم الدین.

دخدائی توب تعریفونه ځکه الله لره دی چه هغه رب دے هغه رحمٰن اورحیم دے مالك دے. هرکله چه په عالم کښے بل رب نشته ،رحمٰن رحیم نشته مالك نشته ، نودخدائتوب تعریفونه هم بل چالره نشته،صرف الله لره دی نه بل چا لره .

## ربّ العالمین:

**د رب تحقیق:** رب د تربیت نه ماخوذ دے او مربی هغه ذات ته وائی چه څوك د چا تربیت کوی بیا دا تربیت په دوه قسمه دے یو جسمانی او بل روحانی .

امام راغب په مفردات القرآن کښے فرمائی چه تربیت دے ته وائی چه :﴿**اِنْشَاءُ شَیْئٍ حَالًا فَحَالًا اِلٰی حَدِّ التَّمَامِ**﴾ یعنی یو شے لږ لږ د یو حد نه درجے دتمام ته رسول .

امام بیضاوی تفسیر کوی چه :﴿**تَبْلِیغُ الشَّیئِ اِلَی کَمَالِهٖ شَیئًا فَشَیئًا بِحَسْبِ الْاِسْتِطَاعَةِ الْاَزَلِیّ**﴾ یعنی په ازلی قدرت سره یو څیز خپل کمال ته رسول په مزه مزه .

لکه ماشوم اول په ګیډه د مور کښے او بیا پس د پیدائش نه د سینے نه پیٔ جاری کول او بیا ترځوانئ اوبیاتر بوډه والی پورے ئے الله تعالی تربیت کوی. او د جسمانی تربیت سره سره ئے د روحانی تربیت نظام هم جوړ کړے دے. جسم چونکه د زمکے نه جوړ دے نو د زمکے نه ئے ضروریات پوره کیږی او روح چونکه د آسمان نه راغلے دے،د دے وجے نه ئے د ده روحانی تربیت د آسمان د طرف نه کړے دے په وحی

سره. او د روح تربيت چونكه اعلی دے نو ځكه انتظام ئے ورله هم اعلی كړے دے. د رب لفظ مختلفے معنے علماؤ ذكر كړې دی لكه: تفسير مدارك علامه نسفي رحمه الله د رب تعريف داسے كوی:

﴿هُوَ الْخَالِقُ اِبْتِدَاءً وَالْمُرَبِّي غِذَاءً وَالْغَافِرُ اِنْتِهَاءً وَهُوَ اِسْمُ اللّٰهِ الْاَعْظَمُ﴾

يعنی الله تعالی خالق دے ابتداءً او مربي دے په خوراك وركولو سره او په آخره كښے بخښونكے دے او دا رب د الله تعالی لوئ نوم (اسم اعظم) دے.

رب مربي ،مصلح ،مالك ،حاكم، معبود ، سيد او سردار،مدبر ،قائم، دے ټولو معانيو دپاره استعماليږی.

## د رب تفسير د قران نه:

قرآن كښے درب معنی سورة شعراء: ۷۷ آيت كښے فرمائی:﴿اَلَّذِیْ خَلَقَنِیْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ وَالَّذِیْ هُوَ يُطْعِمُنِیْ وَيَسْقِيْنِ وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ وَالَّذِیْ يُمِيْتُنِیْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ وَالَّذِیْ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِیْ خَطِيْٓـَٔتِیْ يَوْمَ الدِّيْنِ﴾ يعنی رب هغه څوك دے چه زه ئے پيدا كړے يم او نيغه لار ئے راته ښودلے ده او ماله خوراك او څكاك راكوی او چه كله بيمار شم نو شفاء راكوی او پس د مرګ نه به مِ بيا ژوندے كوی او په ورځ د قيامت به راته ګناهونه بخښی.

## د تربيت نظام:

د الله د تربيت نظام هم قران بيانوی.

○ الله تعالی سورة فرقان كښے فرمائی :﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا﴾ يعنی هر څيز الله تعالی په يوے مقررے اندازے سره پيدا كړے دے.

- سورة نور ايت نمبر ٤٥ کښې فرمائی: ﴿وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِنْ مَآءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِى عَلٰى بَطْنِهٖ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِى عَلٰى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِى عَلٰى اَرْبَعٍ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ﴾ يعنى الله تعالى هر زنده سر د اوبو نه پيدا كړے دے نو بيا پدے كښې بعضے په كيده كرځى او بعضے په دوؤ او څلورو خپو كرځى. الله تعالى پيدا كوى څه چه اوغواړى.

او د انسان حال بيانوى.

- په سورة نحل ايت نمبر ٧٨ كښې فرمائی: ﴿وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ يعنى الله تعالى تاسو د ميندو د كيډو نه پيدا كړئ په داسے حال كښې چه تاسو هيڅ نه پيژندل او تاسو لره ئے غوږونه،سترګے او زړونه دركړل چه تاسو په دے باندے د الله تعالى شكر اوباسئ.

- او سورة روم ٥٤ كښې فرمائی: ﴿اَللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّ شَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ﴾ يعنى الله تعالى تاسو د كمزورى څيز نه پيدا كړئ بيا ئے قوى كړئ او د قوت نه بعد ئے كمزورى او بوډاګان كړئ. الله تعالى پيدا كوى څه چه اوغواړى.

- او انتظا م د الله تعالى په سورة عبس ايت نمبر ١٧ كښې ذكر كوى: ﴿قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَا اَكْفَرَهٗ مِنْ اَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهٗ مِنْ نُطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ﴾ يعنى دا انسان د كوم څيز نه پيدا دے، ديوے نطفے نه چه الله تعالى په اندازے سره پيدا كړو او بيا لارئے ورته اسانه كړه او بيا به ئے وفات كړى او چه كله الله تعالى اوغواړى نو راژوندے به ئے كړى.

○ او دخوراك انتظام بيانوى، فرمائى: ﴿فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا﴾ يعنى انسان دِے خپل خوراك ته اوګورى چه څه رنګ مونږ باران راوروو او زمكه پرے اوچوو او دانے ، انګور، تركارئ، زيتون، كهجورے، ګڼړ باغونه،ميوے او ګياګانے پرے راټوكؤو.

## دا تربيت د الله خاصه ده:

په تربيت د الله باندے نور اٰيتونه هم شته او دا تربيت الله تعالى پورے خاص دے .

○ سورة انعام ايت ١٦٤ كښے فرمائى ﴿قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِىْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَىْءٍ﴾ يعنى اٰيا زه د الله تعالى نه ماسيوا بل رب اوګڼړم حالانكه هغه د هر څيز رب دے.

○ او سورة اٰل عمران ايت ٨٠ كښے فرمائى : ﴿وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا﴾ يعنى تاسو ته دا حكم نه كوى چه تاسو د الله تعالى نه ماسوا فرشتےاو پيغمبران په خدائيتوب سره اونيسئ.

نو رب د الله تعالى نه ماسوا بل څوك نيشته او كه دا صفت د الله تعالى څوك بل چالره ثابتوى نو هغه مشرك دے.

اوس دا ربوبيت اوتربيت دالله هرڅه ته حاوى اورسيدلے دے، يواځے دانسان نه بلكه دحيواناتو، نباتاتو او جماداتو د زمكے اوآسمانونووغيره دهرڅۀ تربيت الله كوى.

○ سورة كهف ايت ١۴ كښ راځى:﴿رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ دزمكو اوآسمانوهم رب دى زمكه اوآسمانونه هم پالى .

○ بیاسورة شعراء ایت ۲۴ کښې راځی: ﴿قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا﴾ زمکه آسمان خو لا څه چه د ومابینهما هم رب دے د زمکے او د آسمانونو په مینځ کښې چه څه دی دهغے هم تربیت کوی.

○ سورةانعام۱۶۴کښې فرمائی:﴿ قُلۡ اَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡغِیۡ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَیۡءٍ﴾ مختصر داخه به درته یویو بیانوؤ بلکه وهو رب کل شیءٍ . هغه الله دهرشی رب دے، هرشی ته دالله ربوبیت اوتربیت حاوی دے، شامل دے، رسیدلے دے، دهرڅه پالنه هغه کوی ۰ بس دټول عالم رب دے ځکه وائی رب العالمین ۰

هرکله چه دهر څه رب الله دے اوداصفت دے دالله تعالی، نودالله نه سیوا بل چاته رب وئیل جائزنه دی ۰ نوځکه داربوبیت الله پاك قرآن کښې ځان لره ثابتوی اودغیر نه ئے نفی کوی چه زۀ رب یم بل څوك نشته ۰

○ لکه سورة انعام ایت نمبر ۱۶۴﴿ قُلۡ اَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡغِیۡ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَیۡءٍ﴾ اووایه ایاسیوا دالله نه بل رب اولټوم حالانکه هغه الله خورب دهرڅه دے یعنی رب یوالله دے بل نشته .

○ دارنګ سورة ال عمران ایت نمبر ۸۰ کښې فرمائی ﴿وَلَا يَاۡمُرَكُمۡ اَنۡ تَتَّخِذُوا الۡمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرۡبَابًا﴾ تاسوته حکم نه کوی چه تاسو فرښتے اوپیغمبران ارباب (ربّان) جوړکړئ بلکه دالله نه سیوابل رب جوړول خو ﴿اَيَاۡمُرُكُمۡ بِالۡكُفۡرِ بَعۡدَ اِذۡ اَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ﴾ دمسلمان کیدو نه پس کفردے سړے پرے کافرکیږی ـ اوکله دربوبیت اورب معنٰی اوصفات ذکر کوی اوهغه دغیرنه نفی کوی او الله لره ئے ثابتوی لکه

○ انعام ایت نمبر ۱۴ ﴿قُلۡ اَغَيۡرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُ﴾ اووایه ورته چه ایازۀ اونیسم سیوا دالله نه

کارساز پیدا کونکے دزمکو آسمانونو حالانکه هغه الله خو(مخلوق ته) رزق خوراك ورکوی (تربیت ئے کوی) اوهغه ته دخوراك (تربیت) ضرورت نیشته۰ نوداصفتونه دربوبیت، زمکه آسمانونه پیدا کول او رزق ورکول دالله کاردے دبل چانه۰

○ سورة نحل ایت ۷۳ کښے هم دربوبیت صفات دغیر نه نفی کوی﴿وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَالَايَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًامِنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ یعنی دوی عبادت کوی دهغه چاچه دوی لره دبره اولاندے نه رزق نشی ورکولے (غذاء اوتربیت) اختیاراوطاقت نه لری۰ دربوبیت داصفت چه رزق ورکول دی دبل چااختیاردالله نه بغیرنشته۰ اودرانګ ردکوی په ربوبیت دغیرالله باندے لکه

○ سورة توبه ایت نمبر ۳۱ ﴿اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ دوی خپل ملیان اوخپل پیران دالله نه سیوا په ربوبیت نیولی دی ارباب ئے جوړ کړی دی.

○ دارنګ سورة یوسف ایت ۳۹ کښے پرے هم ردکوی دیوسف علیه السلام د جیل تقریر دے وائی ﴿يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾

اے دجیل ملګروایاهغه خدایان، ارباب ګڼړ بهتردی که اك یوالله زورآور، نه نه اك یو، نو دا وه د رب معنیٰ.

**العالمین:** جمع دعالم ده ،اوعالم ماسیوا دالله ته وائی،یعنی تمام مخلوق. علامه نسفی رحمة الله علیه په تفسیر مدارك کښے فرمائی: ﴿اَلْعَالَمُ كُلُّ مَا عُلِمَ بِهِ الْخَالِقُ مِنَ الْاَجْسَامِ وَالْجَوَاهِرِ وَالْاَعْرَاضِ﴾ یعنی د خالق پیژندګلو چه په څه کیږی هغه عالم دے، بیا هغه عام دے که جسم دی او که نه لیدونکے خیزونه دی. او بیا فرمائی ﴿اَوْ كُلُّ مَوْجُوْدٍ

﴿سِوَى اللّٰهِ تَعَالٰى سُمِّيَ بِهٖ لِاَنَّهٗ عَلَمٌ عَلٰى وُجُوْدِهٖ﴾ یعنی د الله تعالی نه ماسوا هر موجود څیز عالم دے او عالم ورته ځکه وئیلے کیږی چه دا په وجود د الله تعالی باندے دلیل او نښه ده. ددے وجے نه یوسالك وائی :

﴿وَفِيْ كُلِّ شَيْءٍ لَّهٗ اٰيَةٌ---- تَدُلُّ عَلٰى اَنَّهٗ وَاحِدٌ﴾

یعنی په هر څیزکښے د الله تعالی د وجود نښے دی او په دے دلالت کوی چه الله تعالی یو دے.

او حافظ شیرازی سعدی فرمائی :

*برگِ درختان سبز در نظر ہوشیار* — *ہر ورق دفتریست معرفت کردگار*

یعنی په اونه کښے هره شنه پاڼره په وجود دالله تعالی باندے غټه نښه ده.

## اقسام د مخلوق:

نو عالم وائی ماسیوا دالله نه ټول موجوداتو ته که هغه بیا عالم د انسانانو وی که دپیریانو،که دفرښتو وی اوکه دنباتاتو او که جماداتو او که د حیواناتو او حشراتو وغیره ۰ بهرحال په عالم کښے ددنیاټول اجناس، آسمان، نورستوری، سپوږمۍ، فضاء او باد او هوا او برق او باران، ملائك او جنات، زمکه او زمکه کښے تمام مخلوقات، حیوانات انسانان انبیاء او اولیاء غټ او ورکوټی ،نباتات ،جمادات اومائعات وغیره داخل دی ۰داټول الله ته په تربیت کښے محتاج دی اوبیا دے عالم ته عالم ځکه وائی چه داعالم (ددنیاداهرڅه موجودات) دالله په وجود باندے دلیل دے الله پرے پیژندلے کیږی۰

## وجود د اللّٰه تعالی:

دا رد دے په کمیونسټو او دهریانو باندے. ځکه چه هغوی وائی چه الله تعالی مونږ ته نه ښکاری ځکه ئے نه منو، نو دا خبره ځکه غلطه ده چه

ډیر ځیزونه داسې دی چه هغه نه ښکاری لکه عقل ، هوا، وغیره. اوبیا هم منلې کیږی
حالانکه داعالم چه موجود دے نو دا په دے دلیل دے چه الله ضرورشته ځکه چه په دنیا کښې چه یو شی ته نظر اوشی نونظر سره دهغه شی په باره کښې دا تصور راځی چه دابه خامخا چا جوړکړے وی، ددے موجد صانع به خوك ضرور وی مثلاً آبادی، تعمیر،ګلکاربه خامخاجوړه کړے وی ،دارنګ یومشینری (مشین)مثلاً ګهړئ وغیره ته په کتلوسره دسائنسدان اومکینك خیال راځی. چه دابه چاجوړه کړے وی، په خپله نه دے پیدا، نودارنګ دالوئی عالم اوکائنات هم په خپله نه دے پیدا بلکه ضرور دده پیداکونکے شته اوهغه الله دے.
**واقعه د امام ابوحنیفه** رحمه الله : دامام ابوحنیفه په زمانه کښې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دیو دهری سره مناظره راغله امام صاحب د خپل وخت نه وروستو راغے نو هغه دهری پرے د وعده خلافئ الزام اولګولونو امام صاحب ورته عذر کښے اوفرمائیل چه زما په لار کښے دریاب وو، زه چه غاړے له راغلم نو کشتئ نه وه، نو یو اونه په خپله راکټ شوه اوتختئ ترینه جوړے شوے او په خپله په سټك میخونه ټك وهلے شو ،کشتئ ترے جوړه شوه او زه پکښے کیناستم او بغیر د مانړکی (ملاح )راپورے وتلم، نوځکه لیټ شوم. نو هغه دهری چه کله دا واوریدل نو وے وئیل دا خودی بله ناشنا او د عقل نه منونکے خبره اوکړه، دادومره کارونه بغیردکونکی نه پخپله څنګه اوشو، نوامام صاحب ورته او فرمائیل چه بے وقوفه څمادایووړه کشتئ پخپله جوړیدل اوبیابغیردمانړکی نه چلیدل ته نهٔ منے، دعقل نه خلاف ئے ګڼړی، نودادومره لوئی عالم اوکائنات څرنګه بے دالله، خالق،

پیداکونکی،مدبراومتصرف نه ګنړے. آیادادعقل نه خلاف نه ده؟ په دے سره دهری ملامته شو اوامام صاحب مناظره اوګټله اودهری مسلمان شو.

## دلائل عقلیه په وجوددالله تعالی په قرآن مجید کښے

سورة بقره ایت نمبر ١٦٤ کښے الله تعالی فرمائی: ﴿اِنَّ فِیۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاخۡتِلَافِ الَّیۡلِ وَالنَّهَارِ وَالۡفُلۡكِ الَّتِیۡ تَجۡرِیۡ فِی الۡبَحۡرِ بِمَا یَنۡفَعُ النَّاسَ وَمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنۡ مَّآءٍ فَاَحۡیَا بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَبَثَّ فِیۡهَا مِنۡ كُلِّ دَآبَّةٍ وَّتَصۡرِیۡفِ الرِّیٰحِ وَالسَّحَابِ الۡمُسَخَّرِ بَیۡنَ السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ یَّعۡقِلُوۡنَ﴾ یعنی په پیدائش د اسمانونو او زمکو، اوپه اختلاف د شپے او ورځ کښے اوپه هغه کشتو کښے چه د خلقو دفائدے د پاره چلیږی او په راوړولو د باران کښے او د هواګانو په چلولو کښے او په وریځو کښے چه الله تعالی د زمکے او اسمان په مینځ کښے مسخر کړے دی ،په دے ټولو کښے د الله تعالی د قدرت او وجود نخښے دی.

سورة الفاطر ایت نمبر١٣کښے فرمائی ﴿یُوۡلِجُ الَّیۡلَ فِی النَّهَارِ وَیُوۡلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیۡلِ وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ كُلٌّ یَّجۡرِیۡ لِاَجَلٍ مُّسَمًّی ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ لَهُ الۡمُلۡكُ﴾ یعنی شپه په ورځ کښے او ورځ په شپه کښے ننوستونکے،نمر او سپوږمۍ مسخر کونکے او مالك د هرڅه او قدرت لرونکے ذات د الله تعالی دے.

## عالم څه ته وائی؟ او څومره دی؟

قرآن دا ښودلی دی. سورة شعراء ایت نمبر ٢٣ کښے اوګورئ. فرمائی ﴿فَاۡتِیَا فِرۡعَوۡنَ فَقُوۡلَاۤ اِنَّا رَسُوۡلُ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ قَالَ وَمَا رَبُّ الۡعٰلَمِیۡنَ﴾ یعنی موسی او هارون علیهما السلام فرعون ته اووئیل چه مونږ د رب العالمین

رسولان یو، نو فرعون ورته اووئیل چه رب العالمین څوك دے؟ نو موسی علیه السلام ورته اول د عالم تشریح شروع کړه ځکه چه دوی عالم نه پیژندلو بلکه صرف مصر ته ئے عالم وئیلو او قاعده ده چه مضاف الیه د مضاف په معرفت مقدم وی نو ځکه ئے د عالمین وضاحت شروع کړو او وے فرمائیل: ﴿قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ﴾ یعنی موسی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه رب العالمین هغه ذات دے چه پالنه د آسمانونو او زمکو کوی او د هغه څه چه د دے دواړو په مینځ کښے دی،که چرته ستاسو یقین وی. یعنی عالم ،رب د آسمانونو او ددے مابین ته وائی:﴿ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ﴾ نو فرعون خپل ګیر چاپیره خلقو ته اووئیل چه تاسو اورئ دا دے څه وائی؟ ﴿ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَاۗىِٕكُمُ الْاَوَّلِيْنَ﴾ نو موسی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه الله تعالی هغه ذات دے چه رب ستاسو او ستاسو د پلارانو وړومبنو دے. یعنی عالم تاسوته اوستاسو مشرانو ته وائی. ﴿قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ﴾ نو فرعون اووئیل چه ستاسو پیغمبر خو لیونے شوے دے. ﴿قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا﴾ نو موسی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه الله تعالی هغه ذات دے چه پالنه کونکے د مشرق، مغرب او د مابین دے.یعنی عالم مشرق اومغرب او د دے مابین دے. نو حاصل دا چه عالم وائی زمکه او اسمانونو ته او دَ دے مابین چه څه دی دا رنګ مشرق او مغرب او په دے کښے دا تمام موجودات.

دا رنګ عالمین ئے ځکه جمع ذکر کړے ده چه عالمونه ډیر دی لکه حیوانات ، جمادات، معدنیات وغیره.

امام رازی په تفسیر کبیر کښې فرمائی چه یواځې دا عالم نه دے بلکه د دے عالم په شان په فضاء کښې په زرګونو عالمونه موجود دی.
دا رنګ امام قرطبي د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه د شلویښتو زرو عالمونو قول نقل کړے دے او د قتاده رحمة الله علیه په نزد اتیازره عالمونه دی. او په سمندر کښې هم په زرګونو عالمونه دی. نو اوس معنی دا شوه چه ټول حمدونه الله تعالی لره ثابت دی ځکه چه هغه رب العالمین دے یعنی د ټولو عالمونو رب دے.
نو په تربیت کښې ټول مخلوقات الله تعالی ته محتاج دی نو که عقیده د چا دا وه چه بل څوك هم مربي کیدے شي نو دا شرك دے.
دارنګ په رب العالمین کښې رد دے په هغه چا چه مدبر او نظام چلوؤنکے د الله تعالی نه سیوا بل څوك (ابدال او قطبان) ګنړی نوالله تعالی اوفرمائیل چه رب العالمین الله دے او بل څوك ئے په دے کار باندے نه دے مقرر کړے او دوی مدبر للعالم نه دی. سورة انبیاء ایت نمبر ٤٣ کښې الله تعالی فرمائی : ﴿اَمۡ لَهُمۡ اٰلِهَةٌ تَمۡنَعُهُمۡ مِنۡ دُوۡنِنَا لَا یَسۡتَطِیۡعُوۡنَ نَصۡرَ اَنۡفُسِهِمۡ وَلَا هُمۡ مِنَّا یُصۡحَبُوۡنَ﴾ یعنی څوك قطبان او غوثان د دوی سره مونږ نه دی ملګری کړی .
حافظ ابن تیمیه په خپل کتاب الفرقان کښې لیکلی دی چه د دے غوثانو او قطبانو په باره کښې چه کوم احادیث دی هغه ټول موضوعی او من ګهړت دی .

## الرحمن الرحيم:

دا دویم دلیل دے په دعوئ د توحید باندے او دا دواړه الفاظ د رحمت نه اغستلے شوے دی. نوپه دے الرحمان الرحیم کښې دالله تعالی

درحمت اودهغے کثرت، وسعت اودکمال بیان دے چه د الله تعالی ډیرے زیاتے مهربانۍ او انعامات دی اوبرکات دی.

**ربط:** مخکښې ئے اووئیل رب العالمین الله تعالی دټول عالم رب دے٠ نو ورپسے الرحمان الرحیم ئے دے دپاره ذکر کړو چه ددے ټولو مخلوقاتو کائناتوتربیت اوپرورش چه الله په خپله ذمه اغستلے دے نو دا څه دَ دباؤ مجبورۍ وغیره په بنیادنه ده بلکه دادالله تعالی دصفتِ رحمت تقاضاده ٠داد هغه مهربانی اواحسان دے٠

## په رحمان او رحیم کښې فرق:

اوس رحمان او رحیم کښے څه فرق دے اوڅه معنٰی ئے ده٠ مونږ د دے معنی کوو چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے .

( ۱ ) امام ضحاك فرمائی چه رحمان د اٰسمان والو پورے تعلق لری اورحیم د زمکے والو پورے تعلق لری.

( ۲ ) دعبدالله بن مبارك قول دے: درحمان معنٰی ده چه غواړے ترینه نو درکوی یعنی په غوښتلو او سوال سره ورکوی او رحیم چه نه غواړے ترے نوبیا ئے هم درکوی بے سواله یعنی دکوم چه ستاورته ضرورت وی نوبغیر غوښتلو ئے درکوی. ددے تائید قرآن کښے هم شته درحمان داتفسیر سورة فرقان ایت ۵۹ راځی: ﴿اَلَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ الرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ خَبِیْرًا﴾ دغه صفتونوالا الله رحمان دے (مهربان بادشاه) غواړه ددهٔ نه نواوبهٔ مومے دهٔ لره خبرداریعنی درحمان نه غواړه نودرکوی به ٠ حدیث کښے راځی چه شپه اخره شی نوالله پاك په خپل قدرت سره دخپل شان مطابق اول آسمان ته راځی اوآوازکوی چه هَلْ مِنْ مُّسْتَغْفِرٍ فَاَغْفِرَ لَهٗ وَهَلْ مِنْ مُّسْتَرْزِقٍ فَاَرْزُقَ لَهٗ ٠ ایاڅوك بخښنه غوښتونکے شته چه بخښنه

ورته اوكړم اواياځوك رزق غوښتونكے شته چه رزق ورلره وركړم. نوالله پاك خپله وائی چه غواړئ چه دركړم نوداشوه درحمان معنٰی. چه په غوښتلو ئے دركوی بلكه په نه غوښتلو سره غصه كيږی، ناراضه كيږی، لكه حديث كښے راځی مَنْ لَمْ يَسْئَلِ اللّٰهَ يَغْضِبْ عَلَيْهِ. يومعنٰی ئے داده چه څوك دالله نه نه غواړی نو د الله غضب دِ وی په هغه باندے .دارنګ سورة مومن ايت ٦٠ په يوتفسيرسره.

يوسالك وائی

﴿اَللّٰهُ يَغْضِبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَهٗ------وَبَنِيْ آدَمَ حِيْنَ يُسْئَلُ يَغْضِبُ﴾

الله په سوال نه كولو اونه غوښتلو باندے غصه كيږی اوبنيادم نه چه غواړے نوپه دے خفه كيږی. يوځل به دركړی خوكه په دويم ځل ترے غواړے نوبيا ئے په تندی باندی ١٢ بجے وی- نورحمٰن دے چه غواړے نودركوی او رحيم چه نه غواړے ترے نو بيائے هم دركوی چه كوم ته دانسان يامخلوق ضرورت دی لكه ژوند ،اسلام دارنګ نورضروريات بعضے مونږ نه وی غوښتلی اونه ئے ترے غواړو بلكه پخپله بے سواله ئے راكوی او ددے تائيد هم قرآن كښے شته لكه سوره ابراهيم ايت ٣٤ ﴿وَاٰتٰكُمْ مِنْ كُلِّ مَاسَاَلْتُمُوْهُ﴾ اودركوی تاسوته هغه چه ستاسوورته ضرورت دے (بتفسيرٍ)

(٣ ) رحمٰن د نعمتونووركولوپه معنیٰ دلالت كوی اورحيم دعذاب او مصيبت دفع كولوپه معنٰی كښے استعماليږی.

( ٤ ) امام بيضاوی وائی چه د رحمان معنی ده غټ غټ رحمتونو والا او رحيم د وړو وړو رحمتونو والا يعنی غټ غټ رحمتونه نعمتونه هم الله كوی ځكه چه رحمان دے او واړه واړه رحمتونه او نعمتونه هم الله كوی ځكه چه رحيم دے.

اوپدے معنی سره دے خبرے ته هم اشاره ده اورد دے په مشرکانو چه وائی چه الله غټ غټ کارونو په خپله کړی دی اوکوی ئے او واړه واړه ئے دے بزرګانو، اولیاؤ، انبیاؤ ته ورسپارلی دی ،نه نه ،الرحمان الرحیم واړه اوغټ ټول الله په خپله کوی۰

(۵) بل قول پکښے دادے چه د رحمٰن معنی ده عام مهربان ، عامے مهربانۍ ئے کړی دی اورحیم خاص مهربان، خاصے مهربانۍ ئے دی. په دے تفسیرسره دعام اوخاص بیادوه مطلبه کیدے شی.

○ یاخو داچه رحمٰن عام مهربان دے په دنیا کښے په مسلمان، کافر، دوست، دشمن الغرض په هر چا باندے، هرچالره رزق ورکوی پالی ئے وغیره. بغیر دفرق دمسلمان او کافر او دوست دشمن نه. اورحیم خاص مهربان دے په آخرت کښے، صرف مسلمان مومن موحدبه بخښی بل ځوك نه لکه چه داخبره امام فراء په معانی القرآن کښے کړے ده چه ﴿رَحْمٰنٌ فِی الدُّنْیَا رَحِیْمٌ فِی الْاٰخِرَةِ﴾ او دارنګ مدارك والا وائی ﴿رَحْمٰنُ الدُّنْیَا لِاَنَّه یَعُمُّ الْمُؤمِنَ وَالْکَافِرَ وَ رَحِیمٌ فِی الْاٰخِرَةِ لِاَنَّه یَخُصُّ الْمُؤمِنَ﴾ یعنی رحمان دے دنیاکښے ځکه چه دارحمانیت اومهربانی ئے په دنیا کښے مومن او کافر دواړو ته عامه اوشامله ده،ټولولره رزق اولاد ژوندوغیره ورکوی اورحیم دے په اخرت کښے ځکه چه دامهربانی او رحیمیت ئے خاص دے په اخرت کښے مومن سره چه هغه به بخښی نورځوك نه۰

○ اویاخو داسے عام اوخاص دے چه هرچاسره ئے عامه مهربانی کړے ده مثلاً انسان ، حیوان، بیاهاتهی میږی لره خوراك ورکوی، سترګے، غوږونه خپے، لاسونه ئے ټولو لره ورکړی دی،اوهاتهی لره دهاتهی اومیږی لره ئے دمیږی مناسب، داهرڅه ورکړی دی،خو دے

هرڅه لره ئے بیادا د هغه مناسب اومطابق ورکړی دی،نو دادے رحیم، خاص مهربان ،که چرے هاتهی لره ئے خوراك ورکولو خودمیږی والا نوهغه به بیامړیدو ځنګه اوکه خپے ئے د میږی ورکړے وے نوبیابه پرے ګرځیدو ځنګه دارنګ که میږی لره ئے دهاتهی غوږونه ورکړے وے نوبیابه ورسره هغه چاګرځولے، نو دا د خوراك ،لاس خپو غوږونووغیره عامه ورکړه، دا عامه مهربانی ده. دا د الله د رحمانیت تقاضا ده او بیا هر چا لره د هغه مناسب اومطابق خوراك لاسونه خپے اوغوږونه وغیره ورکول نوداشوه خاصه مهربانی دا د الله د رحیمیت تقاضا ده.

بهرحال رحمٰن عام مهربان او رحیم خاص مهربان ته وائی۔ داداللہ عامه اوخاصه مهربانی اورحم اودرحمٰن اورحیم معنٰی قرآن کښے هم شته ، چه دالله رحمتونه اونعمتونه څه عام دی هرڅه ته رسیدلی دی اوڅه د خاصو خلقو سره خاص وی.

یعنی په قرآن کښے دالله رحمت په دوؤ طریقو سره ذکر دے ، یو په وسعت سره (عمومیت سره) اوبل په لزوم اوخصوصیت سره۔ نوبس چه دا اوګورے نومعنٰی به اوشی درحمٰن اورحیم.وسعت اوعمومیت به معنٰی درحمن شی اولزوم او خصوصیت به معنٰی درحیم شی۔

داوسعت اولزومیتِ رحمت دواړه په یوځائے سورۃ اعراف ایت ۱۵٦ کښے ذکردی: ﴿ **وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ** ﴾ یعنی رحمت (مهربانی انعام) ځما وسیع دے (رسیدلے دے) هر یو شی ته پس اوبه ئے لیکم، مقرر به ئے کړم، لازم به ئے کړم دپاره دهغه متقیانو چه زکوٰۃ ورکوی اوځمونږپه ایاتونه ایمان راوړی۔ په دے ایت کښے **ورحمتی وسعت کل شیءٍ** کښے وسعت او

عمومیت د رحمت ذکر دے چه د رحمٰن معنی ده. هرڅه ته رسیدلے دے عام دے، او دا هر څه ته رسیدل اوعام کیدل په دنیا کښے وی نوعام مهربان په دنیا کښے شو. او **فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ** سره ئے دارحمت خاص اولازم کړو په مومنانو، متقیانو پورے چه په آخرت کښے به وی لکه قرآن کښے بل ځائے دا انعامات،خاص کیدل دمومن دپاره، الله اخرت سره مقیدکړی دی یعنی داخرت شرط ئے پکښے لګولے دے لکه فرمائی: ﴿**قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ**﴾ [**اعراف**:۳۲] اووایه ورته چه دامهربانی اوانعامات دمومنانو دپاره دی په دنیاکښے اودکافرانودپاره هم دی لیکن خاص به وی په قیامت کښے صرف دمومنانودپاره ،کافرلره به نه وی. نوداشورحمتی وسعت عام مهربان (رحمٰن ) او (**فساكتب**۱۵) خاص(رحیم). دارنګ داخاص اولازم رحمت اومهربانی دالله یواځے هم ذکر ده په قرآن کښے لکه سورة انعام ایت نمبر ۱۲ ﴿**قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ قُلْ لِّلّٰهِ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ**﴾ الله مقررکړے دے، لازم کړے دے په ځان خپل باندے رحمت اول ،رحمت اومهربانی، رحم دالله اول وی عذاب اوغضب اوغصه بیا وروستو دبدعملئ دانسان دوجے نه وی. لکه حدیث قدسی کښے هم راځی چه **سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ** ځمارحمت دغضب نه مخکښ دے بهرحال پدے ایت کښے دلته درحمت بیان دے خودخاص اولازم ،چه **كَتَبَ** نه معلومیږی ۰ دارنګ بیا ایت نمبر ۵۴ کښے فرمائی: ﴿**وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ**﴾ ستاسو رب په ځان باندے مقررکړے دے لازم کړے دے، رحمت اول. نودلته هم دلزوم رحمت، خاص مهربانئ بیان دے اوبل **اِنَّهٗ مَنْ عَمِلَ**

مِنۡکُمۡ سره ئے خاص کړے دے کنه چه څوك توبه اوباسی نورحمت ئے ورته خاص لازم اومقررشی ۰ اوهم داشان هغه عام او وسیع رحمت اومهربانی هم قرآن کښے ځائنله ذکر ده ۰ لکه سورة مومن ایت نمبر ۷ کښے فرشتے دعاکوی او وائی ﴿رَبَّنَا وَسِعۡتَ کُلَّ شَیۡءٍ رَّحۡمَةً وَّعِلۡمًا --- الخ﴾ اے ځمونږ ربه ستارحمت اوعلم وسیع دے هرڅه ته رسیدلے دے نو دا شو عام او وسیع مهربانی او رحمت دالله، چه معنیٰ درحمٰن ده ۰ نوبس داشو درحمٰن اورحیم مطلب اومعنیٰ، عام وسیع اوخاص لازم رحمت اومهربانئ والا.

**دنیاکښې دالله رحمانیت**: دا الله رحمت اومهربانی په دنیاکښے څنګه ده؟ نوهغه هم قرآن بیان کړے ده، خودے ددنیاعامے مهربانئ او رحمت ته کله رحمت اومهربانی وائی. دررحمت اورحمٰن په عنوان ئے بیانوی اوکله ورته نعمت ،انعامات اواحسانات وائی اوکله ورته برکات هم وائی ځکه چه ټول یوشے دے دالله رحمت دے ټولو مهربانواونعمتونوته وئیلے کیږی. اوبیادامهربانی اونعمتونه باقی ساتل اوزیاتول، نو دے ته برکت یا برکات هم وائی- الغرض الله پاك داخپل رحمانیت اوعامه مهربانی قرآن کښے په دے طریقه بیانوی لکه سورة رحمٰن:۱تا۱۳

﴿اَلرَّحۡمٰنُ ۝ عَلَّمَ الۡقُرۡاٰنَ ۝ خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ ۝ عَلَّمَهُ الۡبَیَانَ ۝ اَلشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٍ ۝ وَّالنَّجۡمُ وَالشَّجَرُ یَسۡجُدٰنِ ۝ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الۡمِیۡزَانَ ۝ اَلَّا تَطۡغَوۡا فِی الۡمِیۡزَانِ ۝ وَاَقِیۡمُوا الۡوَزۡنَ بِالۡقِسۡطِ وَلَا تُخۡسِرُوا الۡمِیۡزَانَ ۝ وَالۡاَرۡضَ وَضَعَهَا لِلۡاَنَامِ ۝ فِیۡهَا فَاکِهَةٌ وَّالنَّخۡلُ ذَاتُ الۡاَکۡمَامِ ۝ وَالۡحَبُّ ذُو الۡعَصۡفِ وَالرَّیۡحَانُ ۝﴾

رحمٰن،مهربان بادشاه دے، دامهربانی ئے کړے ده چه قرآن ئے ښودلے دے، انسان ئے پیداکړے دے بیا ئے ګویاکړے دے، نور او سپوږمئ

ئے دحساب دپاره پیداکړی دی، ستوری او اونے ئے تابع کړی دی، آسمان ئے اوچت کړے دے، اوتله ئے ایخودلے ده۔ زمکه ئے دخلقو دپاره پیداکړے ده او په دے کښے ئے میوے کهجورے، دانے اوګلونه پیداکړی دی. فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ نو د کوم کوم انعام نه به سترګے پټوئ۔

دا شو د الله په دنیاکښے مهربانی اورحمانیت خوبیاپه دے کښے چه سوچ اوشی نودالله دامهربانئ دوه قسمه دی یودنیاوی (بدنی) اودویم روحانی (اخروی)۔

دانسان پیدائش زمکه آسمان نورسپوږمئ میوے غلے وغیره دادنیاوی اوبدنی مهربانئ او انعامات دی۔ اوعلم د قرآن اوبیان روحانی او اخروی مهربانئ اوانعامات شو. قرآن پاك کښے الله تعالی دا رحمانیت، مهربانئ دنیاوی ځانله او اخروی ځانله جدا جدا هم بیان کړی دی۔ اول دنیاوی بدنی مهربانئ اونعمتونه ،لکه سورة رعد ایت نمبر ۳ ، ٤

﴿وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ﴾

الله هغه ذات دے چه د (هغه درحمانیت اورحمت مظهردادے ) چه زمکه ئے خوره کړے ده، غرونه ئے پکښے اودرولی دی اودریابونه ئے روان کړی دی اودهرقسمه میوؤ نه ئے جوړه جوړه پیداکړی دی، شپه په ورځ سره پټوی (بدلوی)۔

بیافرمائی: ﴿ وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ﴾ اوپه زمکه کښے ونډونه (ځان ځان له خطے) دی نزدے نزدے یوبل سره، اوباغونه دی دانګورو، او فصلونه دی او کجهورے دی تنو والا او بغیر د تنو والا، چه ټول په

یوقسم اوبوسره اوبه کیږی نوداټول دالله په دنیاکښے نعمتونه او مهربانئ دی اودادالله درحمانیت مظهر دے. دارنګ سوره نحل ایت نمبر ۸۰،۸۱:

﴿وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ وَمِنْ اَصْوَافِهَا وَ اَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَا اَثَاثًا وَّمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ۝ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ﴾ الله دامهربانئ هم کړی دی چه تاسولره ئے دآرام دپاره کورونه جوړکړی دی اودڅاروؤ دڅرمنے نه ئے درله هم کورنه (خیمی) جوړکړی دی، چه تاسو ته آسان وی په اقامت اوسفر دواړو کښے او د ګډو دوړئ اوداوښانو بزودپشم نه ئے سامان اودفائدے اشیاء پیداکړی دی، الله تاسودپاره سوری پیداکړی دی اودګرمئ یخنئ او د جنګ نه دبچ کیدو دپاره ئے قمیصونه پیداکړی دی، ﴿كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ﴾ داټول دالله نعمتونه دی چه په تاسوئے پوره کوی. دارنګ بیا نحل ایت نمبر ۱۱۴کښے فرمائی: ﴿فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ﴾ نو الله کوم پاك او حلال رزق درکړے دے هغه خورئ او شکر پرے اوباسئ. داهم **(نعمت الله)**، دالله نعمت دے داخو دالله مهربانئ او نعمتونه شول په اوچه کښے په دریاب (لونده) کښے ئے هم مهربانئ کړی دی. ددے سورة نحل ایت نمبر ۱۴ کښے ددے مهربانئ ذکر داسے کوی چه: ﴿وَهُوَ الَّذِيْ سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْكُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ الله هغه ذات دے چه دریاب ئے تاسوته ددے دپاره تابع کړے دے، چه تاسو ترے تازه غوښه

(مهیان) اوزیورات راوباسئ، او کشتئ وینے په دے دریاب کښے شلوونکے اوبولره چه تاسو ددے په ذریعه دالله فضل طلب کړئ، دے دپاره چه تاسو پدے انعاماتو او مهربانئ دالله شکر اوباسئ۰داشو په لونده کښے دالله درحمانیت مظهر،نوبیاپه سورة نحل ایت نمبر ۵۳ کښے راځی چه کوم کوم به درته شمارم خولنډه داچه **وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ** بس کوم نعمت هم چه تاسوځان سره وینئ، ګورئ اوپه نظرراځی نوهغه ټول الله کړی دی۰ داخو دالله په دنیاکښے دمهربانواورحمانیت مظهرشو۔ خودویم الله روحانی (اخروی) انعامات اومهربانئ هم کړی دی لکه سورة انبیاء ایت نمبر ۱۰۷ ﴿**وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ**﴾ مونږتهٔ نه ئے رالیږلے پیغمبره مګر ستا دا رالیږل چه دی دارحمت دے دپاره دعالم، مخلوقاتو (دلته رحمة مفعول له دے دپاره د ارسلنك) نو روحانی مهربانی او د رحمت مظهر د الله دادے چه نبی ئے رالیږلے دے ۰دارنګ په قرآن باره کښے سورة یونس ایت نمبر ۵۷کښے راځی چه اے خلقو قرآن مِ درلیږلے دے دوعظ او نصیحت او د علاج کتاب دے نوبیافرمائی :**قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا**،دالله په دے فضل او رحمت باندے داخلق دِ خوشحاله شی، نوقرآن رحمت دے ،دا د الله د رحمانیت نښه ده او دائے روحانی نعمت کړے دے ۔ چه قرآن ئے راکړے دے۰ دارنګ سورة لقمان وغیره کښے هم راځی: ﴿**تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ۝**﴾ داقرآن رحمت دے دالله، نوداشول دالله په دنیاکښے دوه قسمه مهربانئ رحمتونه نعمتونه اودالله درحمانیت مظهر.

بیادے مهربانو ته کله کله برکات هم وائی یعنی دانعمتونه کول اوبیائے باقی ساتل اوبیائے ډیرول وغیره نودادے برکت او دے ته هم

رحمانیت اومهربانی وائی لکه سورة ملك ایت نمبر ۱کښې راځی ﴿تَبٰرَكَ الَّذِی بِیَدِهِ الْمُلْكُ﴾ برکتونووالا الله دے هغه ذات چه په لاس کښې ئے اختیار دے ـ دارنګ سورة فرقان ایت نمبر ۱ تا ۱۰ کښې راځی: ﴿تَبٰرَكَ الَّذِی نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰی عَبْدِهٖ﴾ برکتونو والا هغه دے چه په خپل بنده ئے قرآن (فرقان)رالیږلے دے: ﴿تَبٰرَكَ الَّذِیٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَیْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَیَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا﴾ بیا ایت نمبر ۶۱کښې فرمائی: ﴿تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِیْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِیْرًا وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ یَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا﴾ پدے ټولوایاتونو کښې ذکرکوی چه برکت والا الله دے، خوورسره ورسره مخکښې وروستو هم هغه انعامات اومهربانئ هم بیانوی کوم ته چه انعامات اومهربانی (دالله برکتونه هم) وائی ـ نو دا ئے په دنیاکښې درحمانیت مظهردے ـ

## د رحمن اطلاق په غیر:

هرکله چه رحمٰن وئیلے کیږی دی نعمتونو،رحمتونو،مهربانو اوبرکتونو والا ته اودرحمٰن دومره وسیع معنٰی ده نوددے وجے نه رحمٰن غیرالله ته وئیل هم جائزنه دی ځکه چه رحمٰن وائی دے هر قسم رحمتونه برکتونه کونکی ته اودابل څوك نشی کولے، صرف دالله صفات دی نوځکه بل چاته رحمٰن هم نه شی وئیلے کیدے.

لکه څرنګه چه ناپوهه خلق عبدالرحمٰن ته رحمان وائی مثلاً دپښتو مشهورصوفی شاعرعبدالرحمان باباته رحمان بابا وائی، دارنګ لیکلو کښې لیدلے شی چه رحمان باباکالج ،رحمان میډیکل سټوروغیره. بهرحال صرف رحمان چاته وئیل جائزنه دی ـ مفسرینوهم دالیکلی دی لکه تاج العروس او ابن جریر وائی: لَایُسَمّٰی بِالرَّحْمٰنِ غَیْرُاللهِ - غیرالله ته رحمان

نشي وئيلے کيدے ـ تفسيرعزيزی کښے دی چه څوك غيرالله ته رحمٰن اووائی نوکافرشو-قرطبی وائی: ﴿وَهُوَاِسْمٌ لَمْ يُسَمِّ بِهِ غَيْرَه﴾

## د الله د رحمت او د برکت حصول:

الغرض داووپه دنياکښے دالله رحمانيت اومهربانی ،اوس داکتل غواړی چه دارحمتونه اومهربانئ دالله په څه سره حاصليږی نوطريقه داده، چه په قرآن کښے دے انسان اوګوری چه چرته دالله درحمت اوحصولِ رحمت ذکر وی يا **لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْن** راغلے وی نوهلته به ورسره ورسره هغه اسباب هم ذکروی په کوم چه دارحمت اومهربانی حاصليږی، او دا په قرآن کښے ډيرزيات شته دهغے نه يوڅو،

دالله درحمت اومهربانی حاصليږی اومتوجے کيږی دالله او د رسول په اطاعت، په قرآن وسنت منګولو لګولوسره لکه سورة عمران ايت نمبر ۱۳۲ ﴿**اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ**﴾ دالله او رسول اطاعت او تابعداری اوکړئ نو مهربانی به درباندے اوشی ۰دارنګ رحم کيږی په قرآن اوتوحيد باندے منګولے لګولوسره لکه سورة نساء ايت نمبر ۱۷۵ ـ ﴿**يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا**﴾ الله ددليل او د نور کتاب قرآن راليږلے دے: ﴿**فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ**﴾ نوپس څوك چه دالله توحيداومنی اومنګولے اولګوی په دے کتاب نوالله بهٔ ئے خپل رحمت کښے داخل کړی مهربانی به پرے اوکړی ـ دارنګ د قرآن په اوريدو او قرآن ته په کيناستو سره دالله مهربانی اورحمت حاصليږی ـ ﴿**وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ**﴾ کله چه قرآن وئيلے کيږی (بيانيږی) نوغوږورته کيږدئ اوچپ شئ نورحم او مهربانی به درباندے اوشی ۰

دارنګ جهادکولوسره دالله مهربانی حاصلیږی ،لکه ال عمران ایت نمبر ۲۰۴ ﴿وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اَوْمُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللّٰهِ وَّرَحْمَةٌ﴾ کچرے جهادکښے شهیدان شوئ یا مو جهاد کړی وی اوپه خپله بستره مړه شوے نو دا به سبب دمغفرت اورحمت شی۔

دارنګ د ګناهونو په پریخودلوسره لکه سورة النساء ایت نمبر ۲۹ ۔ ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ قف وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا﴾ پدے ایت کښے د یو څو ګناهونو نه منع کړے شوے ده چه دیوبل مال په باطله مه خورئ اوقتل وقتال په خپل مینځ کښے مه کوئ نوالله به په تاسو رحم اوکړی۔

دغه شان استغفاراوطلب د بخښنے سره دالله مهربانی حاصلیږی لکه سورة نمل ایت نمبر ٤٦ ۔﴿لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ ولے دالله نه بخښنه اواستغفارنه غواړئ چه رحم درباندے اوشی ۰ دا وو دالله نعمتونه اورحمتونه حاصلولودپاره اسباب اوکارونه۔ بهرحال داشو د الرحمٰن الرحیم معنٰی اومطلب چه الله عام اوخاص مهربان دے دارحمتونه او نعمتونه دهغه دی، بل څوك ئے نه شی کولے۔

اودا (الرحمٰن الرحیم) دویم دلیل دے دپاره دالحمدلله ،هرکله چه الله رحمٰن رحیم دے، عامے خاصے مهربانۍ دهغه دی نوالحمدلله، دخدائی توب صفتونه اوتعریفونه به هم دالله وائی،دبل چابه نه وائی، ځکه چه دهغه په شان بل څوك داسے مهربان نعمتونو،رحمتونو، اوبرکتونوواﻻ نشته۔

هر کله چه الله رحمتونو ، نعمتونو والا دے نو هغه ته سوال پکار دے:

په قرآن کښې الله تعالی فرمائي :﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ يعنی دالله تعالی نه نه غوښتل سبب د تلو د جهنم دے. او نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي: ﴿مَنۡ لَّمۡ يَسۡئَلِ اللّٰهَ يغۡضِبۡ عَلَيۡهِ﴾ يعنی څوك چه د الله تعالی نه څه نه غواړی نو الله تعالی پرے غصه کيږی.

حديث کښې راځی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم له حکيم بن حزام راغے چه مال غنيمت کښې ماله حصه راکړه نو هغوی ورکړه، هغه بيا راغے نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل چه الله تعالی نه غواړه. ددے صحابی باره کښې راځی چه ددينه پس به دهٔ دهيڅ چانه سوال نه کولو۰

او ابو القاسم سهيلی فرمائي:

يَا مَنۡ يرىٰ مَا فِي الضَّمِيرِ وَيسۡمَعُ  اَنۡتَ الۡمُعِدُّ لِكُلِّ مَا يتَوَقَّعُ

يَا مَنۡ يرَجّٰى فِي الشَّدَائِدِ كُلِّهَا  يَا مَنۡ اِلَيۡهِ الۡمُشۡتَكىٰ وَالۡمَفۡزَعُ

يَا مَنۡ خَزَائِنُ رِزۡقِهٖ فِي قَوۡلِ كُنۡ  اُمۡنُنۡ فَاِنَّ الۡخَيۡرَ عِنۡدَكَ اَجۡمَعُ

مَالِي سِوَا فَقۡرِيۡ اِلَيۡكَ وَسِيلَةٌ  فَبِاۡ الۡاِفۡتِقَارِ اِلَيۡكَ فَقۡرِي اَدۡفَعُ

مَالِي سِوَا قَرۡعِي بِبَابِكَ حِيلَةٌ  وَلَئِنۡ رُدِدۡتُ فَاَيَّ بَابٍ اَقۡرَعُ

حَاشَا لِجُوۡدِكَ اَنۡ تُقَنِّطُ عَاصِياً  اَلۡفَضۡلُ اَجۡزَلُ وَالۡمَوَاهِبِ اَوۡسَعُ

ثُمَّ الصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ وَاٰلِهِ  خَيۡرِ الۡاَنَامِ وَمَنۡ بِهٖ يُتَشَفَّعُ

شيخ عبد القادر جيلانی فرمائي چه :﴿اَغۡلِقِ الۡبَابَ بَينَكَ وَبَينَ الۡخَلۡقِ وَافۡتَحِ الۡبَابَ بَينَكَ وَبَينَ اللّٰهِ﴾ يعنی خپل او د مخلوق په مينځ کښې دروازه بنده کړه او د خالق سره رابطه جوړه کړه.

سورة فرقان ايت نمبر ۵۹ کښې فرمائي: ﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى الۡحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوۡتُ وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوۡبِ عِبَادِهٖ خَبِيرًا بَّصِيرًا ۝ اَلَّذِي خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالۡاَرۡضَ

﴿وَمَا بَيۡنَهُمَا ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ الرَّحۡمٰنُ فَاسۡـَٔلۡ بِهٖ خَبِيۡرًا﴾. یعنی اعتماد په هغه ذات جوړ کړه چه ژوندے ذات دے او په ګناهونو د انسانانو باندے خبردار او لیدونکے دے.
الله تعالی هغه ذات دے چه اسمانونه او زمکے او په مابین د دے کښے ئې پیدا کړے دی او بیا دخپل شان مناسب په عرش باندے برابر شوے دے او رحمان ذات دے نو د هغه نه سوال کوه هغه به خبردار اوموے.

## مالك يوم الدين:

اختیارمند دے دورځے دجزاء دا دریم دلیل دے مُلك دمِلك اوملکیت نه ماخوذ دے په معنٰی داختیار،نو د مالك معنٰی ده اختیارمند اوڅوك چه دلته دملك معنٰی بادشاه کوی نو دلته دا صحیح نه ده ځکه چه بادشاه ته مَلِك وئیلے کیږی اودلته مَالِك دے، اګرچه مَلِك یوم الدین هم یوقراءت شته ـ خو مشهورقراءت مالك دے نودمالك معنٰی کول پکاردی اومالك وائی اختیارمندته، اوسفیان ثوری رحمه الله وائی: د مالك معنیٰ ده شهنشاه یعنی شهنشاه دے، دبادشاهانوبادشاه دے. ددے وجے نه شنهشاه بل چاته وئیل بغیرالله نه جائز نه دی ـ حدیث کښے راځی بعضے مفسرینو دلته نقل کړے دے او بخاری ص ۹۱۶ کښے راځی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی: ﴿اَخۡنَعُ الۡاَسۡمَاءِ عِنۡدَاللّٰهِ رَجُلٌ يُسَمّٰى مَلِكَ الۡاَمۡلَاكِ﴾ بدترین په نومونوکښے نوم دهغه سړی دے چه ملك الاملاك (شنهشاه)ورته وئیلے شی ـ خلق خپلو د دنیا بادشاهانو ته شهنشاه وائی، داناجائزده بهرحال مالك شهنشاه اواختیارمند ته وئیلے کیږی ـ الله پاك دا اختیار قرآ ن پاك کښے ځان

لره ځائے په ځائے ثابتوی چه واکداراواختیارمندزۀ یم دهرڅه اختیارماسره دے که هغه اولاد ورکول وی او که برکات، دررزق ذمه واری وی او که دعمراوکه بیماری تکلیف راوستل وی که لرے کول ، داټول اختیارمالره دے بل چالره ددے اختیاراوملکیت نشته اونه ورلره ما ورکړے دے اودا اختیارالله دغیرالله نه نفی کوی۰

دنیاکښے هم الله اختیاراوواك والا دے اواخرت کښے هم هغه اختیارمنددے ـ دنیاکښے بل داسے دالله په شان (مافوق الاسباب) اختیارمندنشته، نواخرت کښے به هم نه وی ۰ ثبوت دملکیت الله لره (چه زۀ اختیار مندیم) لکه سورة مائده ایت نمبر ١٧-١٨ ﴿وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا﴾ خاص په اختیاردالله کښے دی زمکے اوآسمانونه اوهغه څه چه ددے په منیځ کښے دی ټول۰

دارنګ سورة جاثیه ایت نمبر ٢٧ ﴿وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ خاص په اختیاردالله کښے دی آسمانونه اوزمکے.

سورة نساء ایت نمبر ١٢٦کښے راځی (وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) خاص الله لره دی (اختیار کښے ئے دی)هغه څه چه په زمکه اوآسمانونوکښے دی ټول ـ دارنګ سورة انعام ایت نمبر ١٣کښے دی ﴿وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ اوخاص الله لره دے اختیاردهغه څه چه اوسی په شپه او ورځ کښے، شپه او ورځ پرے راځی هغه ټول مخلوق۰ دارنګ سورۀمائده ایت نمبر ٢٠کښے اواعراف ایت نمبر ١٥٨

نفی دملکیت دغیرالله نه، چه بل چالره اختیارنشته :لکه سورة مائده ایت نمبر ٧٦ (قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا﴾ اووایه ورته چه ایا تاسو دهغه چاعبادت کوئ دالله نه سیواچه مالکان نه دی اختیار ئے نشته ،نه دنفع اونه دنقصان ۰

دارنګ سورة سبا ایت نمبر ۲۲ ﴿قُلِ ادۡعُوا الَّذِیۡنَ زَعَمۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰہِ لَا یَمۡلِکُوۡنَ مِثۡقَالَ ذَرَّۃٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَلَا فِی الۡاَرۡضِ وَمَا لَہُمۡ فِیۡہِمَا مِنۡ شِرۡکٍ وَّمَا لَہٗ مِنۡہُمۡ مِّنۡ ظَہِیۡرٍ﴾

اووایه ورته چه رامددکړئ هغه کسان چه ستاسو پرے ګمان دے مالکان نه دی دذرے برابر، نه بره په آسمانونو کښے اونه لاندے په زمکه کښے اونشته دوی لره حصه په زمکه او آسمانونو کښے اونشته په دوی کښے الله لره څوك معاون (مددګار) یعنی نه ئے خپل اختیار او تصرف شته، نه ئے حصه داری شته الله سره اونه ئے دالله سره څه تعاون شته چه څه اوکړے شی. دارنګ سورة فاطر ایت نمبر ۱۳، ﴿وَالَّذِیۡنَ تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِہٖ مَا یَمۡلِکُوۡنَ مِنۡ قِطۡمِیۡرٍ﴾ هغه کسان چه تاسو ورته رامددشه وایئ د هغوی خو د قطمیر(دکجهورے دهډوکی جلئ) برابرهم اختیارنشته

اوسورة فرقان ایت نمبر ۳ کښے راځی ﴿وَاتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِہٖۤ اٰلِـہَۃً لَّا یَخۡلُقُوۡنَ شَیۡئًا وَّہُمۡ یُخۡلَقُوۡنَ وَلَا یَمۡلِکُوۡنَ لِاَنۡفُسِہِمۡ ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا وَّلَا یَمۡلِکُوۡنَ مَوۡتًا وَّلَا حَیٰوۃً وَّلَا نُشُوۡرًا﴾ دے خلقو(مشرکانو)نیولی دی سیوادالله نه نورمددګاران، چه هغوی نشی پیداکولے هیڅ شئ بلکه دوی پیداکړے شوی دی (خپل پیدائش کښے الله ته محتاج وو)اونه ئے اختیارشته دځان دپاره هم نه دنفع اونه دنقصان اومالکان نه دی دمرګ اوژوندااونه دقبرنه دراپورته کولو.

دارنګ دتکلیف، مصیبت او د بیمارئ لرے کولواختیارهم نه لری بغیردالله نه، لکه انعام ایت نمبر ۱۷ ﴿وَاِنۡ یَّمۡسَسۡکَ اللّٰہُ بِضُرٍّ فَلَا کَاشِفَ لَہٗۤ اِلَّا ہُوَ﴾ که الله درته تکلیف، مصیبت او بیماری اورسوی نونشته دے ددے لرے کونکے سیوادالله نه بل څوك ـ دارنګ داولاد

ورکولواختیارهم نه لری لکه قصص ایت نمبر ٦٨ ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَايَشَآءُ وَيَخْتَارُمَاكَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾ رب ستاپیداکوی څه چه ئے خوښه شی اوچونړ کوی اونشته مخلوق لره اختیار.
دارنګ درزق اختیارئی هم نشته لکه سورة عنکبوت ایت نمبر ١٧کښے راځی:
﴿اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَايَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًافَابْتَغُوْا عِنْدَاللّٰهِ الرِّزْقَ﴾ بیشکه هغه کسان چه تاسوئے عبادت کوئ دالله نه سیوا هغوی خومالکان نه دی تاسولره درزق هم بلکه رزق الله سره اولټوئ.
داخوشوعام مخلوق، د ټولو انبیاؤ اولیاؤ هم اختیار نشته بلکه تردے چه نبیﷺ په باره کښے هم راځی سورة یونس ایت نمبر ٤٩کښے ﴿قُلْ لَاۤاَمْلِكُ لِنَفْسِىْ ضَرًّاوَّلَانَفْعًا﴾ اووایه ورته پیغمبره چه زۀ دځان دپاره هم دنفع او د نقصان مالك نه یم نودبل دپاره خودرکنار نو دا خوشو په دنیاکښے ملکیت دالله، چه ځان لره ئے ثابت کړو اودغیرنه ئےنفی کړو.
هم دارنګ داملکیت په قیامت کښے به هم الله لره وی دبل چابه نه وی لکه سورة مومن ایت نمبر ٠١٦
﴿يَوْمَ هُمْ بَارِزُوْنَ لَايَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ الْوَاحِدِالْقَهَّارِ﴾ په دغه ورځ دقیامت به دوی مخامخ شی الله ته اودوی نه به څوك هم د الله نه پټ نه وی ، نوآوازبه اوشی چه نن دچابادشاهی ده (اختیاردے)؟ نومخلوق به ټول چُپ وی نوپه جواب کښے به دوباره آوازاوشی ﴿لِلّٰهِ الْوَاحِدِالْقَهَّارِ﴾ نن د اك یو الله زورآوربادشاهی ده، دبل چانه ده دارنګ سوره انفطار ایت نمبر ١٩ کښے راځی﴿يَوْمَ لَاتَمْلِكُ نَفْسٌ لِنَفْسٍ شَيْـًٔاوَالْاَمْرُيَوْمَىِٕذٍلِلّٰهِ﴾ په دغه ورځ دقیامت به یونفس دبل

نفس دپاره هيڅ اختيارنه لرى اواختيارتول به په دغه ورځ وى خاص دالله نوبس ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾ دامعنٰى شوه چه څنګه په دنيا كښے مالك هغه دى بل څوك مالك حقيقى نشته نودغه رنګ قيامت كښے هم اختياردالله چليږى۰

مالك كښے يودغه خبره شوه بل په دے مالك يوم الدين كښے خبره دامقصدى ده چه په الله پاك باندے په دنيا او په اخرت كښے څوك زوراور هم نشته چه الله ترے مجبوروى (نعوذبالله)اودهغوى نه مخ نشى اړولے اوخبره ئے نشى غورځولے يعنى پدے كښے رد د شفاعت قهرى (د زورشفارس)دے. لكه څنګه چه د مشركينو او د نن صبا ناپوهه جاهلانوعقيده ده چه دا انبياء،اولياء، بزرګان او قبرونو والا مونږ.دالله نه خلاصوى اوددوى زوررسى اوپه الله خپله خبره منى او دا ځمونږ.سفارشيان دى په دنيا كښے هم دوى ځمونږدپاره وسيلے حوالے دى او په اخرت كښے به هم وى نوالله پاك ددوى داغلطه عقيده بيانوى او ورسره ورسره ردپرے كوى۰

اول ددوى داعقيده اوخيال په داشان ذكركوى لكه سورة زمر ايت نمبر ۳ ﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى﴾ هغه كسان چه دالله نه سيوا ئے نورمددګاران نيولى دى (نودوى دهغوى په باره كښے وائى) چه مونږ.خوددوى عبادت نه كوؤ مګر ددے دپاره چه مونږ.الله ته په درجونزدے كړى ـ (دوى ځمونږ. وسيلے دى)۰

دارنګ سورة يونس ايت نمبر ۱۸كښے راځى ﴿وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ﴾ اودوى عبادت كوى بغيردالله نه دهغه چاچه نه دوى ته نفع وركولے شى اونه نقصان اودوى وائى چه داځمونږ.سفارشيان دى دالله په نزد.

امام کبیرفخرالدین رازی په خپل تفسیر کبیرکښې ددې آیت دلاندې لیکی ،چه ﴿وَنَظِيرُهُ فِي هٰذَا الزَّمَانِ اِشْتِغَالُ كَثِيرٍمِّنَ الْخَلْقِ بِتَعْظِيمِ قُبُوْرِالْاَكَابِرِعَلٰى اِعْتِقَادِ اَنَّهُمْ اِذَا عَظَّمُوْا قُبُوْرَهُمْ فَاِنَّهُمْ يَكُوْنُوْنَ شُفَعَاءَلَهُمْ عِنْدَاللّٰهِ ﴾ چه ددې ایت او د مشرکینو د مکې ددې عقیدې او عمل مثال په دې زمانه کښې داسې دې چه ډیرخلق دبزرګانو د قبرونو په تعظیم باندې اخته دی په دې عقیدې سره چه کله مونږ ددوی دقبرونوتعظیم کوؤ او راځوورلره نودوی به دالله په نزدځمونږشفاعت کوی۰ الله پاك ورسره ورسره په دې عقیده ردکوی لکه بقره ایت نمبر ٠٤٨

﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًالَّاتَجْزِى نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْـًٔاوَّلَايُقْبَلُ مِنْهَاشَفَاعَةٌ وَلَايُؤْخَذُ مِنْهَاعَدْلٌ وَّلَاهُمْ يُنْصَرُوْنَ﴾ دهغې ورځې نه اویریږئ چه یونفس بهٔ بل نفس ته هیڅ بدله نشی ورکولې اونه به ددې نفس (مشرك) په باره کښې شفاعت قبول شی اونه به ترې ډالئ واغستلې شی اونه بهٔ ورسره امداداوشی ۰ ﴿لَيْسَ لَهُمْ مِنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌ وَّلَاشَفِيعٌ﴾ نه بهٔ وی دوی دپاره څوك دالله نه سیوابل معاون اونه سفارشی یعنی ددوی داخیال غلط دې سورت انعام ایت نمبر ٧٠کښې هم وائی۰ دارنګ سورة زمر ایت نمبر ٤٣،٤٤کښې ئې الله داعقیده اوخیال ذکرکوی او ردپرې کوی ﴿اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ قُلْ اَوَلَوْكَانُوْا لَايَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔاوَّلَايَعْقِلُوْنَ﴾ ایادوی د الله نه سیوانور سفارشیان نیولی دی اووایه ورته چه اګر که دهغوی اختیارنه وی اونه په څه پوهیږی اوبیافرمائی:﴿قُلْ لِلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا﴾ ، اووایه ورته چه د سفارش اختیارټول دالله دې نو د دې ټولوایاتونو نه خو دامعلومه شوه چه داعقیده (دشفاعت قهری) غلطه باطله ده اوالله پرې رد اوکړو۰ خواوس شفاعت شته اوکه نه نواصل

خبره داده چه شفاعت دوه قسمه دے یوشفاعت اذنی (داجازت شفاعت) اوبل شفاعت قهری (دزورشفاعت ) چه مشرکان ئے قائل ؤو نوشفاعت قهری نشته بلکه مخکښ ایاتونوکښے رد شو. شفاعت اذنی شته اوثابت دی خودهغے دپاره یوخوشرطونه دی چه کله هغه شرطونه پوره وی نوشفاعت صحیح اوثابت دے ورنه نهٔ۰

(۱) اول داچه داشفاعت به په قیامت کښے وی لکه په حدیث کښے راځی نبی صلی الله علیه و سلم فرمائی چه **اَنَااَوَّلُ مَنْ یشْفَعُ** اولنے سفارشی به ځه یم، ځمانه مخکښ به بل څوك شفارس نه شی کولے ځکه چه دقیامت په ورځ به خلق په تکلیف اوسختئ کښے وی آدم علیه السلا م ته به راشی چه الله ته سفارش اوکړه چه حساب کتاب شروع کړی، خوهغه به معذرت پیش کړی بیا به نوح علیه السلا م ته ورشی بیابه دنوح علیه السلام په معذرت اّبراهیم علیه السلام ته ورشی بیابه موسٰی علیه السلام ته اخر به عیسی علیه السلام ته لاړ شی نودتهولونه به جوابی شی اوبیابه دتهولوپه آخرکښے نبی صلی الله علیه وسلم ته راشی نونبی صلی الله علیه وسلم به مختصراً داچه سفارش دپاره په مقام محمودکښے په سجده پریوځی نبی علیه السلام فرمائی چه زهٔ به دالله هغه حمدوثناء وایم چه اوس ماته نه راځی، بیابه ورته الله پا ك فرمائی چه: ﴿**اِرْفَعْ رَاْسَكَ یامُحَمَّدْسَلْ تُعْطٰی اِشْفَعْ تُشَفَّعْ**﴾ اے محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم سرپورته کړه، غواړه تاته به درکولے شی اوشفاعت کوه شفاعت به دے قبلیږی ۰اوحدیث کښے راځی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زهٔ به شفاعت کووم **مَاقُدِّرَلِی** څومره چه ځما دپاره مقدروی۰ نوددے حدیث نه دامعلومه شوه چه شفاعت شته

خویوپه خپله خوښه نه بلکه څومره چه الله وغواړی هغه هومره به شفاعت کوی زیات نه،اوبل په قیامت کښے به وی ۰

(۲) دویم شرط داچه پس داجازت دالله نه به وی بغیر د اجازت نه نه لکه سورة البقره(ایةالکرسی) کښے دی. ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ ،څوك دے چه شفاعت بۀ اوکړی دالله په نزدبغیر د الله داجازت نه. دارنګ سورة طه ایت نمبر ۱۰۹کښے راځی۰﴿ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَانُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴾ په دغه ورځ دقیامت به فائده ورنه کړی شفاعت کول مګرهغه چاته چه اجازت کړے وی هغه ته مهربان بادشاه او راضی وی دهغه دخبرے نه،

(۳) بل شرط دا دے چه شفیع (شفاعت کونکے)موحدوی په خپله ځکه چه مشرك شفاعت نه شی کولے اونه قبلیږی لکه سورة مریم ایت نمبر ۸۷﴿لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا﴾ اواختیارئے نشته دشفاعت کولومګرهغه څوك به شفاعت کولے شی چه پوره کړی ئے وی د مهربان بادشاه سره وعده دتوحید(یعنی موحدوی پخپله) دارنګ سورة زخرف ایت نمبر ۸۶ ﴿وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ اختیار ئے نشته دهغه چاچه دوی ئے رابلی دشفاعت کولومګر هغه څوك به شفاعت کوی چه ګواهی ئے کړی وی دتوحیداودوی (شفاعت کونکے) دهغه مشفوع له (چادپاره چه شفاعت کولے شی )په حال هم خبروی چه دی په توحیددنیانه راغلے دے مشرك نه دے ۔

(٤) اوبل شرط ئے دادے چه مشفوع له (چادپاره چه به شفاعت کیږی یعنی ګناه ګار)هغه ددنیانه په توحیدسره تلے وی ځکه چه دمشرك په باره کښے شفاعت دهیچ چانه قبلیږی ،لکه چه مخکښ آیت

کښې ورته اشاره اوشوه اخرکښې، په قرآن کښې ددے په باره کښې بل ځائے فرمائی سوره سباایت نمبر ۲۳، ﴿وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ﴾ اوشفاعت فائده نه رسوی دالله په نزد مګر دهغه چا په باره کښې چه دهغه دپاره الله اجازت اوکړی ـ او الله دا اجازت دچا په باره کښې کوی ؟ نودهغه چا په باره کښې چه موحدوی،مشرك نه وی لکه سوة نجم ایت نمبر ۳٦: ﴿وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمٰوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ﴾ ډیردفرشتو نه په آسمانونو کښې فائده نه رسوی شفاعت دهغوی څه شئ لیکن پس داجازت دالله نه دپاره دهغه چاچه دالله خوښه شی او راضی وی دهغه نه په توحید په حدیث کښې راځی نبی فرمائی چه زۀ به شفاعت کوم دهغه موحددپاره چه په توحیدراغلے وی خوګناه ترے شوے ده، نودګناه دمعافی شفاعت به کیږی.

بهرحال نوداشول دشفاعت دپاره شرائط چه په قیامت کښې به وی، داجازت نه پس به وی،اوشفیع (شفاعت کونکے) اومشفوع له (دچادپاره چه شفاعت کیږی)دواړه په توحیدباندے ددنیانه تلی وی.اوکوم چه راځی سورة بقره ایت نمبر ۴۸،۱۲۳ وغیره کښې چه ﴿ولاتنفعها شفاعة﴾ شفاعت به ورته فائده اونه رسوی نومرادترے مشرك نفس دے ، چه دمشرك په حق کښې شفاعت نه قبلیږی .اوس دلته په دنیا کښې لا اجازت نه دے شوے، قیامت لا نه دے راغلے، نبی کریم شفاعت لا ندے کړے اوددے نه مخکښې مخکښې دوی سفارشونه شروع کړل .اوبل داچه دزورشفاعت ئے شروع کړی دی نوپه دی آیت﴿مالك يوم الدين﴾ کښې دے ته اشاره وه چه زوردالله چلیږی ، په الله څوك بل زوراورنشته،چه دالله داجازت نه بغیردزورشفارس اوکړی.

## يوم الدين:

د ''یوم'' معنیٰ ده ورځ اودین په ډیرومعنوراځی کله په معنیٰ دپوره دین اوشریعت لکه (ال عمران ایت نمبر ۸۵) کله دین توحیداوخالص عبادت او پکارداللہ ته وائی لکه (یوسف ایت نمبر ٤٠ وغیره)اوکله دین قانون ته وائی (لکه یوسف ایت نمبر ٧٦)اوکله دین وائی جزاء اوحساب کتاب ته لکه سورة ذاریات ایت نمبر ٦: ﴿إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ﴾ بیشکه هغه چه تاسوسره ئے وعده کیږی هغه رشتینے دے اوبیشکه دین (جزاء اوحساب کتاب)واقع کیدونکے دے، اوسورة نور ایت نمبر ٢٥ ۰ نودلته دین نه مراد جزاء ده، دا اخری معنیٰ مراد ده نویوم الدین معنیٰ شوه ورځ دجزاء (قیامت )ځکه چه کله یوم اودین دواړه یوځائے راشی (یوم مضاف وی دین ته )نومرادترے جزاء اودقیامت ورځ وی، یوم الدین دادقیامت نوم دے دقیامت ډیرنومونه دی اوداپه کښے هم یودے ۰

**وجه تسمیه:** قیامت ته یوم جزاء ځکه وائی چه په دے ورځ به هرچاته دخپل ښه اوبدعمل بدله ملاویږی۰ مومن موحدنیك عمله ته دخپل ایمان توحیداونیك عمل اوکافرمشرك بدعمله ته دخپل کفرشرك اوبدعملئ. دَ دے نه علاوه د قیامت نور هم ګنړ نومونه په قران کښے راغلی دی.

**ضرورت واهمیت دیوم جزاء:** ځکه چه هرکله الله تعالی مربی دے قسماقسم انعامات واحسانات ئے کړی دی ،انبیاء اوکتابونه ئے دخلقوداصلاح دپاره رالیږلی دی۰

بیاپه دے دنیاکښے څه خلق دالله ددے انعاماتواحساناتوشکریه اداکوی اودهغه کتابونه اوانبیاء منی،خوڅه خلق دالله ددے

انعاماتوناشکری کوی اودانبیآؤ او کتابونونه انکار کوی اوکړے ئے دے.

نوهغے شکرګزارومنونکوته دهغوی پوره بدله اوناشکرو نافرمانو ته دهغوی دانکاراوناشکری بدله ورکړے شوے لانه ده ۰ دارنګ په دنیاکښے څه خلق ظالمان وی او څه مظلومان نواکثرپه دنیا کښے ظالم ته دخپل ظلم سزااومظلوم ته دخپل مظلومیت بدله نه ورکړے کیږی اوکه کله کله ورکړے شی نوپوره نه وی نوکه اوس قیامت هم رانه شی نوداخوبه بیاظلم اوبے انصافی وی چه ناشکره نافرمانه اوظالم ته دخپلے نافرمانئ او د ظلم سزااومظلوم شکرګزار منونکی ته دخپل نیك عمل بدله په دنیاکښے هم ملاؤ نه شوه نوداخوبه ظلم اوبے انصافی شی۰ دظالم ،مظلوم تابعداراونافرمان ،مجرم وغیره فرق خوبیاپاتے نه شو۰نوقیامت راتلل دعقل مطابق هم دی ،چه دوی ته بدله ورکړے شی ځکه چه دنیاخودارالعمل دے،دارالجزاء نه ده چه بدله ورکړے شی نوځکه به قیامت راځی ـ الله پاك قرآن کښے هم فرمائی:

﴿اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ كَالۡمُجۡرِمِيۡنَ﴾ بیاخوبه دمسلم (تابعدار)اومجرم فرق پاتے نه شی که قیامت رانه شی. نه ،نه بلکه قیامت به خامخاراځی چه هرسړی ته دخپل خپل عمل بدله ملاؤشی ۰لکه سورة مومن ایت نمبر ۵۸ کښے دقیامت دقائمیدو داوجه الله بیانوی چه کافراومومن نیك عمله اوګنهګار برابرنه دی: ﴿وَمَايَسۡتَوِى الۡاَعۡمٰى وَالۡبَصِيۡرُ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الۡمُسِىۡٓءُ﴾ برابرنه دے ړونداوبینااوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل نیك کوی اوهغه ګنهګار برابرنه دی نوچه برابرنه دی نودواړو لره خپله خپله بدله پکارده ، سورة یس ایت نمبر ۵٤ وائی :﴿فَالۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٌ شَيۡـًٔا وَّلَا تُجۡزَوۡنَ اِلَّا مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ﴾ نن

ورځ به په یونفس هم څه زیاتے اونه شی اوتاسوته به بدله نه ورکړے کیږی مګردخپل عمل. سورة سبا ایت نمبر ٤ کښے بیافرمائی: ﴿ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴾ (داقیامت به ځکه راځی) چه هغه مومنانوته چه نیك عمل کوی (په طریقه دپیغمبر)بدله ورکړے شی اودوی لره مغفرت او رزق دے عزتمند،اوهغه کسانولره چه ځمونږ په ایاتونو کښے دکمزوری کولوکوشش کوی هغوی لره عذاب دے دعذابونودردناکونه" اوبیاقیامت کښے دخلقو تقسیم (اهل جنت اوجنهم) ذکر کوی لکه نازعات ایت نمبر ٣٤ نوبهرحال ملك يوم الدين معنٰی شوه اختیارمنددے دورځے دجزاء.

## (ایاک نعبد وایاک نستعین)

هر کله چه اثبات د توحید اوشو په درے دلائیلو سره نو اوس پرے نتیجه تفریع کوی. هم دا رنګ مخکښی صیغے د غائب ذکروے او اوس صیغے د مخاطب ذکرکوی ﴿ایاك نعبد--- الخ﴾ (د دے وجه دا ده چه اول مقام د تعریف دے او دویم مقام د خدمت اوتابعداریٔ دے،نو تعریف د چا مخے ته کول مناسب نه دی نو ځکه د غائب ضمائر ذکر وو او په مقام د تابعداریٔ کښے بیا مخامختیاته ضرورت وی نو ځکه ئے په خطاب سره ذکر کړه).

هم دا رنګ اول پیږندګلو ئے پیدا کړه نو بیا ئے مقام د تابعداریٔ او د عشق ذکر کړو.

هم دارنګ د توحید د منلو نه بعد به عمل هم کوے ځکه ئے پس د دعوىٰ د توحید نه ایاك نعبد ذکر کړو.

هم دا رنګ مخکښې خبره د عقیدے ذکر شوه نو عبادت ئے پرے تفریع کړو نو اشاره شوه دے خبرے ته چه د عمل صالح دپاره صحیح عقیده ضروری ده.

سورة فرقان ایت نمبر ۲۳ کښے الله تعالی فرمائی چه ﴿**وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا**﴾ یعنی د عقیدے د اصلاح نه بغیر هیڅ یو عمل قبول نه دے.

سورة ابراهیم ایت نمبر ۱۸ کښے فرمائی چه :﴿**مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ لَا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا عَلَىٰ شَيْءٍ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ**﴾ یعنی د کافرانو د اعمالو مثال پشان د شګے دے چه کله پرے تیزه سیلئ راوالوځی نو بیا دوی په هیڅ باندے قادر نه وی او دا ډیره لرے ګمراهی ده. نو عمل به کیږی خو قبلیږی به نه نو ځکه الله تعالی فرمائی چه ﴿**فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ**﴾ مراد ترینه مشرکان وو.ځکه چه د هغوی عقیده ټهیك نه وه. او بیا فرمائی:﴿**قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ**﴾ **یعنی چه هغوی عبادت کولو خو قبول نه وو.**

سورة انفال ایت نمبر ۳۵ کښے فرمائی چه : ﴿**مَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً**﴾ د دے نه دا معلومه شوه چه مشرکینو عبادت او مونځ کولو خو چه عقیده ئے خرابه وه نو ځکه ئے دا اعمال برباد دی. عبادت بغیر دشرك نه الله تعالی ته مقبول او منظور دے.

سورة نساء ایت نمبر ۳٦ کښے فرمائی چه : ﴿**وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا**﴾ یعنی شرك فی العبادة مه کوئ.

د دے اياك نعبد الخ په باره کښے ابن کثير رحمة الله عليه فرمائی چه ﴿اَلْفَاتِحَةُ سِرُّ الْقُرْاٰنِ وَسِرُّهَا هٰذِهِ الْكَلِمَةُ ﴾ يعنى د قراٰن راز په سورة فاتحه کښے دے او د سورة فاتحے راز په دے دواړو کلمو کښے دے.

او ابن قيم مدارج السالكين کښے فرمائی ﴿هَاتَانِ كَلِمَتَانِ تَجْمَعُ الْاَدْيَانَ كُلَّهَا اِلَى هِمَا﴾ يعنى دا داسے دوه کلمے دی چه ټولو دينونو لره راجمع کونکے دی. او چونکه دعویٰ په تخصيص سره ذکر وه (الحمدلله ) نو نتيجه ئے هم تخصيص سره ذکر کړے ده. ابن عباس رضی الله عنه د دے معنى دا کوی چه ﴿نَعْبُدُكَ وَلَا نَعْبُدُ غَيرَكَ وَنَسْتَعِينُكَ وَلَا نَسْتَعِينُ بِغَيرِكَ﴾ مطلب دا چه صرف ستا عبادت کوو د بل چا نه کوو او نه د بل چا نه امداد غواړو. يعنى د حصر الفاظ ئے پکښے ذکر کړی دی.

سورة نحل ايت نمبر ٦٦ کښے فرمائی ﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِيكُمْ مِمَّا فِي بُطُوْنِهٖ مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَّ دَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِيْنَ﴾ يعنى چه ما درله خالص خوراك درکړے دے نو عبادت هم ماله خالص کړئ.

خلاصه د کلام دا ده چه الله تعالى دا دوه کلمے ذکر کړے دی او کمال پکښے دا دے چه جملے وړے دی خو د کمال نه ډکے دی او لوئ مفهوم پکښی پروت دے. بيا مفعول به ئے په فعل باندے مقدم کړے دے د وجے د حصراو د تخصيص پيدا کولو دپاره. يعنى خاص ستا عبادت کوو د بل چا نه کوو او خاص ستانه مدد غواړو د بل چانه نه غواړو.

**معنى دعبادت:** عبادت د تذلل يعنى عاجزئ په معنى راځی . عرب وائی : ﴿طَرِيقٌ مُّعَبَّدٌ اِذَا كَانَ مُذَلَّلاً﴾ مطلب کومه لار باندے چه ډير رش وی اوډيره دخپولاندے کيږی نو په هغه ځائے کښے دا استعماليږی

یعنی چلنده لار. نو عبادت دے ته وائی چه ډیره عاجزی وی پکښے. د دے وجے نه الله تعالی خپلو پیغمبرانو ته هم د عبد لفظ استعمال کړے دے. کله فرمائی دتحدی په مقام کښے : ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا﴾ او کله فرمائی داسراءپه مقام کښے:﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ﴾ اوکله مقام دعوت کښے فرمائی ﴿وَإِنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ﴾ سورة فاطر ایت نمبر ۱۵ کښے الله تعالی فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ﴾ نو ټول کائنات الله تعالی ته محتاج دے او الله تعالی بے پرواه ذات دے .

علامه ابن قیم الجواب الکافی کښے لیکلے دی ﴿غَايَةُ الْحُبِّ مَعَ غَايَةِ الذُّلِّ﴾ یعنی عبادت انتهائی محبت ته وئیلے شی خو چه پکښے انتهائی عاجزی هم وی. او ابن کثیر فرمائی ﴿عِبَارَةٌ عَمَّا يَجْمَعُ كَمَالَ الْمُحَبَّةِ وَالْخُشُوعِ وَالْخَوْفِ﴾ یعنی عبادت د کمال محبت ،خشوع او ویرے نه عبارت دے . او ابن قیم مدارج السالکین کښے فرمائی:﴿اَلْعِبَادَةُ عِبَارَةٌ عَنِ الْاِعْتِقَادِ وَالشُّعُوْرِ بِأَنَّ لِلْمَعْبُوْدِ سَلْطَةً غَيْبِيَّةً فَوْقَ الْاَسْبَابِ يَقْدِرُ بِهَا عَلَى النَّفْعِ وَالضَّرَرِ فَكُلُّ دُعَاءٍ وَنِدَاءٍ وَثَنَاءٍ وَتَعْظِيمٍ يَنْشَأُ مِنْ هٰذَا الْاِعْتِقَادِ فَهِيَ عِبَادَةٌ﴾ یعنی عبادت اعتقاد دے د دے خبرے چه په ما باندے د چا تسلط شته دے او هغه قادر دے زما په نفع او نقصان باندے نو هر هغه دعاء او آوازاو ثناء او تعظیم چه دا اعتقاد پکښے وی نو دا عبادت دے.

خلاصه دا چه تعظیم هم د بل چا داسے کول چه د الله تعالی سره دغه تعظیم برابر شی نو دا شرك دے او ګناه ده.

او علامه ابن قیم په خپلے قصیدے نونیے کښے فرمائی:

| | |
|---|---|
| وعبادة الرحمن غاية حبه | مع ذل عابده هما قطبان |
| وعليهما فلك العبادة دائر | مادار حتى قامت القطبان |

ومداره بالامر رسوله　　　　لا بالهوی والنفس والشيطان

درحمٰن بادشاه عبادت انتهائی محبت سره دعاجزئ دعابد،اوددے عبادت دادوه قطبه دی چه دعبادت هغه فلك په دے چورلیږی ترڅوچه داقطبان وی، اومداردد ے (عبادت) هغه اتباع (سنت) درسول دے یعنی عبادت دنبی په طریقه باندے، نه په اتباع دهواء (خواهش نفس) اوشیطان باندے ‧بس داعبادت شو چه ددے عقیدے ماتحت ورته سرټیټوی، لاس په نامه ورته اودریږی رکوع سجده ورته کوی، تعظیم اواحترام ئے کوی، حمدوثناء اوتعریف ئے کوی، راورسے رامددشے ورته وائی نوداعبادت شو‧

اوبعضے پدے کښے که په دے عقیده نه وی نوبیاهم منع دی دوجے دتشبیه نه ـ اوفقهاؤ په هغے مختلف حکمونه دمکروه اومنع لګولی دی لکه دتلاوت یادخطبے په وخت کښے دخلقو مخکښ لاس په نامه اودریدل، یابغیرددغے عقیده نه دتعظیم په خیال بل چاته سر ټیټول وغیره نوداناجائزدی ،هاکه سرپه زمکه اږدی بغیرددے عقیدے نه غیرالله ته نوبیاهم فقهاؤ وائی داتشبیه ده اوحکمًا کفردے‧نودادعبادت تعریف اومختصروضاحت شو‧

**دعبادت اقسام:** عبادت په درے قسمه دے.

۱. مالی　　۲.جانی　　۳.مرکب د دواړونه.

د مرکب مثال حج دے څکه چه مال او جان دواړه پکښے استعمالیږی هم دا رنګ جهاد هم مرکب عبادت دےـ

او د دے دواړو په باره کښے الله تعالی فرمائی چه خالص ئے مالره کوئ.

سورة ال عمران ایت نمبر ۱۹٦ کښے فرمائی: ﴿**وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيلًا**﴾ یعنی د چاچه وس او طاقت وی نو په

هغه باندے حج کول لازم دی خاص الله لره . او د جهاد په باره کښے فرمائی: ﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ﴾ [بقره:۹۰] یعنی خالص د الله تعالی په لار کښے جهاد اوکړئ. او مالی عبادت دے ته وائی چه مال پکښے لګی لکه زکوة ،خیر خیرات،صدقه، منخته وغیره نو دا ټول څیزونه به هم خاص الله تعالی لره وی. او د نذراو نیاز په باره کښے الله تعالی اووه ځله دا فرمائیلی دی چه دا به د بل چا په نوم نه ورکوئ. الله تعالی سورة بقره ایت نمبر ۱۷۳ کښے فرمائی﴿اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ﴾

بحرالرائق کښے لیکلے دی چه :﴿اَلنَّذْرُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لِغَيْرِ اللّٰهِ كُفْرٌ﴾ یعنی نذر عبادت دے او عبادت د غیر الله کفر دے. او دریم بدنی عبادت دے او هغه بیا په درے قسمه دے .

یو بالجوارح دویم باللسان دریم بالقلب

عبادت بالجوارح لکه رکوع ،سجده وغیره دارنګ حدیث کښ راځی ﴿مَنْ رَاٰىٔ مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلِيغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ وَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ وَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِيمَانِ﴾ چاچه په تاسو کښے منکر(ناروا)کاراولیدو نوپه لاس دے منع کړی که طاقت ئے نه وی نو په ژبه دے منع کړی اوکه ددے طاقت ئے نه وی نوبیادے په زړه کښے بداوګنړی په زړه سره دے منع کړی چه که هرکله وس مِ اوشو نومنع کوم به ئے او دا د ایمان کمزورے درجه ده. نو "بیده" کښے عبادت بالجوارح، "لسانه" کښے عبادت باللسان او "قلبه" کښے عبادت بالقلب ته اشاره شوه.

نو دا څیزونه الله تعالی لره خاص کول .

الله تعالى فرمائى ﴿ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ﴾ هم دا رنګ حم سجده ايت نمبر ۳۷ کښې فرمائى:﴿لَاتَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ﴾ هم دا رنګ د طواف په باره کښې راځى: ﴿وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾. مشکوة او ترمذى کښې د معاويه رضى الله عنه نه روايت دے. ﴿مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّءْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ﴾ دارنګ دژبے عباد ت دا هم دے چه يو الله تعالى ته به چغے وهے.دالله تعريف اوثناء ،ذکر،داتول د ژبے عبادات دى.

عبادت بالقلب : (دزړه عبادت ) بيا دزړه عبادت درے قسمه دے:

(۱) الحب (محبت) (۲)الخوف (ويره) (۳) الرجاء (طمع،اميد).

دا درے واړه قسمه دزړه عبادت الله پاك په يوايت کښے راجمع کړى دى لکه بنى اسرائيل:﴿اُوْلٰٓئِكَ الَّذِينَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ﴾ – په دے ايت کښے ﴿ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ﴾ ،محبت شو ويرجون رحمته اميد(رجاء) شواويخافون عذابه ،خوف شو(ويره). بيادا هريوددے دريونه په دوه دوه قسمه دى يوماتحت الاسباب اوبل مافوق الاسباب يعنى په ظاهرى اسبابوسره اوبغير دظاهرى اسبابونه ،

تفصيل: ماتحت الاسباب محبت خپل اولاد،ښځے، مال دولت مورپلار،يار دوست وغيره سره مينه کول جائزدى خومافوق الاسباب محبت چه دډيرے مينه نه ورته سرپه زمکه کيږدى، راتيټ کړى وغيره نودامحبت دخدائى توب دے، دالله نه سيوابل لره جائزنه دے لکه سورۂ بقره ايت نمبر ۱٦٥ کښے فرمائى :وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ . اوبعضے دخلقونه هغه دى چه دالله نه سيوا

نورمددګاران نیسی اوهغوی سره محبت کوی په شان دمحبت دالله د خدائی توب محبت، مافوق الاسباب والا مینه اومحبت ورسره کوی نو دا نا جائز ده ۰ دارنګ ویره (خوف) هم یوده ماتحت الاسباب چه اسباب ظاهر ی موجودوی مثلاً دشمن دے، مارلړم دے ،توره ټوپك وغیره شته اوتاپسے ئے راغستی دی نو دا ویره جائز ده ځکه چه اسباب موجود دی ـ اوبل ده مافوق الاسباب ویره چه دشمن نشته ظاهر توره چاړه ټوپك طمانچه نشته اوته ویرېږی چه مړ به مِ کړی کټ رابانډے اړوی، مال دولت رالره تباه کوی نودادخدائی توب مافوق الاسباب ویره ده، دا د الله نه بغیردبل چانه جائز نه ده بلکه شرك دے ۰ الله پاك په قرآن کښے ددے په باره کښے هم ځائے په ځائے فرمائی لکه ال عمران ایت نمبر ۱۷۵ ﴿اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ بیشکه داشیطان ویروی تاسوپه خپلو دوستانو باندے نوپس تاسوددوی (مخلوق)نه مه ویریږئ اوځما(الله)نه اویریږئ که چرے مومنان ئے۰ هم دارنګ امید،طمع هم په دوه قسمه یوماتحت الاسباب چه یوسړے موجودوی شته اوهغه شئ (پین قلم کاپی وغیره) هم ورسره شته اوته ترے امیدطمع ساتے چه اوغواړم ترے نورابه ئی کړی نوداجائزده ۰ خوبل ده مافوق الاسباب طمع، چه کس موجود نشته، هغه شئ ورسره ظاهرکښے نشته، اختیارئے نشته اوته ترے طمع ساتے چه ځوے ،لور،مال دولت وغیره به راکړی نودادخدائی توب طمع اوامیددالله نه سیوا دبل چانه ساتل شرك دے اوقرآن باربار دابیانوی چه طمع اوامید(مافوق الاسباب ) دالله نه ساتئ (لکه فرقان ایت نمبر ۵۸) ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ﴾ بهروسه اوامید او طمع دهغه ژوندی ذات نه کوه چه مرګ پرے نه راځی ابن عباس رضی الله عنه ددے

ایت په تفسیر کښے وائی چه﴿وَلَاتَوَكَّلُوْاعَلَى الْاَمْوَاتِ الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ﴾ او امید بهروسه په هغه چاباندے مه کوه چه مرګ پرے راځی. نودا درے واړه مافوق الاسباب حق دالله دے اوماتحت الاسباب دمخلوق نه هم جائزدی نوددے فرق پکاردے ،ددے وجے نه ابن قیم فرمائی:

لِلّٰهِ حَقٌّ لَايَكُوْنُ لِغَيْرِهِ وَلِعَبْدِهِ حَقٌّ هُمَا حَقَّانِ

لَاتَجْعَلُوْا الْحَقَّيْنِ حَقًّاوَّاحِدًا مِنْ غَيْرِتِبْيِيْنٍ وَّلَافُرْقَانِ

(دالله حق بل چالره نشی کیدے اودبنده خپل حق دے اودالله خپل نو دا دوه حقه بغیرد وضاحت اوفرق نه مه یوکوئ. نودا درے (مینه ، ویره ، طمع ) د زړه عبادت دے اودا درے چه راجمع شی نوکامل عبادت ترے جوړشی. ځکه چه عبادت مرکب دے ددے دریونه لکه کټ چه دریو څیزونو(بازوګانواوخپواو بونړ نه) که په دے دریو کښے یوکم وی نوکټ ورته نشی وئیلے کیدے نوهم دارنګ عبادت هم جوړدے ددے دریو (محبت، ویری اوطمع) نه ،که په دی کښے یوکم وی، نه وی یاماتحت الاسباب وی نودے ته عبادت نشی وئیلے کیدے. لکه څوئ اګرچه محبوب دے خودعدم (دنیشتوالی د) ویری اوطمع نه معبودورته نشی وئیلے کیدے .دارنګ دحاکم ویره اودعام خلقو نه طمع هم دوجے دعدم دنورو دوؤ اجزاؤ اویادماتحت الاسباب کیدو په وجه عبادت نشی کیدے-

بهرحال دعبادت دادومره وسیع اوجامع معنٰی ده نواوس چه چرته هم په قرآن کښے عبادت ذکر شی نوداټول اقسام به ترے مراد وی چه دا عبادات الله لره پکاردے بل چالره نه .

اياك نعبدکښې هم داټول عبادت مراد دی چه اے الله زۀ ستاداټول قسمه مالی جانی بيا د ژبے او د اندامونو او د زړه ټول عبادت كوم دبل چابه نه كوم بس داتوحيدشو۰
لكه ابومنصورازهرى په تهذيب اللغة ص ۲۳٦ کښې معنٰی کوی۰
**اِيَاكَ نَعْبُدُاِيَاكَ نُوَحِّدُوَالْعَابِدُالْمُوَحِّدُ:** چه اياك نعبدمعنٰی ده خاص ستاتوحيدمنو،تايوګڼړو۰
اوددے توحيد او عبادت دپاره الله پاك عالم انسان اوجنات پيدا کړی دی لکه سورة ذاريات ايت نمبر ٥٦ **وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ** ۰ ماانسانان اوپيريان نه دی پيداکړی مګر دعبادت دپاره۰ ټول انبياء عليهم السلام هم په دے مسئله راغلی وو چه عبادت دالله كوئ لكه سورة انبياء ايت نمبر ٢٥ ﴿**وَمَآاَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَافَاعْبُدُوْنِ**﴾ اومونږ ستانه مخکښې يوپيغمبرهم نه دے رالیږے مګر چه رالیږلے دے نوددے خبرے وحی مو ورته کړے ده چه نشته دے اله حاجت روا او مشکل كشا سيوا ځما(الله ) نه اوځمابندګی (عبادت ) كوئ اوسورة نحل ايت نمبر ٣٦ آيت کښې هم فرمائی۰
﴿**وَلَقَدْبَعَثْنَافِی كُلِّ اُمَّةٍ رَسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوااللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ**﴾
اويقينامونږ رالیږلے وو په هرامت کښې پيغبر(په دے خبره) چه بندګی (عبادت) اوكړئ دالله اوځان بچ کړئ دعبادت دغيرالله نه ۰ بيادجداجدا پيغمبرنوم اخلی چه دے فلانکی فلانکی نبی قوم ته دامسئله بيان کړے وه چه عبادت ديوالله كوئ لكه سورة اعراف ايت نمبر ٥٩ کښې فرمائی۰

(۱) ﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ يقيناًمونږ نوح عليه السلام خپل قوم ته راليږلے وو پس هغه وئيلے وو چه اے قومه! عبادت اوكړئ دیوالله ځكه چه نشته ستاسودپاره بغيردالله نه بل څوك حاجت روا. دارنګ هودعليه السلام هم دامسئله بيان كړے وه ايت ٦٥ كښے

(۲) ﴿وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ بياآيت ۷۳ كښے دصالح عليه السلام ذكركوى. ﴿وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ﴾

بيا په آيت ۸۵ كښے دشعيب عليه السلام بيان راځى:

(۳) ﴿وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ دارنګ سورة هود آيت ۲۵، ۵۰، ٦١ ، ۸۱ هم ددے انبياؤ ذكركوى چه دوى قوم ته ديو الله دعبادت مسئله بيان كړے وه. ابراهيم خليل الله هم داخبره كړے وه لكه سورة عنكبوت ايت نمبر ١٦، ١٧

(٤) ﴿وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ﴾ او ابراهيم چه كله خپل قوم ته اووئيل چه عبادت كوئ ديوالله اودهغه نه اويريږئ او ردكوى د قوم په عبادت دغيرالله باندے.

(٥) ﴿اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾

بيشكه تاسوسيوا دالله نه د دركاهونو عبادت كوئ كوم چه تاسو ددروغو (الهه) جوړ كړى دى بيشكه هغه كسان چه تاسوئے عبادت كوئ سيوادالله نه اختيار ئے نشته دررزق وركولو اوالله سره رزق اولټوئ اوعبادت اوكړئ دالله اوشكراوباسئ دده اودے الله ته به واپس شئ.

سورةانبياء ايت نمبر ٥٤ کښے ورته وائی ۰

(٦) ﴿قَالَ اَفَتَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنۡفَعُكُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمۡ ۝ اُفٍّ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ﴾ اووئيل ابراهيم اياتاسو دالله نه سيوا دهغه چا عبادت کوئ چه نه نفع درکولے شی اونه نقصان۰ تباهی دے وی تاسولره چه دالله نه سيوا عبادت کوئ اياتاسودعقل نه کارنه اخلی ۰

سورة مريم ايت نمبر ٤٨ کښے ورته وائی :

(٧) ﴿اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِىۡ عَنۡكَ شَيۡـًٔا﴾ هغه وخت چه اووئيل ابراهيم پلارخپل ته،اے پلاره ولے ته عبادت کوے دهغه چاچه نه اوريدل کولے شی اونه ليدل اونه تاته څه فائده درکولے شی ـ ابراهيم عليه السلام پدے اياتونو کښے د دوی د الٰهو په عبادت رد پدے طريقه اوکړو چه دوی خواوريدل ليدل نشی کولے ، دنفع اونقصان مالکان هم نه دی، نوولے ئے عبادت کوئ۰ عبادت خودهغه چاپکاروی چه داکارونه کولے شی او دا صفات په کښے وی۰اوبياپه اخرکښے دبراءت اعلان کوی ۰

(٨) ﴿وَاِذۡ قَالَ اِبۡرٰهِيۡمُ لِاَبِيۡهِ وَقَوۡمِهٖۤ اِنَّنِىۡ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعۡبُدُوۡنَ﴾ زخرف ايت نمبر ٢٦ اوهغه وخت چه ابراهيم خپل پلاراوقوم ته اووئيل چه زهٔ بيزاره يم دهغه نه چه تاسوئے عبادت کوئ۰ ددے نه معلومه شوه چه پدے مسئله به بائيکاټ هم کوے ۰ سورة ممتحنه ايت نمبر ٤ کښے ددے هم حکم اوترغيب دے الله فرمائی:

(٩) ﴿قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ فِىۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَالَّذِيۡنَ مَعَهٗ ۚ اِذۡ قَالُوۡا لِقَوۡمِهِمۡ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنۡكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ۫ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ الۡعَدَاوَةُ وَالۡبَغۡضَآءُ اَبَدًا حَتّٰى تُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗۤ﴾ يقينًا تاسولره په ابراهيم اودهغه په ملګروکښے بهتره نمونه اواقتداء ده۰

هغه وخت چه دوی خپل قوم ته اووئیل چه مونږ بیزاره یو، څمونږ بائیکاټ دے تاسو نه هم اودهغه چانه هم چه تاسوئے دالله نه سیواعبادت کوئ، منکر یو ستاسو د ملګرتیا نه اوښکاره شو څمونږ اوستاسو په مینځ کښے ظاهره دشمنی اودزړه دشمنی همیشه تردے چه تاسو ایمان راوړئ په الله باندے اك یواځے (توحیداومنئ)

(۱۰) دارنګ ددے عبادت د مسئلے وحی موسیٰ ته هم شوے وه لکه سورة طه ایت نمبر ٤

○ ﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ بیشکه هم زه الله یم، نشته اله، حاجت روا او مشکل کشا بغیرځمانه پس ځماعبادت کوه اومونځ قائم کړه ځما دیاداشت یاتوحیددپاره ۔

○ عیسیٰ هم قوم ته دعبادت مسئله کوی، ﴿إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ ال عمران ایت نمبر ۵۱ مریم ایت نمبر ۳٦، زخرف ایت نمبر ٦٤ بیشکه الله ځماهم رب دے اوستاسوهم رب دے پس دده عبادت کوئ دانیغه لاره ده ۔ نونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته هم ددے عبادت حکم دے ﴿بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ وَكُن مِّنَ الشَّاكِرِينَ﴾ (زمرایت نمبر ٦٦)بلکه دالله عبادت کوه اوشه دشکرګزارونه ۰

په دے شریعت کښے هم امر دے دعبادت اوترغیب ورکوی دے ته ۔ ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾ اے خلقو دخپل یورب عبادت کوئ [بقره :۲۱] ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ [نساء:۳٦]عبادت صرف دیوالله کوئ اومهٔ شریکوئ د الله سره پدے عبادت کښے هیڅ څوك ۰

○ اوبشارت ورکوی پدے عبادت باندے لکه زمرایت نمبر ۱۷، ﴿وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ

﴿فَبَشِّرۡ عِبَادِ﴾ هغه کسان چه ځان ساتی دعبادت دغیرالله نه او راګرځئ الله ته نودوی لره زیرے دے پس زیرے ورکړه ځمابند ګانوته.

○ داعبادت سبب دفلاح اوکامیابئ دے لکه حج ایت نمبر ۷۷ سبب دخیرِکامل دے لکه عنکبوت ایت نمبر ۱٦، سبب د تقوٰی دے لکه بقره ایت نمبر ۲۱ سبب دخلافت او د امن دے په زمکه کښے لکه سورة نورایت نمبر ۱۵، سبب دمغفرت دے لکه نوح ایت نمبر ٤ اوسبب دمددالله اودکفایت دے لکه زمرایت نمبر ۳٦ .

○ او ردکوی اوزجر ورکوی په عبادت دغیرالله باندے.﴿قُلۡ اَتَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَالَايَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرًّا وَّلَانَفۡعًا﴾ سورةمائده ایت نمبر ۷٦ فرقان ایت نمبر ۵۵ اووایه ورته چه ایاتاسو دالله نه سیوا دهغه چاعبادت کوئ چه نه نفع درکولے شی اونه نقصان .

## عذاب په عبادت دغیرالله باندے :

﴿لَاتَعۡبُدُوۡنَ اِلَّا اللّٰهِ اِنِّیۡ اَخَافُ عَلَیۡکُمۡ عَذَابَ یَوۡمٍ اَلِیۡمٍ﴾ [هود: ۲٦] مومن ایت نمبر ٦۰، ق ایت نمبر ۲٦، تاسو عبادت مه کوئ سیوا دالله نه دبل چا ځکه چه په تاسو ویریږم دعذاب دردناك نه .

اوالله پاك خپل بهتربندګان (العبادالاخیار)پدے فضیلت د عبادت سره موصوف کړی دی ، چه دوی ځماعبادت کولواوکوی ئے اوداځماعباد(بندګان) دی لکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته عبدوئیلے شوے دے په مقام دوحی کښے فرمائی لکه سورت نجم ایت نمبر :۱۰ په مقام د اسراء کښے لکه بنی اسرائیل:۱ او په مقام د تحدی کښے لکه بقره:۲۳

**وایاك نستعین** : اوخاص ستانه مدد غواړو ،بل چانه نه غواړو(حصر دے). ایاك نستعین ئے ایاك نعبد پسے ولے ذکر کړو؟

نو دا ئے د دے وجے ذکر کړو چه یاخو دلته دا واو عاطفه دے نومعنٰی شوه چه عبادت هم خاص ستا کوو اومددهم خاص ستانه غواړو(یعنی دا دواړه ستاحق د ے )نواول رد دشرك فی العبادت وو او ایاك نستعین کښے رد دشرك فی الدعاء اواستعانت دے ۰اودے ته تخصیص بعدالتعمیم وائی یعنی ایاك نعبدعام وو پدے کښے دادعا او استعانت هم داخل وو ، ځکه چه دعا هم عبادت دے ـ اَلدُّعَاءُهِیَ الْعِبَادَةُ(الحدیث) خوبیائے هم ځانله ذکرکړه دے ته تخصیص بعدالتعمیم وائی (یعنی دیوعام خبرے نه پس چه پکښے داتولے راغلے وی خوبیاهم دهغے نه یوخبره یاده شئ (بیادوباره ذکر شی) ـ ښه نوداتخصیص بعدالتعمیم ئے ولے کړے دے ؟ دا ئے دوجے داهمیت نه، چه شرك فی الدعاء په عالم کښے ډیرزیات وو هرڅوك غیرالله ته غائبانه چغه رامددشه وهی نوځکه ئے ایاك نستعین بیادوباره ذکرکړو، چه په دوی رداوشی اوداچه خاص یو الله ته چغه، وهئ رامددشه، وایئ بل چاته نه ،

اوعلامه شیخ نیلوی صاحب رحمة الله علیه وائی چه حضرت صاحب به وئیل چه وایاك نستعین کښے دا واو تفسیری دے یعنی دا ایاك نستعین تفسیر دماقبل ایاك نعبد دے، مطلب یے بیاداشو چه خاص ستاعباد ت کوو نوعبادت څه ته وائی وایاك نستعین یعنی ستانه مددغواړو، نو پدے سره ترجمه داسے شوه ﴿اِیاكَ نَعْبُدُوَاِیاكَ نَسْتَعِینُ﴾ ستاعبادت کوو یعنی ستانه مددغواړو بل چانه نه ۰

بل یائے دَ دے وجے نه وروسے ذکر کړو (استعانت ) چه مخکښ ئے اووئیل ایاك نعبد،الله ستاعبادت کوو نوولے کوئ ؟ ځکه چه ایاك نستعین،ددے دپاره چه الله ته راسره امداداوکړے، دعااودرخواست موقبول کړے اوکارمواوکړی

ګویا که دامخکښې ایاك نعبدوسیله شوه اودا ایاك نستعین مقصدشو، عبادت ددے مقصددپاره چه الله امداداوکړی، سوال قبول کړی ۰

نوددے نه وسیله هم ثابته شوه، چه وسیله شته ـ بعضے خلق وائی چه تاسو وسیله نه منئ ـ ها هم زمونږ هغه خبره ترے ثابته شوه چه وسیله څه شئ دے، ایاك نعبد ،عبادت، عمل ـ نه ذوات فاضله ۰

ایاك نستعین کښے هم تخصیص اوحصردے ، په شان دایاك نعبد یعنی ﴿اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ وَلَانَسْتَعِيْنُ بِغَيْرِكَ﴾ خاص ستانه مددغواړو دبل چانه به مددنه غواړو لکه داخبره او د تخصیص او د حصرمعنٰی عبدالله بن عباس کړے ده (کمافی ابن جریر) نواوس پدے استعانت کښے هم دوه عنوانات به وی. یواستعانت خاص الله سره ثابتول اودویم دغیرنه نفی کول خوددے نه مخکښې داستعانت په معنٰی اواقسامو ځان پوهه کول ضروری دی ۰

**داستعانت معنی ده مددغوښتل:** استعانت او مدد او درخواست په دوه قسمه دے یوماتحت الاسباب (چه ظاهری او مادی اسباب موجودوی) لکه سړے موجود دے، ژوندے قریب دے اویوشئ ورسره شته، ته ترے غواړے یاورته وائی چه دا بوج، بارراسره یوسه، راپورته کړه نوداجائزدے دمخلوق (غیرالله ) نه، ځکه چه یوخو پکښے د الوهیت (علم، قدرت او تصرف ) عقیده نشته اوبل ظاهری مادی اسباب موجود دی اودا قرآن وسنت کښے ذکر دی، اجازت ئے شته لکه ﴿تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى﴾ یوبل سره تعاون کول ماتحت الاسباب ،دارنګ د ذو القرنین داخبره چه اَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ (ماسره دمتو تعاون اوکړئ)دا هم د ظاهر ی اسبابو دالاندے تعاون وو ۰اوبل قسم د ے

مافوق الاسباب، دظاهری مادی اسبابو نه بغیر استعانت اومدد او تعاون غوښتل، چه څوك موجود نشته، ښکاری نه ،اختیار ئے هم نشته، شئ ورسره هم موجودنشته یعنی ظاهری اسباب نشته اوته ترے مدد او تعاون اواستعانت طلب کوے اوغواړے ترے نو دا د خدائی توب (الوهیت ) استعانت دے، دالله نه سیوا بل چانه غوښتل ناجائزاوشرك دے، یوخو دَ الوهیت (علم او تصرف ) دعقیدے دوجے اوبل دظاهری اسبابو د نه کیدو دوجے نوایاك نستعین کښے دادویم قسم استعانت (مافوق الاسباب) مراد دے او دا الله پورے خاص دے چونکه دبل چانه شرك وونوځکه ئے تخصیص سره ذکر کړو. بیا دا استعانت مافوق الاسباب (الوهیت) اوغائبانه پکار اوچغه الله پاك ځان لره ثابتوی چه ځما نه غواړئ ،لکه سورة بقره ایت نمبر ۱۸۶

﴿**وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ**﴾ اوکله چه ستانه ځما بندګان ځما په باره کښے تپوس اوکړی نوزهٔ نزدی یم قبولوم دعاء د دعاکونکی کله چه ځما نه غواړی، پس قبول دی کړی ځماحکمونه اوایمان دے راوړی په مابانده چه کامیاب شی .

دارنګ سورة اعراف ایت نمبر ۵۵ ،﴿**اُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ**﴾ اوغواړئ د رب خپل نه په عاجزئ اوپه پټه، بیشکه الله نه خوښوی دحد نه وتونکی (په دعاء کښے چه بل نه غواړی).

بیاسورة مومن ایت نمبر ۱۴، ۶۵ ﴿**فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ**﴾ غواړئ دالله نه په داسے حال کښے چه خالص کونکی یئ الله لره داخپله چغه، اګر که بدئے ګنړی منکرین ﴿**هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ**﴾ اوبل آیت کښے

فرمائی، ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ اوستاسو رب وئیلی دی چه
مانه غواړئ زه به ستاسو سوال قبول کړم.

○ اودالله نه څکه غوښتل پکاردی چه سورة انعام ایت نمبر ۱۷
کښې راځی ﴿وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ﴾ که چرته الله
درته تکلیف مصیبت ،بیماری (تبه ،سرخوکے، باد وغیره )او رسوی
نونشته دے لرے کونکے ددے تکلیف سیوادالله نه بل څوك .

○ انبیاؤ علیهم السلام هم په تکلیف او مصیبت کښې الله ته
فریادکړے وو اودالله نه ئے غوښتلے ده.

(۱) لکه ایوب علیه السلام چه بیمارئ اوتکلیف کښې د ے
نوالله ته فریادکوی ـ سورة انبیاء ایت نمبر ۸۳ ، ﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي
مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ اوایوب کله چه ئے فریاد اوکړو رب
خپل ته چه ماته بیماری رارسیدلے ده اوته ډیررحم کونکے درحم
کونکونه یئے. ﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ﴾ الله وائی ماترے
تکلیف لرے کړو دعا م قبوله کړه.

(۲) دزکریا علیه السلام اولادنشته نوالله نه غواړی لکه ال عمران
ایت نمبر ۳۸ ،
﴿قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾ اووئیل زکریا
علیه السلام اے ربه ماته یونیك پاکدامن څوئ راکړه څکه چه ته یئے
دعا اوریدونکے، قبولونکے. نوالله تعالی فرمائی چه وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَىٰ
(انبیاءایت نمبر۹۰)یحیٰی علیه السلام څوئ موورکړو.

(۳) یوبل پیغمبر یونس علیه السلام په دریاب کښې دمهی په کیډه
کښې دے او د الله نه غواړی لکه انبیاء ایت نمبر ۸۷ ، ﴿فَنَادَىٰ فِي
الظُّلُمَاتِ أَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ اوفریاداوکړو

یونس علیه السلام تیارو در تیارو کښے چه نشته دے اله حاجت رواسیواستانه اوته ئیے پاك اوزۀ یم دهغه خلقو نه چه اسباب دنجات ورسره کم وی (نوته مِ خلاص کړه)
مختصرداچه هرنبی الله نه دعا غوښتلے ده لکه انبیاء ایت نمبر ۹۰، ﴿اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ﴾ داټول انبیاء علیهم السلام دوی به کوشش کولوپه نیکو کښے او دعا به ئےغوښتله په خوشحالواوغمونوکښے او وو داټول زمونږ نه ویریدونکی
○ اودا استعانت او رامددشه وئیل الله ته، سبب د دخول د جنت دے لکه سورة طورایت نمبر ۲۸، ﴿قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ﴾ وائی به داجنتیان چه مونږ وو د دے نه مخکښ په دنیاکښے ویریدونکی، پس احسان اوکړو الله پاك په مونږباندے او وئی ساتلو دعذاب ګرم نه، دا ولے؟ ځکه چه ، ﴿اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ﴾ وومونږ پخوا په دنیاکښے چه الله به مورامددکولو یعنی وئیل به موچه الله رامددشه ، واه داحسان خاونددہ مهربان، چه په د ے مسئله دے جنت ته راوستلو.
○ اوددے مقابله کښے زجر او تخویف ورکوی الله پاك، هغه چاته چه د الله نه نه غواړی لکه مومن ایت نمبر ٦٠، ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ﴾ دلته عبادتی بمعنٰی دعائی ـ او وئیلی دی رب ستاسوچه ځمانه غواړئ زه درکوم بیشکه هغه کسان چه ځان اوچت اوګنړی زما ددعااورامددشه نه (یعنی ځمانه نه غواړی) نوداخل به ئے کړم جنهم ته

ذليل او خوار.حديث کښې راځی ﴿مَنْ لَّمْ يَسْئَلِ اللّٰهَ يَغْضِبْ عَلَيْهِ﴾. څوك چه دالله نه نه غواړی نوپه هغه دالله غضب دے .يوسالك هم وائی:

اَللّٰهُ يَغْضِبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَهُ وَبَنِى آدَمَ حِينَ يَسْئَلُ يَغْضِبُ

هم دارنګ په قرآن کښې نورالفاظ مترادفه هم راځی چه داستعانت دامعنٰی ورته شامله ده ـ يعنی ددے استعانت دلاندے راځی معنٰی ئے يوه ده نوهغه هم الله پورے خاص دی .لکه نصرت اوفتح لکه ال عمران ايت نمبر ۱۲۶ ﴿وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾ اونه دے امداد،نصرت اوفتح مګرطرفه دالله نه چه زوراوراوحکمت والا دے . دارنګ توکل ال عمران ايت نمبر ۱۵۹، ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ اوخاص په الله باندے دے توکل او بهروسه اوکړی (ځان دے اوسپاری) مومنان .بل دے توفيق لکه سورة هودايت نمبر ۸۸ ، ﴿وَمَا تَوْفِيقِي اِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيبُ﴾ اونه دے توفيق ځما (توفيق ورکول) مګر په الله باندے اوپه ده باندے مِ توکل دے ده ته واپس کيدل زمادی . استعانت هم لکه سوره يوسف ايت نمبر ۱۸ ﴿وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُونَ﴾ اوالله دے مستعان په هغه څه چه تاسوئے بيانوئ دارنګ دعا لکه سورة مومن ايت نمبر ۱۴ ﴿فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُونَ﴾ پس دعاغواړئ چغه وهئ الله ته په داسے حال کښې چه خالص کونکی يئ دے لره الله ته اګرکه بد ئے ګڼړی منکران . نوداټول الفاظ متقاربه دی معنٰی اومطلب ئے يودے ټول استعانت کښې داخل دی.

مطلب داچه که فتح او نصرت غواړی نو د الله نه ،که توکل (ځان سپارے) نوپه الله باندے اوکه توفيق اوستعانت غواړے نوالله نه اوکه دعاغواړی نوهم د الله نه غواړه .

داتهول الله پورے خاص دی ایاك نستعین ·خاص ستانه به ئی غواړو دبل چانه نه·

تردے خوالله پاك استعانت ځان لره ثابتولو-اودا استعانت الله پاك دغیرنه نفی کوی هم اورد کوی پدے چه څما نه سیوابل چامخلوق نوری، ناری، خاکی یعنی فرشتو پیریانو پیغمبرانو اونیکانو بندګانو نه مه غواړئ، هغوی نه شی رارسیدے اونه مدد او استعانت کولے شی بلکه عاجزدی·

﴿وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهٖ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ﴾ هغه کسان چه تاسوورته رامددشه وایئ سیوا دالله نه، هغوی خوطاقت نه لری تاسو سره دامدادکولو (بلکه تاسو څه چه) ځان سره هم امدادنه شی کولے· دارنګ سورة بنی اسرائیل ایت نمبر ٦٥ ·﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِهٖ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا﴾ اووایه چه رامددکړئ هغه کسان چه تاسو پرے ګمان د ے سوا دالله نه ،نه لری اختیاردلر ے کولو دتکلیف ستاسونه اونه داړولو. سورة سباایت نمبر ٢٢ کښے وائی·﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ﴾

اووایه ورته چه رامددکړئ هغه کسان چه ستاسو پرے ګمان دے سیوا دالله نه هغه خومالکان نه دی دذرے برابر نه په زمکه اونه په آسمانونو کښے اونشته دوی لره په دے دواړوکښے څه حصه داری اونشته الله لره په دوی کښے څوك معاون · هرکله چه خپل اختیار ئے هم نشته اوشرکت ئے هم نشته اودالله سره ئے معاونت اوتعاون هم نشته دالله په

کارونو کښې، نوبیاورته ولے رامدد شه وایئ. سورة فاطرایت نمبر ٤٠کښې فرمائی.

﴿قُلْ اَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِي مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا﴾

اووایه ورته چه خبرراکړئ په باره دهغه شریکانو کښې چه تاسو ئے سیوا دالله نه رامدد کوئ نواوښائی ماته (د دوی څه کرشمه دخدائی ) چه څه ئے پیداکړی دی په زمکه کښې؟ ایاشته دوی لره حصه په آسمانونو کښې یادوی لره مونږکتاب ورکړے دے پس دوی دهغے نه په دلیل دی. نه نه بلکه وعده نه کوی ظالمان (مشرکان)خپلوکښې یوبل سره مګر د دهوکے، یعنی اختیار ئے نشته. اوس هم د ے موجوده مشرکانو چغے شروع کړی دی الله ئے پریښودلے دے اودغیرالله (انبیاء او اولیاؤ) نه غواړی.

کله یاعلی مدد،یارسول الله مدداوکله کاکا صاحب اوپیربباته فریادکوی اویاغوث اعظم دستګیرنعرے وهی اواشعارئے جوړکړی دی.

رامددشی لویه ځوانه دبغداد شاهی میرانه مانیولے لمن ستاده.

ستاقدم په هرچابردے دهریوولی په سردے
زوردے ډیردے پهلوانه دبغدادشاهی میرانه

اوالله تعالی فرمائی چه نه نه زورئے نشته رامددګیرې نه ،اوکله وائی

بګرداب بلاافتادکشتی
مددکن یامعین الدین چشتی

اوڅوك وائی – بهاء الحق بیړه دهك (نعوذبالله )

داټول دقرآن دعقیدے نه خلاف دشرك نعرے دی ۰

○ حالانکه شیخ عطارفرمائی ،

دربلایاری مخواه ازهیچ کس
زانکه نبودجزخدا فریاد رس
ازخدا خواه هرچه خواهی اے پسر
نیست در دستِ خلائق خیروشر
غیرحق راهرکه خواند اے پسر
کیست درعالم ازوگمراه تر

○ اوقاضی ثناء الله پانی پتی په ارشادالطالبین کښے لیکی ۰

دعاازاولیائے مردگان وزندگان وانبیاء جائزنیست ،رسول خداصلی الله علیه واله وبارك وسلم فرمود ﴿اَلدُّعَاءُ هُوَالْعِبَادَةُ وَقَرَءَ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِیْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِیْ سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِیْنَ﴾ مخکښی دا خبره تیره شوه چه د یو الله تعالی نه خپل حاجت پوره کوئ، د الله تعالی نه ماسوا بل چا ته اٰواز هم مه کوئ. خو لیکن خلق د نورو (مخلوق) نه سوال او حاجت غواړی . لکه یا علی مد د وئیل ، هم د ارنګ یا رسول الله وئیل . هم دا رنګ لویه ځوانه راؤ رسیږے. او کله نورے مختلف چغے وهلے کیږی. چه هغه شرکی دی او د قراٰن او سنت نه مخالف چغے دی.

حالانکه دغه پیر پیران په خپله په دے باندے رد کوی.

○ شیخ عبد القادر یعنی لوئ ځوان په الفتح الربانی صفحه ۳۸ کښے فرمائی﴿اُطْلُبُوْا حَوَائِجَكُمْ مِنَ الْحَقِّ لَا مِنْ خَلْقِهٖ﴾ یعنی د الله تعالی نه خپل حاجتونه غواړئ ، د مخلوق نه مه غواړئ.

دا رنګ صفحه ۸۰ کښې فرمائي: ﴿اِسْتَغِثْ بِهٖ وَهُوَ الْغَنِیُّ وَالْخَلْقُ كُلُّهُمْ فُقَرَاءُ لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ وَلَا لِغَيْرِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا﴾ يعنې الله تعالى ته خپل فرياد کوه. الله تعالى بې پرواه دے او مخلوق ټول فقيران دي. ځکه چه مخلوق د چا د نفع او ضرر مالکان نه دي.

او دا رنګ په صفحه ۱۱۰ کښې فرمائي ﴿سَلُوْهُ وَلَا تَسْئَلُوْا غَيْرَهٗ وَاسْتَعِيْنُوْا بِهٖ وَلَا تَسْتَعِيْنُوْا بِغَيْرِهٖ وَتَوَكَّلُوْا عَلَيْهِ وَلَا تَوَكَّلُوْا عَلٰى غَيْرِهٖ﴾ يعنې د الله تعالى نه سوال کوئ او د غير نه سوال مه کوئ، او د الله تعالى نه مدد غواړئ او د غير نه مه غواړئ او توکل په الله تعالى باندے اوکړئ او په بل چا باندے توکل مه کوئ.

او په صفحه ۳۳۳ کښې فرمائي ﴿اِسْتَوْصٰى عَبْدُالْوَهَّابِ فَقَالَ عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَطَاعَتِهٖ وَلَا تَخَفْ اَحَدًا وَلَا تَرْجُوْ وَكِلِ الْحَوَائِجَ كُلَّهَا اِلَيْهَا وَاطْلُبْهَا مِنْهُ وَلَا تَثِقْ بِاَحَدٍ سِوَى اللّٰهِ تَعَالٰى اِلَّا عَلَيْهِ سُبْحَانَهٗ ، اَلتَّوْحِيْدَ اَلتَّوْحِيْدَ اَلتَّوْحِيْدَ﴾

يعنې د شيخ عبد القادر جيلاني ځوی دهغه نه وصيت طلب کړو. نو هغه ورته اوفرمائيل چه لازم دي په تا باندے د الله تعالى نه ويره او فرمانبرداری او د بل چانه مه ويريږه او د چانه اميد او توقع مه ساته او ټول حاجتونه الله تعالى ته اوسپاره او د هغه نه حاجتونه غواړه او د الله تعالى نه ماسوا په چا اعتماد مه کوه . او لازم اونيسه په هر حال کښې توحيد د الله تعالى.

- سلطان باهو لوئی پير دے. هغه اشعارو کښې فرمائي

يقين دارم درين عالم که لا معبود الا هو
ولا موجود فی الکونين لا مقصود الا هو
چون تيغ لا بدست اری بيا تنها چه غم داری

مه جواز غیر حق یاری که لا فتاح الا هو

یعنی د الله تعالی نه ماسوا بل څوك معبود نشته او په دواړو عالمو کښې مقصود صرف الله تعالی دے.

او چه د "لا" توره درسره وی نو بیا بل چاته ا وازونه مه کوه ځکه چه مشکل کشا صرف الله تعالی دے.

○ یو لوئے عالم او پیر قاضی ثناء الله پانی پتی رحمة الله علیه په خپل کتاب ارشاد الطالبین کښې فرمائی

(دعا از اولیاء مردګان وزندګان وانبیاء جائز نیست رسول خدا فرمود (**الدعاء هی العبادة**)وانچه جهال ګویند یا شیخ عبد القادر جیلانی شیئًا لله یا خواجه شمس الدین پانی پتی جائز نیست شرك است)

یعنی دعا د اولیاؤ او د انبیاؤ نه غوښتل جائز نه دی ځکه چه رسول الله فرمائی چه دعا د عبادت نچوړ دے او بعضے جاهلان چه د یا شیخ عبد القادر جیلانی او یا خواجه صاحب چغے وهی نو دا جائزنه دی بلکه شرك دے.

○ دارنګ شاه ولی الله رحمة الله علیه حجة الله البالغه صفحه ٤٩ کښې لیکی ﴿**وَمِنْهُمْ كَانُوْا يَسْتَعِيْنُوْنَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فِيْ حَوَائِجِهِمْ مِنْ شِفَاءِ الْمَرِيْضِ وَغِنَاءِ الْفَقِيْرِ وَيَنْذُرُوْنَ لَهُمْ وَيَتَوَقَّعُوْنَ اِنْجَاحَ مَقَاصِدِهِمْ بِتِلْكَ النُّذُوْرِ وَيَتْلُوْنَ اَسْمَاءَهُمْ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا فَاَوْجَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ**﴾ یعنی بعضے د دے خلقو نه(چه مشرکان دی) هغه څوك دی چه په خپلو ضروریاتو کښې د الله تعالی نه ماسوا ته چغے وهی لکه مریض له شفاء ورکول او د فقیر مالداریدل او د دوی نذرونه منی او په دے باندے د هغوی نه د حاجتونو پوره کیدو توقع ساتی او د هغوی نومونه د برکت د پاره اخلی نو الله تعالی په داسے خلقو باندے دا واجب

کړل چه دا به وائی چه خاص تاله عبادت کوو او خاص تانه مدد غواړو.

○ دارنګ په بل کتاب تفهیمات الٰهیه دویم جلد صفحه ٤٥ کښے فرمائی ﴿مَنْ ذَهَبَ اِلٰى بَلْدَةِ اَجْمِيرٍ اَوْ اِلٰى قَبْرِ سَالَارِ غَازِي اَوْ مَا ضَاهَاهَا لِاَجْلِ حَاجَةٍ يَطْلُبُهَا ثَمَّهَا فَقَدْ أَثِمَ اِثْمًا اَكْبَرَ مِنَ الْقَتْلِ وَالزِّنَا﴾ یعنی که څوك اجمیر بابا یا سالار بابا له حاجت پوره کولو د پاره ځی نو ده د قتل او د زنا نه هم غټه ګناه اوکړه.

○ شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه په رد د شرك باندے مستقل کتا ب تقویة الایمان کښے لیکلی دی.

○ او مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه په خپل کتاب تعلیم الدین صفحه ١٤ اور بهشتی زیور صفحه ٢٧ کښے لیکی چه "کسی کو دور سے پکارنا اور یہ سمجھنا کہ اس کو خبر ہوگی، یہ شرک ہے"

○ اوعلامه محمدطاهر الفتنی په مجمع البحارص ٧٣ ج٢ کښے لیکی!
﴿وَمِنْهُمْ مَنْ قَصَدَ بِزِيَارَةِ قُبُوْرِ الْاَنْبِيَاءِ وَالصُّلَحَاءِ اَنْ يُصَلِّيَ عِنْدَ قُبُوْرِهِمْ وَيَدْعُوَ عِنْدَهَا وَيَسْأَلُهُمُ الْحَوَائِجَ وَهٰذَا لَايَجُوْزُ عِنْدَ اَحَدٍ مِّنْ عُلَمَاءِ الْمُسْلِمِيْنَ فَاِنَّ الْعِبَادَةَ وَطَلَبَ الْحَوَائِجِ وَالْاِسْتِعَانَةَ حَقُّ اللّٰهِ وَحْدَهٗ﴾ بعضے خلق دانبیاؤ اونیکانو قبرونوته په دے قصدځی چه ددوی قبرونوسره مونځ اوکړی اوهلته دعاء اوغواړی اوددوی نه خپل حاجتونه وغواړی نودا د مسلمانانو د هیڅ عالم په نزدجائزنه دی ځکه چه عبادت اوطلب دحاجاتو اومددغوښتل یواځے دالله حق دے.

قرآن کریم کښے هم دا مضمون ذکر دے.

○ سورة اعرا ف ایت نمبر ١٩٧ کښے فرمائی: ﴿وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَا اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ﴾ او هغه کسان چه تاسو

ورته چغے وهئ نو هغوی ستاسو مدد نشی کولے او نه د خپل ځان مدد کولے شی.

دارنګ سورة فاطر ایت نمبر ٤٠ کښے فرمائی﴿**قُلْ اَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِي مَا ذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ**﴾ یعنی ستاسو شریکان نه په زمکه څه کولے شی او نه په اسمانونو کښے ورله څه شرکت شته او نه ورله مونږ څه کتاب ورکړے دے په جوازددے شرك.

**د شرك رد:** شرك چه دالله نه غیررامددکولے شی دومره لویه ګناه ده چه الله تعالی پرے پنځه فتوے لګوی.

(١) اوله فتوی دا چه دا ظالم دے.

سورة یونس ایت نمبر ١٠٦ کښے فرمائی:﴿**وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ**﴾ یعنی د الله تعالی نه ماسیوا بل څوك رابلل ظلم دے.

(٢) دویمه فتوی ئے پرے د ګمراهی لګولے ده.

سورة احقاف ایت نمبر ٥ کښے فرمائی:﴿**وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ**﴾ یعنی د الله تعالی نه ماسیوا بل څوك رابلل ګمراهی ده.

(٣) دریمه فتوی پرے د کفر لګوی.

سورة رعد ایت نمبر ١٤ کښے فرمائی:

﴿**لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ**﴾ یعنی د الله تعالی نه ماسیوا بل چاته چغے وهل دکافرکاراو کفر دے.

(٤) څلورمه فتوی دا ده چه دا شرك دے .

سورة فاطر ایت نمبر ١٤ كښے فرمائی:﴿ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِينَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيرٍ اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ﴾ یعنی د الله تعالی نه ماسیوا بل څوك رابلل شرك دے.

(٥) پنځمه فتوی پرے د ارتداد لګوی.

سورة انعام ایت نمبر ٧١ كښے فرمائی:﴿قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَالَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدَانَا اللّٰهُ﴾ یعنی د الله تعالی نه ماسوا بل څوك رابللو سره انسان مرتد کیږی. نو د ایا ك نستعین مطلب دا وو.چه د الله تعالی نه ماسوا بل څوك مدد ګار نشته. په یو حدیث كښے نبی کریم معاذ ته اوفرمائیل ﴿يا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِى مَا حَقُّ اللّٰهِ عَلَى عِبَادِهٖ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ فَقُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَقَالَ فَاِنَّ حَقَّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ اَنْ يَعْبُدُوْهُ وَلَا يُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ اَن لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا﴾ یعنی اے معاذ! آیا تاته د الله تعالی په بنده او د بنده په الله تعالی باندے د حق پته لګی؟ نو هغه عرض اوکړو چه الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږی. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه حق د الله تعالی په بنده باندے دا دے چه دے به د الله تعالی سره څوك شریك نه جوړوی او حق د بنده په الله تعالی باندے دا دے چه جنت ته به ئے داخلوی. نو دا حق دالله تعالی دے چه الله تعالی ته به چغه وهے. او الله تعالی فرمائی: ﴿وَاَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا﴾ یعنی جوماتونه د الله تعالی دی نو الله تعالی سره پکښے بل څوك مه رابله.

## اهدنا الصراط المستقيم:

د دے ځائے نه اوس دريمه حصه د دے سورت شروع کيږی. او پدے کښے تعليم د دعا او بيا به د دريو فرقو ذکر وی. او پدے کښے الله تعالی ته خپله عاجزی ښکاره کول دی او دا عقيده ساتل دی چه عاجزی به هم تالره خاص کوو.

## ربط:

(۱) د نجات درے اسباب دی.

يو خدائی او الوهيت په الله تعالی پورے خاص کول۰ دويم بندگی الله تعالی لره خاص کول۰ دريم استعانت هم الله تعالی سره خاص کول۰ نو کله چه دا درے واړه څيزونه الله تعالی سره خاص کړے نو اوس د دغے اسبابو باندے د قائم پاتے کيدو او د استقامت د پاره د الله تعالی نه دعاء غواړی.

(۲) بل ربط ئے علامه بيضاوی رحمة الله عليه بيان کړے دے چه کله انسان الله تعالی ته خپله عاجزی ذکرکړی نو الله تعالی سره انسان مقام د قربت ته اورسی نوپه مقام دقربت کښے درخواست پکار وی نو معمولی درخواست به نه کوے.بلکه اعلی درخواست به کوے. نو اوبه وائی چه ﴿اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ﴾ يعنی صراط مستقيم راته راکړه. دا هم د الله تعالی احسان دے چه د غوښتلو څيز ئی هم اوښودلو. فرمائی ﴿اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ﴾ وړومبے د دے معنی دا ده چه: اوښايه مونږ ته نيغه لاره. دويمه معنی دا ده: روان کړه مونږ په نيغه لار باندے. دريمه معنی دا ده چه: کلک کړه مونږه په نيغه لار باندے. په وړومبے معنی دا اعتراض راځی چه الله تعالی خو مونږ ته نيغه لاره ښودلے ده چه هغه هم دا قرآن دے.بل دا چه تردے ځائے دالله توحيداو واحدانيت بيان او وا

ضح شو، نو ولے داهدایت نه دے څه، چه بیاهدایت غواړے؟ نواصل کښے دلته دا دویمه او دریمه معنی مراد ده.

## د هدایت د لفظ تحقیق:

اهدنا د هدایت نه ماخوذ دے او دا په دریو طریقو سره په قرآن کښے مستعمل دے. کله دویم مفعول ته په واسطے د حرف جر سره متعدی کیږی او کله بغیر د واسطے نه. دلته بغیر د واسطے نه ذکر دے. بیا کله دا دویم مفعول ته په واسطے د لام سره متعدی شی. د هغے مثال په سورت بنی اسرائیل کښے ذکردے . الله تعالی فرمائی ﴿اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ یَهْدِیْ لِلَّتِیْ هِیَ اَقْوَمُ﴾ یعنی دا قرآن دهدایت مضبوطه لاربنائی. او کله په واسطے د الی سره استعمالیږی. لکه سورة بقرة ایت ۲۱۳ کښے ذکر دی: ﴿وَاللّٰهُ یَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾ او کله بغیر دواسطے نه ذکر کیږی.لکه ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ﴾ او سورة فتح ایت نمبر ۲ کښے ذکر کوی چه ﴿وَیَهْدِیَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا﴾ نو حاصل معنی ئے دا شوه چه کله په واسطه سره وی. نو معنی ئے اراءة الطریق ده یعنی لار ښودل. او کوم ځائے کښے چه بلا واسطه وی نودهغے معنی ایصال الی المطلوب ده یعنی مقصد ته رسول. خو چونکه دلته بلا واسطه ذکر دے د دے وجے نه ددے معنی ایصال الی المطوب ده، یعنی مقصد ته رسول.نومطلب دا شو د اهدناالصراط المستقیم،چه الله مونږ مقصودته اورسوه.

## د هدایت مراتب:

هم دا رنګ هدایت په نورو ګنړو معنو استعمال شوے دے لکه علامه سیوطی رحمة الله علیه په الاتقان کښے شل معانے ذکر کړی دی. خو عام طور ترینه اووه معنے استعمالیږی. یعنی د هدایت اووه مرتبے دی.

(۱) اوله مرتبه د هدايت،هدايت عامه اوهدايت فطرى ده. يعنى د پيدائش سره انسان ته الله تعالى فطرى ښودنه كوى. لكه دماشوم دمور پئ رودل وغيره. او دا هدايت الله تعالى ټول مخلوق ته كوى. لكه طه اٰيت ۵۰ كښے هم راځى. او يا د دے نه مراد فطرت د اسلام دے. لكه چه حديث كښے راځى: ﴿كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ---الخ﴾

(۲) دويمه مرتبه د هدايت،هدايت بواسطة الحواس ده. يعنى د حواسو ظاهريه اوباطنيه په ذريعه هدايت اوپيژندګلو. لكه سورة الاعلى ايت نمبر ۳ كښے راځى چه ﴿اَلَّذِىْ قَدَّرَ فَهَدٰى﴾ الله هغه ذات دے چه مخلوق ئے په اندازه پيدا كړو او هدايت ئے ورته اوكړو.

(۳) دريمه مرتبه د هدايت هداية بالعقل ده.يعنى قوت عاقله وركول. دے ته اشاره په سورة اعراف ايت نمبر ۱۰۰ كښے او طه ايت نمبر ۱۲۸ كښے شوے ده.

(٤) څلورمه مرتبه د هداية دلائل د الله تعالى دى. په اطرافودعالم كښے دلائل عقليه پيداكول چه حق معلوم شى. او دا سورة بلد ايت نمبر ١٤ او سورة ليل ايت نمبر ۱۲ وغيره كښے راځى.

(۵) پنځمه مرتبه د هدايت په واسطے د انبياؤ سره ده.يعنى كتابونه انبياء راليږل اودحق داعيان پيداكول. دا په سورة رعد ايت نمبر ۷ او سورة الم سجده ايت نمبر ٢٤ اٰيت كښے ذكر ده.

(٦) شپږمه مرتبه د هدايت ثبات او دوام په دين دے. په حقه لاړيوخوالے اوكلكوالے وركول. دا په سورة عنكبوت ايت نمبر ٦٩ او سورة فتح ايت نمبر ۲ كښے ذكر ده.

( ۷ ) اوومه مرتبه جنت ته داخلول دی،د ے ته ثمرة التوحید او ثمرة الهدایة هم وائی. دا په سورة اعراف ایت نمبر ٤٣ کښے بیان شوے دے.
﴿وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلّٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ﴾ او دا مرتبے بیا په څلورو منازلو کښے جمع کیږی.

( ۱ ) یو لار ښودل . ( ۲ )دویم روانول.

(۳)دریم مقصد ته رسول.( ٤)څلورم مقصد حاصلول او کامیابیدل.

دلته ترینه دا څلور واړه معنے مراد کیدے شی. مطلب دا چه که لار دے راته نه وی ښودلے نو لار راته اوښایه او بیا مِ پرے اوچلوه او مقصد ته مِ پرے اورسوه او کامیاب مِ کړه او په دغه کامیابئ باندے مِ کلك کړه. او دا کلکوالے او استقامت ځکه ضروری دی چه نبی کریم د دے د پاره دعا ګانے غوښتلے دی.

او ملا علی قاری فرمائی چه :﴿اَلۡاِسۡتِقَامَةُ فَوۡقَ اَلۡفِ كِرَامَةٍ﴾ یعنی استقامت د زرو کرامتونو نه هم اوچت دے.

نو مراد د هدایت نه کلکول او استقامت دے او دا کار صرف الله تعالی کولے شی.

نو په دے کښے دا عقیده جوړول دی چه دا کار غیرنه شی کولے بلکه الله تعالی ئے کولے شی.

سورة قصص ایت نمبر ٥٥ کښے الله تعالی نبی کریم علیه السلام ته فرمائی:﴿إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ﴾ یعنی ته حق ته نه شے رسولے هغه چالره چه ستا خوښ وی بلکه الله تعالی چه څوك اوغواړی نو ورته هدایت کوی او الله تعالی په

لار موندونکو باندے عالم دے.دا رنګ سورة یونس ایت نمبر ۳۵ کښے هم فرمائی .

مفسرین هم د(اهدنا) معنی په دے ډول کوی.

د ابن عباس نه ابن جریر نقل کړی دی ﴿أي وَفِّقْنَا لِلثُّبَاتِ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ یعنی مونږ ته توفیق د ثابت قدمئ راکړه په نیغه لاره باندے. ابن کثیر معنی کوی ﴿اِسْتَمِرَّبِنَا﴾ یعنی مونږ پرے همیشه اوساته. او علی رضی الله عنه فرمائی﴿ثَبِّتْنَا عَلٰى الصِّرَاطِ الْمُسْتَقِيمِ﴾ یعنی مونږ کلك کړه په نیغه لاره باندے. او مدارك والا فرمائی ﴿اِهْدِنَا فِي الْاِسْتِقْبَالِ كَمَا هَدَيْتَنَا فِي الْحَالِ﴾ یعنی مونږ ته په راروانه زمانه کښے هدایت اوکړه لکه څنګه چه دے راته په اوس وخت کښے هدایت کړے دے.

## الصراط:

صراط لارے ته وائی او مستقیم هغه لارے ته وائی چه کوږوالے پکښے نه وی. او صراط مستقیم هغے لارے ته وائی چه افراط او تفریط پکښے نه وی. دے ته سبیل الله او طریق مستقیم هم وئیلے شوے دے.

- لکه سورة احقاف ایت نمبر ۳۰ کښے راځی﴿يَهْدِيْ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ یعنی الله تعالی حق طرف ته لاره ښائی او نیغے لارے ته هدایت کوی.
- دا رنګ دین قیم هم ورته وئیلے کیږی لکه سورة یوسف ایت نمبر ۴۰ کښے راځی ﴿اَمَرَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِيَّاهُ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ﴾ یعنی الله تعالی حکم کړے دے چه د الله تعالی نه ماسوا به د بل چا عبادت نه کوئ. دا مضبوط دین دے.

دلته ئے صراط مستقیم ولے ذکر کړو؟

دلته مراد هغه لار ده چه حدونه ئے هم د شریعت موافق وی او دا معنی په صراط مستقیم کښے وه نو ځکه ئے ذکر کړه. صراط مستقیم نه څه مراد دے ؟ نو ځوك وائی چه دین اسلام ته وائی او ځوك وائی چه طریق الانبیاء ته وائی. معالم التنزیل کښے ئے ذکر کړی دی ﴿طَرِيقُ رَسُوْلِ اللّٰهِ﴾ او ځوك د صحابو لارے ته هم وائی.

## د صراط مستقیم مصداقات په قرآن کښی:

قرآن ئے خپله تفسیر کوی.او د هغے پنځه مصداقات ذکرکوی. یعنی قرآن په پنځو طریقو سره د صراط مستقیم تشریح کړے .

( ١) یو کامل دین او احکام الهیه ته صراط مستقیم وائی. لکه سورة انعام ایت نمبر ١٥١ کښے الله تعالی فرمائی﴿ قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ رَبُّكُمْ اَنْ لَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ مِنْ اِمْلَاقٍ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ﴾

او بیا فرمائی﴿وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيمِ اِلَّا بِالَّتِي هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا﴾

او بیا فرمائی﴿وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهٖ﴾ مطلب دا چه شرك نه کول ، د موراو پلار سره احسان کول، او اولاد نه وژل ، او بے حیائی ته نه نزدے کیدل، او قتل نه کول، او د یتیم مال نه ضائع کول ، او ناپ تول په انصاف سره کول ، او د عدل او انصاف نه کار اغستل او لوظونه پوره کول، دا ټول شرعی احکام دی او په دے باندے عمل کول صراط مستقیم دے.

دین دوه څیزونه دی.

یو تعظیم د خالق او دویم شفقت علی المخلوق.نوپه دے ایاتونوکښے دا دواړه خبرے ذکردی چه سوچ په کښے اوکړے شی. نو دے پوره دین ته الله تعالی صراط مستقیم اووئیلو.

**( ۲ ) دویم مصداق:** توحیداوعبادت د الله تعالی

لکه سورة ال عمران ایت نمبر ٥١ او سورة مریم ایت نمبر ٣٦ او سورة ابراهیم ایت نمبر ٦١ او سورة زخرف ایت نمبر ٦٤ کښے دامضمون ذکر دے.

په اٰل عمران کښے د عیسی علیه السلام تقریر دے. ﴿اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ﴾ یقینا الله تعالی رب زما او رب ستاسو دے نو د الله تعالی عبادت اوکړئ دا نیغه لاره ده.

**(۳ ) دریم مصداق:** تابعدارئ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وائی ـ لکه سورة یس ایت نمبر ٤ او صافات ایت نمبر ١١٨ او سورة زخرف ایت نمبر ٤٣ کښے دا ذکر دی.

سورة یس ایت نمبر ١ تا ٤ کښے فرمائی﴿یٰسٓ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِیْمِ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾

سورة زخرف ایت نمبر ٤٣ کښے فرمائی ﴿فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِیْ اُوْحِیَ اِلَیْكَ اِنَّكَ عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾ یعنی پیغمبره ته په صراط مستقیم یئے نو چه څوك ئے تابعداری اوکړی نو هغه هم په صراط مستقیم شی.

سورة زخرف ایت نمبر ١٦ کښے فرمائی ﴿وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ﴾

**(٤ ) څلورم مصداق:ـ** قراٰن پاك ته وائی.

لکه سورة انعام ایت نمبر ۱۲٦ کښې فرمائی ﴿وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ﴾ نو دا صراط مستقیم دے ټولو معانیو ته شامل دے.

## داعی د صراط مستقیم؟

داعی د صراط مستقیم نبی کریم صلی الله علیه وسلم او تابعداران د هغه دی.

لکه سورة مومنون ایت نمبر ۷۳ کښې فرمائی ﴿وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ یعنی اے نبی کریم صلی الله علیه وسلم ! ته خلقو لره صراط مستقیم ته رابلے.

دا رنګ سورة یوسف ایت نمبر ۱۰۸ کښې فرمائی ﴿قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ یعنی اووایه ورته اے پیغمبره! چه دا زما لار ده او زه دے ته خلق رابلم په حکمت او بصیرت سره ځه او څما تابعداری کونکی او پاك دے الله تعالی او ځه نه یم د مشرکانو نه.

نو دے دواړو ایتونو کښې د داعیانو ذکر اوشو. په وړومبی ایت کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم او په دویم کښې ورسره تابعداران هم ذکردی. مطلب دا چه دعوت پیغمبری کار دے.

**اوړیدونکے د صراط مستقیم نه:** اوړیدونکی د صراط مستقیم نه څوك دی؟

نو سورة المومنون ایت نمبر ۷٤ کښې فرمائی﴿وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ﴾ یعنی څوك چه په اٰخرت باندے ایمان نه ساتی نو هغوی د نیغے لارے نه اوړیدونکی دی.

## مانعین د صراط مستقیم ؟

دا په حم سجده ایت نمبر ۲٦ کښې راځي ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ﴾ او وائی کافران چه قرآن مه اورئ او شور جوړوئ د دے د پاره چه تاسو غالب شئ.

هغه مانعین څوك دی؟

○ اول شیطان دے.

لکه سورة اعراف ایت نمبر ١٦ کښې فرمائی﴿قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ یعني شیطان اووئیل چه په سبب د گمراه کولو ستا ماله څه به اولاد د آدم علیه السلام ته په نیغه لاره کښې کینم. سورة نمل ایت نمبر ٢٤ کښې هم دغه مضمون ذکر دے.

○ دویم غلط مشران او لیډران دی.

لکه سورة احزاب ایت نمبر ٦٧ کښې فرمائی﴿وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا﴾ یعني جهنمیان به وائی چه مونږه د خپلو سردارانو او مشرانو تابعدارئ گمراه کړی یو.

○ دریم ناکاره پیران او مولیان دی.

لکه سورة توبه ایت نمبر ٣٤ کښې فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾ یعني ناکاره مولیان او پیران د خلقو مالونه په باطله طریقه خوری او خلق د نیغے لارے نه منع کوی. په دے آیت کښې د سبیل الله نه مراد صراط مستقیم دے.

عبد الله بن مبارك فرمائی

وَهَلْ أَفْسَدَ الدِّينَ إِلَّا الْمُلُوكُ

وَأَحْبَارُ سُوءٍ وَرُهْبَانُهَا

یعني دین لره بادشاهانو،ناکاره مولیانو او ناکاره پیرانو تباه وبرباد کړو.

○ څلورم عام مشرکان دی.

لکه سورة اعراف ایت نمبر ٨٦ کښې فرمائی: **وَلاَ تَقْعُدُواْ بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا وَاذْكُرُواْ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلاً فَكَثَّرَكُمْ وَانظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ.**

○ پنځم ظالمان دی.

سورة اعراف ایت نمبر ٤٥، ٤٦ کښې فرمائی: **فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ اللّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجاً وَهُم بِالآخِرَةِ كَافِرُونَ.**

## دا صراط مستقیم په څه حاصلیږی ؟

اوس دا صراط مستقیم حاصلیږی په څه؟ نو دا حاصلیږی په قرآن او په توحید سره، لکه سورت نساء ایت نمبر ١٧٥ کښې فرمائی: **فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا.** دارنګ مائده ایت نمبر ١٦ کښې فرمائی: **يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلاَمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنِ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ.** او د صراط مستقیم تابعداری نه کول ګمراهی ده لکه سورت انعام ایت نمبر ١٥٤ کښې فرمائی: **وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلاَ تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ**

## صراط الذین انعمت علیهم......... الخ

دا بدل الکل دے د مخکښې الصراط المستقیم نه.

او په دے کښے اشاره ده دوؤ خبرو ته چه د وحی په دے لار،دوه صفتونه ملاویږی یو استقامت او بل خصوصی نعمت .

**ربط:**

مخکښې ئے د صراط مستقیم بیان اوکړو نو اوس ئے نښه او علامه ذکر کوی. یعنی منعم علیهم (چه په دے لار مخکښې خلق تلے دی)

دویمه دا چه مخکښې دصراط مستقیم ذکر اوشو نو په هغے کښے به تکالیف راځی نو اوس دلته تسلی ورکوی چه تکالیفو سره به درباندے انعامات هم کیږی.

دریمه دا چه صراط مستقیم کښے د ملګری ضرورت وی نو تسلی ورکوی چه په دے کار کښے دے نور ملګری هم شته دے چه په دے لار تلی دی هغه منعم علیهم دی.

څلورمه دا چه په دنیا کښے هرسړے د صراط مستقیم دعوے کوی نو معیار د صراط مستقیم الله تعالی اوښودلو چه دغه منعم علیهم منئ او تابعداری ئے کوئ. او رد شو په مبتدعینو، شیعه ګانو او جاهله صوفیانو باندے. بعضے جاهله صوفیاء وائی چه شریعت او طریقت جدا جدا څیزونه دی. او دوی وائی چه طریقت کښے مونځ فرض نه دے. علامه ابن قیم رحمة الله علیه په مدارج السالکین کښے د صحیح پیرانو اقوال نقل کړی دی چه دا دواړه شریعت او طریقت جدا جدا څیزونه نه دی. هم دا رنګ علامه آلوسی رحمة الله علیه هم په بحث د خضر علیه السلام کښے دا ذکرکړی دی. په مدارج السالکین کښے د جنید بغدادی قول نقل کوی چه ورته رأس الطائفه وئیلے کیږی. هغه به فرمائیل چه: ﴿عِلْمُنَا هٰذَا مُقَيَّدٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ فَمَنْ لَّمْ يَحْفَظِ الْقُرْاٰنَ

وَيتَّبِعِ الْحَدِيثَ وَلَمْ يتَفقَّه لَا يُقْتَدٰى بِهٖ﴾ يعنى مونږ دا هر څه د قرآن او سنت په رڼړا کښے ا زده کړی دی نو چاته چه قرآن نه وی یاد او د حديثو اتباع نه کوی او فقاهت پکښے نه وی نو د هغه اقتداء مه کوئ. یو بل عالم وائی ﴿كُلُّ حَقِيقَةٍ لَا تَتَّبِعُ شَرِيعَةً فَهِيَ كُفْرٌ﴾ يعنى هر حقيقت چه د شريعت موافق نه وی نو هغه کفر دے .

ابو قاسم نصر قلا بادی فرمائی﴿وَاَصْلُ هٰذَا الْمَذْهَبِ مُلَازَمَةُ الْكِتَابِ وَالسُنَّةِ وَتَرْكُ الْاَهْوَاءِ وَالْبِدْعَةِ﴾ يعنى اصل د دے مذهب د صوفياؤ د قرآن او سنت اتباع ده او خواهشات او بدعات پريخودل دی.

نو صراط مستقيم کښے د پیغمبر او د هغه د تابعدارانو تابعداری لازم ده.

او علامه ابن قیم په مدارج السالکین صفحه ۷۲ او ۷٤ کښے ليکلی دی﴿فَسَّرَ السَّلَفُ الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ بِاَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَاَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ فَاِنَّهٗ صِرَاطُهُمُ الَّذِي كَانُوْا عَلَيْهِ وَهُوَ عَيْنُ صِرَاطِ نَبِيِّهِمْ﴾ يعنى سلف صالحينو د صراط مستقيم تفسير په ابوبکر، عمر او صحابؤ سره کړے دے. او بیا ۷٤ کښے فرمائی﴿فَقَدْ تَبَينَ اَنَّ الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ طَرِيقُ اَصْحَابِهٖ وَأَتْبَاعِهِمْ وَطَرِيقُ اَهْلِ الْغَضَبِ وَالضَّلٰلِ طَرِيقُ الرَّافِضَةِ﴾ يعنى دا خبره واضحه شوه چه صراط مستقيم لاره د صحابؤ او د تابعينو ده او لاره د غضب او د گمراهئ والو د روافضو لاره ده. مشكوة کښے د عبد الله بن عمر نه یو روایت نقل دے﴿لَيَأْتِينَّ عَلٰى اُمَّتِي كَمَا اَتٰى عَلٰى بَنِي اِسْرَاۤئِيلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتّٰى اِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ اَتٰى اُمَّهٗ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِي اُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَالِكَ وَاِنَّ بَنِي اِسْرَاۤئِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰى ثِنْتَينِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ اُمَّتِي عَلٰى ثَلَاثٍ وَّسَبْعِينَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ اِلَّا مِلَّةً وَّاحِدَةً قَالُوْا مَنْ هِيَ يا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ مَا اَنَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِي﴾ يعنى ځما په امت به هم د بنی اسرائيلو په شان

حالات راځي تردے چه که چرته په هغوی کښې چا د مور سره بدفعلي کړې وي نو زما په امت کښې به هم داسے اوشي او بنی اسرائیل په دوه اوویا فرقو کښے تقسیم شوی وو او ځما امت به په درے اوویا فرقو کښے تقسیمیږی. سیوا د یوے فرقے نه نور ټول به په اور کښے وی.نو صحابو تپوس اوکړو چه دا به څوك وی اے د الله تعالی رسوله! نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه څوك چه ځما او ځما دصحابو په لار وی.

نو لار ره د نبی او د صحابو صراط مستقیم ده.

## د انعمت علیهم تعبیرونه:

انعام او نعمت دیته وائی چه په چا باندے احسان کولو کښے ذاتی مفاد نه وی. په دے کښے د مفسرینو ګڼر اقوال دی خو مونږ به ئے په قرآن کښے اوګورو. لکه سورة ابراهیم ایت نمبر ٣٤ کښے فرمائی: ﴿وَاِنۡ تَعُدُّوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ لَا تُحۡصُوۡهَا﴾ یعنی که تاسو د الله تعالی نعمتونه شمارل غواړئ نو نه ئے شئ شمارلے.

سورة نحل ایت نمبر ٥٣ کښے فرمائی﴿وَمَا بِكُمۡ مِّنۡ نِّعۡمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ﴾ یعنی په تاسو چه څومره نعمتونه دی نو دا د الله تعالی د طرف نه دی.

یو سوال راغے چه بیا خو دا کافرانو ته هم شامل شو؟

نو جواب ترینه دا دے چه نعمتونه په دوه قسمه دی.یو دنیوی او دویم اخروی.او دنیوی کښے بیا څه خاص او څه عام دی. نو مومن ته به اخروی نعمتونه حاصل وی. او په دنیا کښے خاص نعمتونه هم مومن سره خاص دی. امام بیضاوی فرمائی چه د رذائلو پاك کیدل انعام دے. او فراء بغوی فرمائی چه ﴿بِالۡهِدَايَةِ وَالتَّوۡفِيۡقِ﴾ یعنی تا په دوی په هدایت او توفیق سره انعام کړے دے . او عکرمه فرمائی﴿بِالۡاِيۡمَانِ

وَالْاِسْتِقَامَۃِ﴾ یعنی تا په دوی په ایمان او استقامت سره انعام کړے دے . او ابن قیم فرمائی چه ﴿بِنِعْمَۃِ الْاِسْلَامِ وَالسُّنَّۃِ﴾ یعنی الله تعالی پرے انعام کړے دے په نعمت د اسلام او سنت سره.

## د قران کریم نه د منعم علیهم مصداقات

قرآن کریم پنځه مصداقات ښودلے دی.

- یو عام انبیاء کرام لکه سورة مریم ایت نمبر ۵۸ کښے راځی. ﴿اُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ اَنْعَمَ اللّٰہُ عَلَیْہِمْ مِّنَ النَّبِیّٖنَ مِنْ ذُرِّیَّۃِ اٰدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ وَّمِنْ ذُرِّیَّۃِ اِبْرٰہِیْمَ وَاِسْرَآءِیْلَ﴾ یعنی دا هغه کسان دی چه الله تعالی احسان کړے دے په هغوی باندے د نبیانو نه چه اولاد دآدم علیه السلام دے او د هغے نه چه مونږ سواره کړی وو په کشتئ کښے د نوح سره او د اولاد د ابراهیم او د اسماعیل علیهما السلام نه.
- دویم خاص خاص انبیاء کرام دی. لکه سلیمان علیه السلام په سورة نمل ایت نمبر ۱۹ کښے . موسی علیه السلام په سورة قصص ایت نمبر ۱۷ کښے. یونس علیه السلام په سورة قلم ایت نمبر ۳۹ کښے. عیسی علیه السلام په سورة زخرف ایت نمبر ۵۹ کښے. نبی کریم صلی الله علیه وسلم په سورة قلم ایت نمبر ۲ کښے.
- دریم منعم علیهم عام صحابه کرام دی. لکه سورة آل عمران ایت نمبر ۱۷٤ او ۱۰۳ کښے. ﴿فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِہٖٓ اِخْوَانًا﴾ یعنی تاسو په نعمت د الله تعالی سره ورونړه ورونړه شوئ. او ایت نمبر ۱۷٤ کښے فرمائی﴿فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَۃٍ مِّنَ اللّٰہِ وَفَضْلٍ لَّمْ یَمْسَسْہُمْ سُوْٓءٌ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰہِ﴾
- څلورم خاص صحابی زید

لکه سورة احزاب ایت نمبر ۳۷ کښے فرمائی﴿وَإِذۡ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَأَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِ أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ﴾ یعنی کله چه تا هغه کس ته اووئیل چه الله تعالی او تا پرے انعام کړے وو. چه څان سره خپله بی بی اوساته.

○ پنځم مصداق ئے شهداء دی.

لکه په سورة اٰل عمران ایت نمبر ۱۷۱ کښے فرمائی: ﴿يَسۡتَبۡشِرُونَ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ یعنی دوی یو بل ته په نعمتونو او فضل د الله تعالی باندے زیرے ورکوی او الله تعالی د مومنانو اجر نه ضائع کوی.

او دا ټول ئے بیا په یو اٰیت کښے راجمع کړی دی.

لکه سورة نساء ایت نمبر ٦٩ کښے فرمائی ﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا﴾ یعنی چا چه د الله او د رسول تابعداری اوکړه نو د دوی حشر به د نبیانو،صدیقینو، شهداؤ او صالحانو سره کیږی چه په دوی باندے الله تعالی انعام کړے دے.

په النبیین کښے عام او خاص ټول پیغمبران داخل شو. او په شهداء کښے شهیدان او په صدیقین او صالحین کښے عام او خاص صحابه کرام داخل شو. نو دا پنځه قسمه شو.

هم دا رنګ په دے اٰیت کښے رد دے په هغه کسانو باندے چه څوك پیغمبرانو، صحابو او سلفو ته غلط نسبتونه کوی او بدے ردےورته وائی.

## کتاب الله او رجال الله:

هم دا رنګ د صراط مستقیم نه دا معلومه شوه چه صراط مستقیم د دوؤ ځیزونو مجموعه ده. یو کتاب الله او دویم رجال الله. الصراط المستقیم کښې کتاب الله ته اشاره ده او صراط الذین انعمت علیهم کښې رجال الله ته اشاره۰

دلته ئې صراط القرآن چه مختصرجمله ده ذکر نکړه بلکه الصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم اوږده جمله ئې ذکر کړه او صراط الرسول ئې ځکه اونه وئیلو چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ژوندااو بقا همیشه په دنیا کښې نه وه اوبل پیغمبرهم نه راتلو نوځه داسې خلق ئې وریکښې شامل کړل چه دقیامت پورې موجود وی، هروخت کښې لکه صدیقین شهداء صالحین ۰ اوصراط القرآن ئې ځکه اونه وئیلو چه صرف کتاب دانسانی تربیت دپاره کافی نه دے ځکه چه دانسان تعلیم او تربیت محض په کتابونو او روایتونونه کیږی بلکه دماهرینو صحبت اودهغوی نه زده کړه پکارده یعنی حقیقت کښې دانسان معلم اومربی هم انسان کیدے شی محض کتاب معلم اومربی نشی کیدے بقول اکبراله آبادی ،

*کورس تو لفظ ہی سکھاتے ہیں آدمی آدمی بناتے ہیں*

مثال سړے ډاکټر او انجیئر وغیره محض دکتابونوپه مطالعه نه جوړیږی نودین اوقرآن او حدیث به بغیر د استاد څنګه زده کړے شی اوسړے به پرے څنګه پوهه شی ۰ نومعلومه شوه چه دانسان دکامیابئ اوفلاح اوصلاح دپاره دوه ځیزونه ضروری دی (۱) کتاب الله چه په کښې دزندګئ دهرے شعبے احکام موجود دی۰

(۲)رجال الله :چه دقرآن او سنت په اصولو پوره رجالونه دکتاب الله صحیح مفهوم او عمل واخستلے شی ـ دغه وجه ده چه خلقو کښې

افراط او تفریط اواختلاف ددے وجے نه پیداکیږی چه څوك صرف کتاب الله کافی ګنړی لکه قادیانان ،پرویزیان ، غیرمقلدین وغیره اوڅوك صرف رجال الله پسے روان شی لکه شیعه ګان، بدعتیان وغیره نوپس صراط مستقیم دکتاب الله او رجال الله دمجموعی نه ملاویږی ۰

سورۃ انعام ایت نمبر ۹۰ کښے فرمائی ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ یعنی دا هغه کسان دی چه الله تعالی ورته هدایت کړے دے نو د دوئ په لاره باندے روان شه.

## غیر المغضوب علیهم الخ

دا بدل دے د الذین انعمت علیهم نه. یا دا صفت موضحه یا مادحه دے دمنعم علیهم. نو د دغه کسانو دلته دوه صفتونه بیان شوی دی. یو انعام او بل د غضب او ګمراهئ نه بچ کیدل. او پدے کښے اشاره ده دے طرف ته چه د مومن ایمان به بین الخوف والرجاء وی. یعنی انعامات به هم راځی خو د غضب او ګمراهی والا لارو نه به هم ځان ساتی. او په اشارۃ النص سره ترینه درے ډلے هم معلومے شوے. یو منعم علیهم ، دویم مغضوب علیهم او دریم ضالین. او مغضوب علیهم په صیغے د مجهول سره ذکر کولو کښے تعمیم طرف ته اشاره ده.

لکه سورۃ بقره ایت نمبر ۱۶۱ کښے فرمائی﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾ یعنی هغه کسان چه د کفر په حالت کښے مړه شول نو په دوی باندے به د الله تعالی ، د فرشتو او د ټولو خلقو لعنت وی.

نو په دے اٰیت کښے غضب او لعنت عام دے.

## غضب څه ته وائی؟

غضب په دوه قسمه دے. یو د انسان په صفت کښے راځی. دویم د الله تعالی په صفت کښے راځی. چه کله د انسان په صفت کښے ذکر شی نو انتقام ترینه مراد وی. او چه کله د الله تعالی په صفت کښے ذکر شی نو په معنی د لعنت سره راځی. اوس مغضوب علیهم څوك دی په قرآن کښے دغضب اسباب بیان شوی دی چرته چه هم لفظ دغضب یالعنت قرآن کښے ذکر وی دهغے نه مخکښ ورستو به څه صفات بیان شوی وی هغه د غضب اسباب دی او دغه خلق مغضوب علیهم دی.

## اسباب د غضب:

۱. تبدیل نعمة الله ۲. انکار من اٰیات الله

۳. قتل الانبیاء ٤.عصیان الله ٥.د الله حدود نه تیریدل

دے پنځه واړو اسبابو ته په بقره ایت نمبر ٦١ کښے اشاره شوے ده. لکه فرمائی: وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نَصْبِرَ عَلَى طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

٦. کفر بالقراٰن عنادا

داپه سورة بقره ایت نمبر ٩٠ کښے ذکر دے. ﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ فَبَآءُوْا بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ﴾

٧. د الله د دین نه نفرت کول او حق ته غلط وئیل.

لکه په سورة مائده ایت نمبر ٦٠ کښې فرمائی﴿قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِنْ ذَالِكَ مَثُوبَةً عِنْدَ اللّٰهِ مَنْ لَعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ﴾

٨. میدان جنګ پریخودل .

لکه په سورة انفال ایت نمبر ١٦ کښې فرمائی﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ) نو چا چه تیخته اوکړه نو الله تعالی فرمائی﴿فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللّٰهِ﴾

٩. په الله باندے دروغ وئیل.

لکه په سورة اعراف ایت نمبر ١٥٢ کښې فرمائی: إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ

١٠. جدال موحدینو سره په نومونو د خپلو باطلو معبودانو کښې.

لکه په سورة اعراف ایت نمبر ٧١ کښې فرمائی﴿قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ﴾

١١. دالله په باره کښې جګړے.کول:لکه په سورة شوری ایت نمبر ١٦ کښې فرمائی: وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾

١٢. په الله بدګمانی کول: لکه په سورة فتح ایت نمبر ٦ کښې

﴿وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللَّهِ ظَنَّ السَّوْءِ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾

١٣. مرتد کیدل ،لکه په سورة نحل ایت نمبر ١٠٦ کښې.

﴿مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ وَلَكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾

۱۴. انکار من البعث کول لکه په سورة ممتحنه ایت نمبر ۱۳ کښې
﴿يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا مِنَ الآخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ﴾

۱۵. د پیغمبر د وعدے نه خلاف کول لکه په سورة طه ایت نمبر ۸۶ کښې
﴿فَرَجَعَ مُوسَى إِلَى قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا قَالَ يا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَوْعِدِي﴾

۱۶. طغیان فی رزق الله.کول لکه په سورة طه ایت نمبر ۸۱ کښې
﴿كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَلا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَى﴾

۱۷. قتل عمد د مومن کول لکه په سورة نساء ایت نمبر ۹۳ کښې.
﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾

نو دا اسباب د غضب دی.

## ولا الضالین:

ضلالت په عربئ کښے په ګنړومعنوسره راغلے دے. په معنی د بربادیدو،پټیدو،هیریدو،ورکیدل ،غورځیدل ، تلل، مرګ ،دفن او جهل ته هم وائی. (لسان العرب ،قاموس )

ضلالت په شرع کښے د حق نه اوړیدل خواه که قصدا وی او که خطأً وی.

## اسباب د ضلالت:

۱. په پیغمبر دروغ وئیل.

لکه په سورة نساء ایت نمبر ۱۱۳ کښے فرمائی ﴿وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ لَهَمَّتۡ طَّآئِفَةٌ مِّنۡهُمۡ اَنۡ يُّضِلُّوۡكَ وَمَا يُضِلُّوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡفُسَهُمۡ﴾

۲. شرك كول

لکه په سورة نساء ایت نمبر ۱۱٦ کښے فرمائی: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغۡفِرُ اَنۡ يُّشۡرَكَ بِهٖ وَيَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ يَّشَآءُ وَمَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيۡدًا﴾ او بیا فرمائی ﴿اِنۡ يَّدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا﴾ د اناث نه مراد مړی دی.

محمد بن عبد العزیز مبرد په خپل کتاب الکامل کښے فرمائی چه (الموات) یعنی د دے نه مراد مړی دی.

۳. کفر کول لکه په سورة نساء ایت نمبر ۱۳٦ کښے فرمائی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا.

٤. د ایمان په بدله کښے کفر اغستل لکه په بقره ایت نمبر ۱۰۸ کښے فرمائی: أَمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِنْ قَبْلُ ۗ وَمَنْ يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ

٥. په علم عمل نه کول لکه په سورة نساء ایت نمبر ٤٤ کښے فرمائی: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُونَ الضَّلَالَةَ وَيُرِيدُونَ أَنْ تَضِلُّوا السَّبِيلَ.

۶. د خپل خواهش تابعداری کول لکه سورة انعام ایت نمبر ۵۶ کښے قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۚ قُلْ لَا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ.

۷. په نبی باندے لعن طعن کول لکه په سورت بنی اسرائیل ایت نمبر ۴۷ او ۴۸ کښں فرمائی: نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰ إِذْ يَقُولُ الظَّالِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا

۸. د الله او د رسول نافرمانی کول لکه سورة احزاب ایت نمبر ۳۶ کښے فرمائی: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ﴿٣٦﴾

۹. غلو فی الدین کول لکه په سورة مائده ایت نمبر ۷۷ کښے فرمائی ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا﴾

۱۰. د الله تعالی د لارے نه خلق منع کول لکه سورة نساء ایت نمبر ۱۶۷ کښے فرمائی: إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ قَدْ ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١٦٧﴾

۱۱. د اکثریت تابعداری کول لکه په سورة انعام ایت نمبر ۱۱۶ کښے فرمائی : ﴿وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾

۱۲. د الله د رحمت نه نا امیدی ښکاره کول لکه په سورة حجر ایت نمبر ۵۶ کښے فرمائی: قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ ﴿٥٦﴾

۱۳.　د غیرالله نه مدد غوښتل لکه په سورة احقاف ایت نمبر ۵ کښې فرمائی: ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيبُ لَهٗ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ﴾

۱۴.　د دین د دشمنانو سره دوستی کول لکه سورة ممتحنه وړومبے ایت کښې فرمائی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي تُسِرُّونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنْتُمْ وَمَنْ يَفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿۱﴾

۱۵.　په اٰخرت باندے دنیا غوره کول لکه په سورة ابراهیم ایت نمبر ۳ کښې فرمائی: الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿۳﴾

۱۶.　د زړه سختیدل لکه په سورة زمر ایت نمبر ۲۲ کښې فرمائی: أَفَمَنْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَى نُورٍ مِنْ رَبِّهِ فَوَيْلٌ لِلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿۲۲﴾

۱۷.　د قیامت په باره کښې شك او جګړه کول لکه په سورة شوری ایت نمبر ۱۸ کښې فرمائی: يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿۱۸﴾

دا ټول د ضلالت اسباب دی. نو معنی د اٰیت عام ده یعنی چاکښې چه هم دا اسباب موجود وی .دا اٰیت هغه ته شاملیږی.

## د مغضوب علیهم او ضالین مصداقات:

السراج المنير والا فرمائی چه وړومبے ښکاره کفر کونکو او دویم پټ کفر کونکو ته وائی. امام رازی فرمائی چه وړومبے د عمل خرابئ او دویم د عقیدے خرابیدلو ته وائی. ابن کثیر فرمائی چه وړومبے سره د علم نه ګمراه کیدلو او دویم بغیر دعلم نه ګمراه کیدلو ته وائی. او سره د علمه ګمراه کیدل په قرآن کښے هم مذکور دی.

سورة جاثیة ایت نمبر ۲۳ کښے فرمائی﴿**اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً**﴾ یعنی آیا تا لیدلی دے هغه کس چه خپل خواهشات ئے اِله ګرځولے دے او سره د علم نه ګمراه دی او الله تعالی ئے په زړونو او په غوږونو مهر وهلے دے او په سترګو ئے پردے دی.

او په سورة شوری ایت نمبر ۱٤ کښے د جاهلانو د عدم عمل ذکر دے فرمائی ﴿ **وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًاۢ بَيْنَهُمْ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ**﴾ یعنی د علم نه روګردانی ئے د ضد د وجے نه کوله .

دا رنګ بعضے مفسرینو فرمائیلی دی چه د وړومبی نه مراد عنادی کافران دی او د دویم نه مراد جهلی کافران دی. دارنګ د وړومبی نه مراد هغه دی چه تفریط کوی او د دویم نه مراد افراط کونکی دی.

د ترمذی یو مرفوع روایت دے چه نبی کریم علیه السلام فرمائی چه د وړومبی نه مراد یهود دی او د دویم نه مراد عیسایان دی. خو دا ئے صرف د تمثیل د پاره وئیلی دی. نبی کریم علیه السلام دا د دے جملے تفسیر نه دے ذکر کړے بلکه دا ئے بطور مثال وئیلی دی. او په یهودو الله تعالی عموما غضب ذکر کړے دے. لکه سورة بقره ایت نمبر ٦١

کښې فرمائی﴿وَبَاءُوْٓا بِغَضَبٍ مِنَ اللّٰهِ﴾ يعنی په غضب کښې اخته شول. او د ضلالت اطلاق په سورة مائده ۷۷ کښې شوے دے. الله تعالی فرمائی﴿قُلْ يَاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِي دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَضَلُّوْا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ﴾ يعنی اے اهل کتابو په دين کښې غلو مه کوئ او تابعداری د داسے قوم مه کوئ چه په خپله هم ګمراه دی او نور هم ګمراه کوی او پخپله هم د نيغے لارے نه ګمراه دی.

هم دا رنګ قرآن د غضب او د ګمراهئ اسباب ښودلی دی.نو چه دغه اسباب او علامات په چا کښې هم وو.نو هغه به هم هغه رنګ وی لکه چه مخکښې ذکر شو.

او دا معنی شاه ولی الله محدث دهلوی هم په الفوزالکبير کښې کړے ده . فرمائی ﴿فَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰى اَنْمُوْذَجَ الْيَهُوْدِ فَانْظُرْ اِلٰى عُلَمَاءِ السُّوْءِ مِنَ الَّذِيْنَ يَطْلُبُوْنَ الدُّنْيَا وَقَدْ اِعْتَادُوْا تَقْلِيْدَ السَّلَفِ وَ اَعْرَضُوْا عَنْ نُصُوْصِ الْقُرْاٰنِ وَالسُّنَّةِ وَتَمَسَّكُوْا بِتَعَمُّقِ عَالِمٍ وَتَشَدُّدِهٖ وَاِسْتِحْسَانِهٖ فَاَعْرَضُوْا عَنْ كَلَامِ الشَّارِعِ الْمَعْصُوْمِ وَتَمَسَّكُوْا بِاَحَادِيْثَ مَوْضُوْعَةٍ وَتَاوِيْلَاتٍ فَاسِدَةٍ كَانَتْ سَبَبَ هَلَاكِهِمْ﴾ يعنی که په دے دور کښې د يهوديانو نمونه کتل غواړے نو هغه ناکاره موليانو ته اوګوره چه دنيا پسے ګرځی او قرآن او حديث ئے پريښولے دے.

او بيا په ايت نمبر ۴۹ صفحه ليکی چه

﴿وَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰى اَنْمُوْذَجًا لِهٰذَا الْفَرِيْقِ (النصارىٰ) فَانْظُرِ الْيَوْمَ اِلٰى اَوْلَادِ الْمَشَايِخِ وَالْاَوْلِيَاءِ وَمَا يَظُنُّوْنَ بِاٰبَائِهِمْ فَتَجِدُهُمْ قَدْ اَفْرَطُوْا فِي اِجْلَالِهِمْ كُلَّ الْاِفْرَاطِ وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا اَىَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُوْنَ﴾ او که د نصاری

نمونه کتل غواړئ نو ځامنو د پیرانو او اولیاء کرامو ته اوګورئ چه هر څه ئے په پلارانو پورے تړلی دی.

او صفحه ۲۲ کښے فرمائی :﴿ وَاِنْ كُنْتَ مُتَوَقِّفًا فِي تَصْوِيرِ حَالِ الْمُشْرِكِينَ فَانْظُرْ اِلٰى حَالِ الْعَوَامِ وَالْجُهَلَاءِ﴾ او كه چرته د مشركانو تصویر لیدل غواړئ نو جاهلانو او عوامو ته اوګورئ. او بیا فرمائی چه ﴿وَيَذْهَبُوْنَ اِلَى الْقُبُوْرِ وَالْاٰثَارِ وَيَرْتَكِبُوْنَ اَنْوَاعًا مِّنَ الشِّرْكِ﴾ چه قبور او اٰثارو د اولیاء کرامو پسے ګرځی او د ډیر قسمه شرکونو ارتکاب کوی.﴿فَاِنَّ طَرِيقَةَ اَهْلُ الْاِيمَانِ مشتملة عَلَى الْعِلْمِ بِالْحَقِّ وَالْعَمَلِ بِهِ ،وَالْيَهُوْدُ فَقَدُوْا الْعَمَلَ وَالنَّصَارٰى فَقَدُوا الْعِلْمَ وَلِهٰذَا كَانَ الْغَضَبُ لِلْيَهُوْدِ وَالضَّلَالُ لِلنَّصَارٰى (لِاَنَّ مَنْ عَلِمَ وَتَرَكَ الْعَمَلَ اِسْتَحَقَّ الْغَضَبَ بِخِلَافِ مَنْ لَّمْ يَعْلَمْ وَالنَّصَارٰى لَمَّا كَانُوْا قَاصِدِينَ شَيْئًا لٰكِنَّهُمْ لَايَهْتَدُوْنَ اِلٰى طَرِيقِهِ لانهم لم ياتوا الامر من بابه وهو اتباع الرسول الحق ضلوا- و كل من اليهود والنصارى ضال مغضوب عليه لكن اخص اوصاف اليهود الغضب كما قال تعالىٰ عنهم (من لعنه الله و غضب عليه) و اخص اوصاف النصارى الضلال كما قال تعالىٰ عنهم (قد ضلوا من قبل و اضلوا كثيرا و ضلوا عن سواء السبيل)﴾(ابن کثیر )

**غرائب سورة الفاتحه:** غیر المضغوب علیهم والاالضالین نه معلومه شوه چه انبیاء اوفرشتے دګناه نه پاك دی ځکه چه لار ے دوه دی په عقائدو کښے یوحق بل باطل **فَمَاذَا بَعْدَالْحَقِ اِلا الضلَالُ** (یونس ) نوحق د منعم علیهم سره دے نوکه ددے نه واوړیدے نوګمراهی ده ګناه ده اوعصیان دے نوانبیاء اوفرشتے نه مغضوب دی چه سره دعلم ئے ګناه کړی وی اونه ضالین چه بےدعلم نه ئی کړی وی نه قبل النبوت ولا بعدها.

ابن جریر: فِیْهِ رَدٌّ عَلٰی قَوْلِ الْاِمَامِیَّهِ ،رد د شیعو قرآن وائی ولاالضالین ګمراه نه وو.

**امین :** دا د سورة فاتحے نه بعد وئیل سنت دی.

امام قرطبی یو روایت نقل کړے دے چه نبی کریم فرمائی ﴿**اِنَّ اللّٰهَ اَعْطٰی اُمَّتِیْ ثَلَاثًا لَمْ تُعْطَ اَحَدًا قَبْلَهُمْ اَلسَّلَامُ وَهُوَ تَحِیَّةُ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَصُفُوْفُ الْمَلَائِکَةِ وَاٰمِیْنُ اِلَّا مَاکَانَ مِنْ مُوْسٰی وَهَارُوْنَ**﴾ یعنی الله تعالی زما امت لره درے داسے خیزونه ورکړی دی چه نورو امتونو له ئے نه دی ورکړی یو سلام د جنت والو دے او صفونه د فرشتو دی او اٰمین دے مګر(امین)صرف موسی او هارون علیهما السلام له ئے ورکړے وو.

او د ابن ماجه په روایت کښے راځی ﴿**مَا حَسَدَتْکُمُ الْیَهُوْدُ عَلٰی شَئٍی مَّا حَسَدَتْکُمْ عَلَی السَّلَامِ وَالتَّامِیْنِ**﴾ یعنی یهودیان تاسو سره د سلام او امین نه علاوه په بل څه باندے دومره بغض نه ساتی.

او بل یو قول کښے راځی ﴿**فَاَکْثِرُوْا مِنْ قَوْلِ اٰمِین**﴾ یعنی د امین قول ډیر ډیر وایئی.

او په روایت د بخاری او دمسلم کښے د ابوهریره نه نقل دی﴿**وَاِذَا اَمَّنَ الْاِمَامُ فَاَمِّنُوْا فَاِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَامِیْنُهُ تَامِیْنَ الْمَلَائِکَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ**﴾ یعنی چه کله امام اٰمین اووائی نو تاسو ئے هم اووائی ځکه چه د چا امین د فرشتو د امین سره یوځائے شو نو الله تعالی به ورته تیر شوی ګناهونه اوبخښی .

امام قرطبی فرمائی چه اٰمین د دعا د پاره پشان د مُهر دے.

د اٰمین معنی مفسرینو دا کړے ده ﴿**اَللّٰهُمَّ اِسْتَجِبْ دُعَائِی**﴾ یعنی اے الله تعالی ! ځما دا دعا قبوله کړه.

او ابن عباس نه روایت دے چه ما د نبي کریم علیه السلام نه تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه د دے معنی (رَبِّ اِفْعَلْ) ده.

## د امین بالجهر او بالسر په اولویت کښې اختلاف:

د دے دواړو په مشروعیت کښې د چا اختلاف نشته صرف په اولویت کښې اختلاف دے . نو د امام ابوحنیفه مذهب دا دے چه بالسر اولیٰ دے. مسند احمد ٤ جلد ٣١٦ کښې د وائل بن حجر نه روایت دے﴿**صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ فَلَمَّا قَرَءَ غَيرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ قَالَ اٰمِينُ وَاَخْفٰى بِهَا صَوْتَه**﴾ یعنی مونږ ته رسول الله مونځ اوکړو او چه کله ئے غيرالمغضوب علیهم ولا الضالین ولوستلو نو اٰمین ئے اووئیلو او دے باندے ئے اٰواز ورو کړو.

دا روایت په دار قطني اول جلد ٣٣٩ کښې هم دے او په کتاب د ابوداود طیالسي کښې دا روایت په دے الفاظو سره دے﴿**وَخَفَضَ بِهَا صَوْتَه**﴾ د ابراهیم نخعي نه روایت دے چه عمر رضی الله عنه فرمائی چه څلور څیزونه به امام په قلاره وائی﴿**اَلتَّعَوُّذُ وَبِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وَاٰمِينُ وَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ**﴾ کنزالعمال جلد ٨ او صفحه ٢٧٤

## د اولویت وجوهات:

یو دا چه امام بخاري په صفحه ١٠٧ صفحه باندے د امام عطاء قول نقل کړے دے چه (اٰمِينُ دُعَاءٌ) آمین دعاده او دعاء کښې اصل اخفاء ده نو اٰمین به څکه په مزه وائی. دارنګ الله تعالی فرمائی﴿**اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً**﴾ یعنی د الله تعالی نه دعا په زارئ او په ورو غواړئ.

نور هم ډیر دلائیل دی خو د قلتِ وقت د وجے او د طوالت د ویرے مو ذکرنه کړل.

امام ابن قیم رحمه الله دسورة فاتحه لنډ تفسیر اوخلاصه څه داشان ذکر کوی فرمائی چه هرانسان کښے دوه قوتونه اواستعدادونه دی( ۱ ) قوتِ علمی (نظری)( ۲) اوقو تِ عملی (ارادی) اودانسان پوره سعادتمندی اونیك بختی ددے دوه قوتونو په کمال باندے موقوف ده۰

دقوت علمی کمال په(۱ ) معرفت دالله تعالی ( ۲)اوپه معرفت داسماؤ اوصفاتو دالله ،( ۳) اوپه معرفت دهغه لارے چه انسان پرے الله ته رسی ( ٤ )اوپه معرفت د افتونوددے لارے ( هغه آفات چه الله ته په رسیدو کښے رکاوټ جوړیږی چه دهغے نه ځان بچ کړی) (٥ ) اوپه معرفت دخپل نفس اوپه معرفت دعیبونودنفس سره حاصلیږی (پدے معارفِ خمسه سره په قوت علمی کښے کمال راځی اوپه انسانانوکښے دټولو نه لوئ عالم هغه دے چه پدے معارفو زیات پوهه لری) اودقوت عملی کمال پدے حاصلیږی چه بنده دهغه حقوق الله خیال اوساتی چه کوم په بنده دالله دپاره لازم دی (اوپه اخلاص اوپه صدق اوخیرخواهی اوپه طریقے داحسان سره اوپه متابعت دنبی کښے هغه ادا کړی اودالله دنعمت استحضارپه ځان باندے کولوسره اوپدے خیال چه مادالله په حقوقو کښے تقصیراوکوتاهی کړے ده) دالله حقوق اداکړی نودابنده ددغه خدمت (دادائیګئ دحقوقو)باوجوددالله سره دمخامتیانه شرمیږی (دوجے دقصورنه )ځکه چه دده علم وی چه ماهغه څه نه دی اداکړی دکوم څه چه الله مستحق دے۰

اوچه دده داعقیده وی چه ددے دوه قوتونوکمال دالله دمعاونت نه بغیر نشی حاصلیدے نودے همیشه الله ته محتاج وی، چه ده ته الله تعالی دهغه صراط مستقیم هدایت اوکړی په کوم چه الله خپل خاص اولیاء روان کړی دی ۔ اوددے لارے نه د اوړیدو نه ئے بچ اوساتی۰ دصراط مستقیم نه اوړیدل خویاپه قوت علمی کښے په فسادراتلوسره کیږی چه

انسان په ضلالت کښے واقع شی اویاپه قوت عملی کښے په فسادراتلوسره راځی چه په نتیجه کښے ئے انسان دغضب مستحق شی.
حاصل داچه دانسان کمال اوسعادت ددے مجموعه امورونه بغیر نشی راتلے اوسورة الفاتحه دے ټولو لره متضمن ده (او داپه کښے ذکر دی).ځکه چه ایت ۱ تا۴ کښے اصلِ اول ذکر دے چه هغه معرفت درب اومعرفت د اسماؤ اوصفاتو اوافعالو دالله دے.
اوایت نمبر ۵ کښے معرفت دهغے لارے (چه الله ته پرے رسائی کیږی) ذکر دے، چه هغه خالص دالله عبادت (په هغه طریقه چه دالله خوښه وی اوالله پرے رضا وی )اودالله نه دالله په عبادت کولو استعانت اومددغوښتل دی .(دتوفیق )
او ایت نمبر ٦ کښے دا ذکر دی چه سعادتمندی په صرط مستقیم باندے داستقامت نه بغیرنه حاصلیږی اواستقامت دالله دهدایت نه بغیر نه حاصلیږی لکه څنګه چه دالله عبادت دالله دمددنه بغیرنشی کیدے دارنګ په صراط مستقیم باندے استقامت دالله دهدایت کولو نه بغیر نه حاصلیږی. اوغیرالمغضوب علیهم والاالضالین کښے دصراط مستقیم نه د انحراف دوه طرفونه ذکردی چه یوطرف دانحراف ضلالت دے چه هغه په علم (اواعتقاد)کښے په فسادراتلو سره راځی اودویم طرف دانحراف غضب دے چه دهغے سبب فساددقصداواراده (اوعمل) دے.
نودسورة فاتحے اول رحمت او اوسط ئے هدایت اواخرئے نعمت دے.

اوبنده ته دالله دنعمت حصه په مقداردهدایت حاصله وی(یعنی چه څومره انسان دهدایت په اعلی درجه وی نوهغه هومره نعمت پرے ډیروی ) اوهدایت په قدردرحمت وی (یعنی چه څومره په یوانسان دالله رحمت وی نوهغه هومره هغه په هدایت وی) نوخبره ټوله دالله نعمت اورحمت ته راګرځی (یعنی اصل څیزدالله نعمت اورحمت دے چه په

چاوشی نوهدایت ورته حاصل شی) اونعمت او رحمت د ربوبیت لوازم د ی نوالله تعالی نه دے مګر رحیم اومنعم ،اومنعم اورحیم کیدل دالله د الٰهیت تقاضاده (چه کوم ذات منعم او رحیم وی نوهم هغه اله کیدے شی) نوصرف الله حق الٰه دے اګر که منکرین ترے انکار کوی اومشرکین ورسره نورشریکوی. بیاابن قیم رحمه الله فرمائی:﴿ **فَمَنْ تَحَقَّقَ بِمَعَانِي الْفَاتِحَةِ عِلْمًا وَعَمَلًا وَحَالًا فَقَدْ فَازَ مِنْ كَمَالِهِ بِأَوْفَرِ نَصِيبٍ وَصَارَتْ عُبُوْدِيَتُهُ عُبُوْدِيَةِ الْخَاصَّةِ الَّذِينَ اِرْتَفَعَتْ دَرَجَتُهُمْ عَنْ عَوَامِ الْمُتَعَبِّدِينَ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ** ﴾ [**الفوائد**] یعنی څوك چه په سورة الفاتحه باندے دعلم او د عمل په لحاظ سره پوره اوختلو نوهغه دخواصو په شان شو چه کوم دعامو عبادت ګذارو نه په درجه کښے اوچت دی.

**فائده:** امام ابن قیم فرمائی چه دے سورت کښے دالله رب العزت داسماء حسنٰی اصول ذکر دی چه هغه الله، رب او رحمٰن دی ځکه چه اسم دالله متضمن دے ټولوصفاتو دالوهیت لره اواسم درب متضمن دے ټولو صفاتو د ربوبیت لره اواسم درحمٰن متضمن دے ټولو صفاتو داحسان او جودلره اودالله رب العزت دټولو اسماؤ معانی رجع هم دے دریوته ده (الفوائد)

## خلاصه دمضامینو د سورة فاتحه:

(۱) دعوی دتوحیدالحمدلله [ایت:۱ ]

(۲) په دعوٰی دتوحیددرے عقلی دلائل [ایت:۱،۲،۳]

(۱) الله دمخلوق پرودګارپالونکے دے، رب العالمین [ایت:۱]

(۲) الله لوئ رحمٰن اورحیم دے، الرحمٰن الرحیم [ایت:۲]

(۳) دبدلے دورځے مالك هم الله دے،مالك یوم الدین [ایت:۳]

(٤) دعقلی دلائلوثمره ، ایاك نعبد[ایت:٤]

(٥) د دلائلو د ثمرے تفسیرواياك نستعین [ایت:٤]

(٦) دعقیدے دپوخوالی او دربط القلب دپاره ددعاء تعلیم ،اهدناالصراط المستقیم [ایت:٥]

(٧) ددریوډلولنډ(اجمالی)بیان

(١) منعم علیهم صراط الذین انعمت علیهم [ایت:٦]

(٢) مغضوب علیهم غیرالمغضوب علیهم [ایت:٦]

(٣) ضالین – ولاالضالین – [ایت:٦]

په سورة الفاتحه کښے دتوحیدایتونه

(١) نفی شرك فی الاستقامة والدعاء: **بسم الله ،وایاك نستعین**

(٢) نفی الشرك فی العلم والتصرف – الحمدلله – (کارسازی اوغیب دانی الله تعالی پورے خاص دی)۰

(٣) نفی الشرك فی العبادة – **ایاك نعبد**

(٤) نفی الشرك فی التصرف – اهدنا(هدایت ورکول دالله تعالی په اختیارکښے دی )

**تمت بالخیر**